Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړنې:

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتــاب نــوم : (تعليم الاسلام) ديني ښوونې

ليــکـــــــوال : مفتي کفايت الله رحمه الله

ژبــــــــاړه : حبيب الله قاسمي

کــــمــــپـــوز : محمدابراهيم نبيل

دچـــاپ کـــال : 1383 ل تله، 2004 ستمبر

دچـــاپ ځـــاى : لاهور – پاکستان

خــپـــروونــکـــي : نفيس علمي ټولنه اکوړه خټك دارالعلوم حقانيې ته مخامخ دسيد احمدشهيد مکتبي ترخنگ

تليفون : 0092-3335199088 _ 0092-3005778253

دمــونــدلــو درکـــونــه:

پيښور: سرحد بك ايجنسي خيبربازار، دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي ، مکتبه روضۍ القرآن ، مکتبه رشيديه ، قصه خوانى ، مکتبه سيداحمد شهيد اکوړه خټك.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ:

دخپل ځورېدلي او نيمه خوا اولس هغو کمکيانو ته!

چې زياتره يې له ليك لوست بې برخې دي او برخمن يې بيا له ديني ښوونو محروم دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرندو يې ټولنې ياد ښت

مورږ له وړکتوبه خپلو کمکيانو ته داخبره ورزده کوو چې : داسلام بناوې (ارکان) پنځه دي ، ستاسې په لاس کې کتاب په همدې هکله څه دپاسه (670) پوښتنې په ډيره ساده اوداسې روانه ژبه ځوابوي چې راښکون لري او ديني پوهه تاندوي.

په اوس وخت کې زمونږ دکمکيانو اوځوانانو له ديني ښوونو ناخبري اوله هغو سره لاپروايي پټه خبر نه ده ، ځکه خو دامهال ددغه ډېر کتابونو لوستل ، کمکيانو اوځوانانوته ترپخوازيات اړين اوارزښتمن ښکاري.

کوچنيانواولويانوته دزده کړې اولوست لپاره دپښتو داوسني ليکدود له معيارسره سم دديني کتابونو برابرول دنفيس علمي ټولنې (چې يوه آزاده، ناپيلې، اسلامي، علمي اوفرهنګي ټولنه ده) ترټولو ستره هيله ده، بلکې دهمدې موخې دلاسته راوړلو په مقصديې دبنسټ ډېره اينبودل شوې ، زمونږ هيله له ميندو، پلرونو اومشرانو څخه داده چې داکتاب پر خپلو کمکيانو نه يواځې ولولي بلکې داملا په ډول يې پرې هم وليکي، څويې له يوه پلوه املا زده شوي وي اوله بل لوري به يې دکتاب ديني مسئلې په ذهن کې دڅوند ترپايه ناستې وي، همداهيله مو دافغاني مکتبونو اوليسوله مشرانو څخه هم ده چې نوموړی کتاب په خپل نصاب کې داخل کړي.

ټولنه له تاسې سره ژمنه کوي چې په نږدې راتلونکي کې به (که خدای کول) ددې لړۍ يو بل کتاب د (ديني ښوونه) په نامه چې څو تنو افغاني علماوو دوه لسيزې دمخه په ګډه دسږو اوميرمنو لپاره ليکلی اودعقايدو، عباداتو اواخلاقو درې بيلابيلې ګټورې برخې لري له نويو زياتونو اوسمونو سره يو ځای خپورکړي.

دياددولو وړ ده چې ټولنې دغه ډېر دنوروګټورو کتابونو دژباړې ترڅنګ د (معارف القران) تفسير په ژباړه هم لاس پورې کړی ، اوس نوداهرڅه په تاسې کيږي چې څومره په خپلو لورينو، رغوونکو لارښوونو دټولنې کارونه تاند اوچټک ساتيْ، په تلو تلو کې له ټولو هغودوستانو اوملګرومننه کوو چې ددې کتاب په بشپړولو اوخپراوي کې يې راسره زيار ايستلی، په ځانګړې توګه دسعودي عربستان له مسافرورور الحاج عبدالحنان نه يو جهان مننه کوو چې ددې کتاب دخپرولولپاره يې ټولنې ته په ورين تندي پور ورکړ.

سوکاله اونيکمرغه اوسئْ!

دنفيس علمي ټولنې له خوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیری

تعلیم الاسلام یا (دیني ښووني) دمولانا مفتي کفایت الله صاحب هغه اثردی چې دهند په نیمه وچه او ورته څېرمه پرتو نورو هیوادو پاکستان اوافغانستان کې یې شهرت ترهرچارسیدلی ، اوس دپښتو ژبې ته په نوې بڼه ژباړل شوی ،دنفیس خپروندویه علمي ټولنې له خوا خپورشوی

کتاب په عام ډول هرچاته اوپه خاص ډول نوي ځوان کول ته ډیرګټور دی چې په ډیر ساده او روان انداز کې دژوند په هره برخه کې ټول ضروري احکام دسوال اوځواب په بڼه له ځان سره لري ، دغو ارزښتونو ته په پام سره میندو اوپلرونو ته ښایي چې ددیني مسؤلیت له مخې یې پرخپلو اولادونو هلکانو اوانجونو دلوستلو ګټورې پایلې اونېکمرغه راتلونکې ولوروي .

(دیني ښوونې) له پورته ښېګڼو سره سره له نني مروج اوښکلي صحافت څخه هم بې برخې نه دی . چې ترډېره حده دپښتو لیکدود په معیاربرابردی.

یو نامتو هندی لیکوال ددې کتاب دارزښت په اړه لیکي

اّه ..! په رښتیاهم خدایه ! موږ درته ګرم یو اولادونه او تنکی ځوان نسل مودخپلې لاپروایي له امله له دیني ښوونوبې برخې اوناخبره دی، په رڼو سترګو یې وینو چې ورځ تربلې د خپل خواږه پیغمبر ﷺ له لارې سره نابلده کیږي اوپه نورو لاروسردي اودتعجب ځای خودادی چې لاهم دډیروپلرونو، میندو اومشرانو سرددیني ښونوپه ارزښت اواړتیا خلاص نه دی.

خوږومیندو! پلرونو! اومشرانو!......که چیرته نن هم دخپلو اولادونو ددیني روزنې غم ونه خورو بیابه یې کله او څه وخت خورو ؟ .... راځئ ګرانو ! .... خپل کمکی ځوان نسل ستاسې په لاس کې کتاب په لوستلودین له ضروري احکامو خبر کړو اوکه چیرته ددې کتاب یوه یوه کرښه پرې داملایه ډول ولیکۍ یو خو به یې املا زده شي له بلې خوا به یې ددې کتاب هره مسئله دژوند ترپایه په ذهن کې ناسته وي اودتجربې خبره ده چې ددغه ډول بزرګانو په لاس کښلي کتابونه که چیرته په ماشومانو و لوستل شي په اَینده کې یې له دیني بې لارۍ (انحراف) ژغوري ....."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ برخه

بســـــم الله الرحـــــمن الـــــرحـــيم

نحمدالله العلى العظيم ونصلي على رسوله الكريم:

پـوښتـــــنه :ته څوك يې ؟

ځـــــواب :مسلمان.

پـوښتـــــنه :د مسلمانانو د مذهب (دين) نوم څه دی ؟

ځـــــواب :اسلام.

پـوښتـــــنه :اسلام څه ښونه کوي ؟

ځـــــواب :اسلام داښوونه کوي چې : خدای تعالی يودی دبندګۍ لايق يواځې هغه دی ، حضرت محمد ﷺ دالله تعالی بنده او رسول دی، قران کريم دخدای تعالی کتاب دی، اسلام رښتينی دين دی،د دنيا او اخرت ټولې ښېګنې اونېکې خبر ې اسلام ښايي.

پـوښتـــــنه : داسلام کلمه کومه ده ؟

ځـــــواب :داسلام کلمه داده :

لاالِـهَ اِلااللهُ مُـحَمّـَدٌ رَّسُولُ اللهِ

ژباړه : له خدای تعالی نه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمدﷺدالله ﷺ رسو ل دی ، دې کلمې ته کلمه طيبه اوکلمه توحيد وايې .

پـوښتـــــنه :دشهادت کلمه کومه ده ؟

ځـــــواب : دشهادت کلمه داده :

اَشهَـدُ اَنَ لا الـهَ الا اللهُ وَحـدَهُ لاشَـرِيكَ لَـهُ وَاَشهَـدُ اَنَ مُـحَـمَّداًعَـبدُه و رَسُولُه

زه شاهدي ورکوم چې دالله ﷻنه پرته بل خدای دعبادت وړ نشته هغه يو دی سيال نه لري، اوداشاهدي ورکوم چې محمد ﷺ يې بنده او رسول دی.

پـوښتـــــنه :ايمان مجمل کوم دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب :ایمان مجمل دادی :

امـنتُ بـالله کـماهو باسـمائـه وصفاته، وقبلتُ جـمیع احکامه

ایمان مې راوړی (باور اویقین مې کړی) پرالله باندې لکه څرنګه چې خدای تعالی هغسې دی اود هغه په هغه نومونواو صفتونو باندې مې ایمان راوړی ، اوما یې ټول حکمونه منلي دي.

پـوښتـــنه :ایمان مفصل کوم دی ؟

ځــــواب :ایمان مفصل دادي :

اَلمَنـتُ بِـاللهِ وَمَلائکتـهِ وَکُتُبِهِ وَرَسُولِـهِ وَالـیَومِ الاَخِـرِ وَالقَـدرَ خَـیرِهِ وَشَرِهِ مِـنَ اللهِ تَعـالی وَالبَعثِ بَعدِ الـمَوت

ایمان مې راوړی پرالله باندې پرملائکوې، اوپرکتابونوې او د هغه پررسولانو، دقیامت پر ورځې او په دې چې دښه اوبد تقدیر دالله تعا لی له لوري دی، او له مرګ وروسته پرژوندي کېدو باندې .

پـوښتـــنه :تاسې چا پیداکړي یئ ؟

ځــــواب :موږ، زمونږ موراوپلار، اسمانونه، ځمکې او ټول مخلوق خدای تعالی پیداکړي .

پـوښتـــنه :خدای تعالىدنیا له څه شي نه پیداکړه ؟

ځــــواب :په خپل قدرت اوحکم سره یې پیداکړې ده.

پـوښتـــنه :کـوم خلك چې الله تعالی نه مني هغوی ته څه وا یي ؟

ځــــواب : هــغوی ته کافران وایي .

پـوښتـــنه :کوم خلك چې له الله تعالی نه پرته دنورو شیانو عبادت کوي اویادوه دری خدایان مني هغوی ته څه وایي؟

ځــــواب :داسې خلکوته مشرکان او کافران وایي .

پـوښتـــنه : مشرك ښنل کیږي اوکه نه ؟

ځــــواب :نه ! مشرك نه ښنل کـیږي ، هغه به تل ترتله په تکلیف او عذاب کې وي .

پـوښتــنه:حضرت محمد څوك وْ ؟

ځــــواب :حضرت محمد دالله تعالی بنده ،دهغه رسول اوپیغمبر وْ مونږ یې امتیان یو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښتـــنه :زمونږ پیغمبر ﷺچیرې پیداشوی وْ ؟

ځـــــواب :دعربو په وطن کې دمکې معظمې یو ښار دي، په هغه کې پیداشوی وْ .

پـوښتـــنه :دده مبارك دپلاراونیکه نومونه څه وه؟

ځـــــواب : دپلار نوم یې عبدالله او دنیکه نوم یې عبدالمطلب وْ .

پـوښتـــنه :زموږ پیغمبر ﷺدرتبې له لحاظه له نوروپیغمبرانولوی اوکه وړوکی دي ؟

ځـــــواب :زموږ پیغمبر ﷺپه رتبه کې ترټولو پیغمبرانو ستر اود الله تعالی له ټول مخلوق نه لوی دي .

پـوښتـــنه :حضرت محمد ﷺ عمر چیرې تېرکړی وْ ؟

ځـــــواب :تردری پنځوسو (53) کالوپورې په خپل ښار، مکه معظمه کې واوسیده اوله هغه وروسته دالله تعالی له حکم سره سم مدینې منورې ته ولاړ ،لس (10) کاله یې هلته تېر کړل او د درشپیتو (63) کالو په عمر له دنیا څخه ولاړ .

پـوښتـــنه :كه چیرې یو څوك حضرت محمد ﷺ نه مني هغه څرنګه دی ؟

ځـــــواب :څوك چې حضرت محمد ﷺ دخداىتعالى رسول نه بولي

هغه هم کافردی .

پـوښتـــنه :دحضرت محمد ﷺ دمنلو مطلب څه دی ؟

ځـــــواب :دحضرت محمد ﷺ دمنلو مطلب دادی چې : سړی په دې یقین وکړي چې هغه ﷺ دخدای تعالی رالیږل شوی پیغمبر دی اوپه دې یې عقیده وي چې دی مبارك له خدای تعالی نه وروسته ترټول مخلوق غوره دیاوددده سره مینه ولري، دحکمونو پیروي یې وکړي

پـوښتـــنه :داڅرنګه معلومه شوه چې حضرت محمد ﷺدخدای تعالی پیغمبردی ؟

ځـــــواب : داسي ښه ښه کارونه یې وکړل، اوداسي خبري یې خلکوته وښودلې چې له پیغمبرپرته یې نه بل څوك ښوولای شي ، اونه یې کولای شي.

پـوښتـــنه : داڅرنګه معلومه شوه چې قران کریم دخدای تعالی کتاب دی ؟

ځـــــواب :حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي چې قران کریم د الله تعالی کتاب دی او پر ما باندې یې نازل کړی .

پـوښتـــنه : قرانکریم پر پیغمبر ﷺپه یوه واراو که لیږ لیږ نازل شوی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب : هو! ليږليږنازل شوی، كله يوايت، كله دوه،كله ځلور آياتونه اوكله هم بشپړسورت، څومره به چې ورته ضرورت وْ هغومره به نازلېده .

پـوښتـــنه : په څومره وخت كي ټول قران كريم نازل شو.؟

ځـــواب :په درويشت (23) كاله كې.

پـوښتـــنه :قران كريم څه ډول نازليده ؟

ځـــواب :حضرت جبرائيل به راغی ده مبارك ته به يي آيت يا سورت تيراوه، ده مبارك به اوريده، يا داوه به يي ليكونكی به يې راوغوښت په هغه به يې وليكه .

پـوښتـــنه :ده مبارك خپله ولي نه ليكه ؟

ځـــواب :ځكه چې دی مبارك " أُمي" وْ.

پـوښتـــنه : امي چاته وايي ؟

ځـــواب :دچا چې ليك لوست زده نه وي هغه ته " امي " وايي كه څه هم پيغمبر په دنيا كي دچا څخه علم زده كړي نه وْ خو بيا هم خدای تعالی ده مبارك ته ترټول مخلوق نه زيات علم وركړي وْ .

پـوښتـــنه : حضرت جبرائيل څوك وْ ؟

ځـــواب : ملائيكه ده،پيغمبرانوته به يې دالله تعالی حكمونه راوړل .

پـوښتـــنه :مسلمانان دالله تعالی بندگي څرنگه كوي ؟

ځـــواب :1_ لمونځ كوي 2_ روژه نيسي 3_زكات وركوي 4_حج كوي .

پـوښتـــنه :لمونځ څه ته وايي ؟

ځـــواب :لمونځ دالله تعالی دعبادت او بندگۍ يوه خاصه طريقه ده چې الله تعالی په قران كريم كې او رسول الله په حديثونوكې مسلمانانوته ښودلي ده.

.پـوښتـــنه :دبندگۍ هغه طريقه څه ډول ده كومې ته چې لمونځ وايي ؟

ځـــواب :په كور يا په جومات (مسجد) كې خلك دالله تعالی په وړاندې لاس په نامه درېږي قران شريف وايي دالله تعالی ستاينه كوي، دهغه لويي اوتعظيم بيانوي، اودهغه په وړاندې ټيټيږي ،سر په ځمكه ږدي، دهغه لويي او خپله عاجزي ښكاروي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتـــنه : خدای تعالی لمونځ کونکی په جومات کې ښه ویني اوکه په کورکې ؟

ځــــواب :خدای تعالی ته لمونځ کونکی هر ځای ویني،په جومات کې وې اوکه په کورکې ، خو په جومات کې لمونځ کول ډیر زیات ثواب لري.

پوښتـــنه :له لمانځه مخکې چې خلك مخ لاسونه اوپښې مینځي هغه ته څه وايي ؟

ځــــواب :هغه ته اودس وايي له اوداسه پرته لمونځ نه کیږي .

پوښتـــنه :په لمانځه کې کوم لورته مخ کول پکاردي ؟

ځــــواب :لویدیز لور ته (کومې خواته چې لمر لویږي).

پوښتـــنه : ولې په لمانځه کې دلویدیزلورته مخ گرځوو؟

ځــــواب :دمکې معظمې په ښار کې دخدای تعالی کور چې کعبه یې بولې هغې ته مخ گرځول ضروري دي (هغه زموږ دښار "دهلې" لویدیز لورته ده)؛ ځکه خوخلك دلته دلویدیځ لورته لمونځ کوي.

پوښتـــنه :په لمانځه کې چې خلك کوم لورته دریږي هغه ته څه وايي؟

ځــــواب : قبله ورته وايي .

پوښتـــنه :په شپه او ورځ کې څو واره لمونځ کیږي ؟

ځــــواب :په شپه اوورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض دی .

پوښتـــنه :هغه پنځه وختونه کوم دي ؟

ځــــواب:

_1دسهار(فجر) لمونځ چې دسهار په وخت له لمرختومخکې کیږي.

_2دماسپښین (ظهر)لمونځ: چې دزوال (دسیوري له له ماتیدو) نه وروسته کیږي .

_3دمازدیگر(عصر) لمونځ: چې له لمر لویدو یو نیم یا دوه ساعته مخکې کیږي .

_4دماښام (مغرب)لمونځ: چې تر لمر لویدو وروسته کیږي.

_5دماخستن (عشاء)لمونځ: چې له لمر لوېدو یونیم یا دوه ساعته وروسته کیږي.

پوښتـــنه :آذان څه ته وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب :کله چې دلمانځه وخت راشي له لمانځه لږ مخکې يو سړي دربړي په زوره زوره داتوري وايي:

اللهُ اَکبـر اَللهُ اَکبـَر

خدای ډیرلوی دی خدای ډیرلوی دی

اَللهُ اَکبـَر اَللهُ اَکبـَر

خدای ډير لوی ده خدای ډيرلوی دی

اَشـهَـدُ اَنَّ لاّ اِلـه اِلاّالله

شاهدي ورکوم چې دالله Y نه پرته بل هيڅ يو معبود نشته.

اَشـهَـدُ اَنَّ لاّ اِلـَـهَ اِلاّاللهُ

شاهدي ورکوم چې دالله Y نه پرته بل هيڅ يو معبود نشته.

اَشهَـدُ اَنَّ مـُحـَمـَّد رَسُـولُ الله

شاهدي ورکوم چې محمد eدالله Yرسول دی

اَشهَـدُ اَنَّ مـُحـَمـَّد رَسُـولُ الله

زه شاهدي ورکوم چې محمد eدالله Yرسول دی

حَـيّ عَـلىالصَّـلاۍ حَـيّ عَلَى الصَّلاۍ

لمانځه ته راشئ لمانځه ته راشئ

حَـيّ عَلَـى الـفَلاح حَـيّ عَلَى الفَلاح

کاميابي ته راشئ کاميابي ته راشئ

اَلله اَکـبـَر اللهُ اَکـبـَر

خدای ډير لوی دی خدای ډير لوی دی

لااِلـــه الاّ الله

دالله نه پرته هيڅګوک دعبادت لايق نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي الفاظو ته اذان وايي.

دسهار په اّذان کې د حيّ على الفلاح نه وروسته الصلاۍ خير مّن النّوم (لمونځ له خوبه ښه دي) ويل کيږي.

پـوښتـــنه :تکبير (اقامت) څه ته وايي ؟

ځـــــواب :کله چې لمانځه ته خلك درېږي نو دلمانځه له پيل کيدو مخکې يو سړي هاغه کلمې وايي کومې چې په اذان کې ويل کيږي، همدې ته اقامت اوتکبير وايي.

خوپه اقامت کې له حيّ عَلَى الفَـلاح وروسته قـدقامت الصّـلاۍ وه واري داذان کلمو زياتې ويل کيږي.

پـوښتـــنه :څوك چې اّذان يا تکبير وايي هغه ته څه وايي ؟

ځـــــواب :څوك چې اّذان کوي هغه ته " موْذن" (اذان کونکی) اوڅوك چې تکبير وايي هغه ته " مکبر " (تکبيرويونکی)وايي.

پـوښتـــنه :ډيرخلك چې په ګډه لمونځ کوي لمونځ ورکونکي ،لمونځ کوونکو اوهماغه لمانځه ته څه وايي ؟

ځـــــواب :کله چې ډيرخلك په ګډه لمونځ کوي هغه لمانځه ته دجمعې (جماعت) لمونځ وايي، لمونځ ور کوونکي ته امام اولمونځ کوونکو ته مقتديان وايي.

پـوښتـــنه :څوك چې يواځې لمونځ کوي هغه ته څه وايي ؟

ځـــــواب :يواځې لمونځ کوونکي ته (منفرِد) وايي.

پـوښتـــنه :داسې ځاۍ ته چې خاص دلمانځه لپاره جوړوي اوخلك پکې لمونځ کوي څه بلل کيږي ؟

ځـــــواب :هغه ته جومات (مسجد) وايي.

پـوښتـــنه :څوك چې جومات ته لاړ شي هلته بايدڅه وکړي ؟

ځـــــواب :په جومات کې دې لمونځ وکړي، قراّن شريف دې ووايي، يا دې يوه بل ذکر وکړي اويادې په ادب سره غلی کېني، په مسجد کې لوبې ، ټوپونه ، شور ، اوددنيا خبرې کول بد کاردی.

پـوښتـــنه :لمونځ څه ګټې لري ؟

ځـــــواب : لمونځ ډيرې ګټې لري يو څو يې تاسو ته درښايو:

_1دلمونځ کونکي انسان بدن او کالي تل پاك او صاف وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

_2له لمونځ کونکي څخه خدای تعالی خوښ او خوشحاله وي.

_3دلمونځ کونکي څخه حضرت محمد eهم خوښ اوخوشحاله وي.

_4لمونځ کونکي دخدای تعالی په نزد ښه وي.

_5دلمونځ کونکي سرې عزت خلك په دنيا کې هم کوي.

_6لمونځ کونکی له ډيرو گناهونو ساتلی وي.

_7لمونځ کونکی انسان خدای تعالی له مرگ وروسته په راحت کې کوي.

پـوښـتـــنه :په لمانځه کې چې کوم کلمات ويل کيږي ، د هغو نومونه اوهغه کلمات څه دي ؟

ځـــــواب :په لمانځه کې چې کوم کلمات ويل کيږي د هغو ټولو نومونه او الفاظ دادي :

تکبير

الله اکـبـر

خدای ډير لوی دی.

ثـنـــــاء

سُبحَانَـكَ اللـّهُمَ وَبِحَـمدِكَ وَتَبَـارَكَ اسـمُكَ وَ تَـعَالَىَ جَـدُّكَ وَلاَ الـهَ غَـيـرُكَ

ژباړه : ای الله ! ستاينه او ثنا يواځې ستاله پاره ده اونوم دې مبارك دی ، شان دې لوړ دی او پرته له تا بل معبود نشته.

تعـــــوذ

اَعُـوذُ بِالله مِـنَ الشَّيـطَانِ الرَّجيـم

ژباړه : زه خدای ته پناه وروړم چې له رټلي شيطانه مې وژغوري.

تـــسـمـيـه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

ژباړه : دهغه خدای په نامه شروع کوم چې لورونکی اومهربانه دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سورت فاتحه

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ
﴿٥﴾ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ
أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ
وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

ژباړه :دټول عالم رب او پالونكي ته ثناده چې لورونكى اومهربانه دى ، دقيامت دورځې خاوند دى .

خدايه! يواځې ستا عبادت كوو اويواځې له تانه مرسته غواړو ، موږ ته نيغه(سمه)لار راوښيه، دهغولارچې تاپرې نعمتونه لورولي دي ، نه دهغو لارچې ته ورته قهرېدلى يې ، اونه هم دبېلارو خلكو لار.

سورت كوثر


إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ﴿٢﴾
إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ﴿٣﴾

اى پيغمبره ! له شكه پرته مو كوثر(حوض) دركړى، خپل خدانته لمونځ اوقرباني كوه ، ستا دښمن بې نومه اوبې نښانه دى .

سورت اخلاص

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمۡ يَلِدۡ
وَلَمۡ يُولَدۡ ﴿٣﴾ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ﴿٤﴾

ژباړه :اى پيغمبره! دوى ته ووايه چې خداى يو دى ، خداى بې نيازه دى ، نه له ده څخه څوك پيداشوي اونه دى له چا څخه پيداشوى ، اونه يې څوك سيال شته.

سورت فلق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن
شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى
ٱلْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

ژباړه : ای پیغمبره ! په دعاء کې داسې ووایه : چې زه پناه غواړم په رب دسباخیرونکي ، له شره د مخلوق، اوله شره د تیارې شپې چې تکه توره شي اوله شره د پوکي کوونکو ساحرانو ښځو چې پوکول کوي په غوټو کې.

سورت الناس

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ
ٱلنَّاسِ ﴿٣﴾ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ ٱلَّذِى
يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾
مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾

ژباړه : ای پیغمبره !په دعاء کې داسې ووایه چې: پناه غواړم په رب دټولو خلکو ، په خاوند دټولوخلکو، په معبود دټولو خلکو ، له شره دهغه وسوسه اچونکي تښتېدونکي (شیطان)چې دخلکو په زړونوکې وسوسه اچوي ، دغه وسوسه اچونکي له پیریانو څخه وي ، اوکه له انسانانو څخه وي.

درکوع تسبیح

سُبحَـانَ رَبيِّ العَـظِيم

زما ستر رب ته پاکي ده.

دقومې (له رکوع څخه دولاړېدو) تسمیع

َسـمِعَ اللهُ لِـمَن حَمِـدَه

الله دثنا ویونکو ستاینه واورېده.

دقومې تحمید

رَبَّــنَا لَكَ الـحَــمدُ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه تولي ستاينې ستاپاره دي.

دسجدې (په ځمکه دسر کیښودو) تسبیح

سبُــحَن رَبيِّ الاَعـلَى

زما درب شان ډیر لوی دی.

تشهد (التحیاتِ)

التّحيّاتُ لِلّهِ وَالصَّلَوَاىِ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسّلامُ عَلَيكَ اَيُّهَاالنبيُّ وَ رَحمَى اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ اَلسَّلامُ عَلَينَا وَ عَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِـحِينَ، اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِللاالهُ وَاَشهَدُ اَنَّ مُـحَمَداً عَبدُه وَرَسُولُهُ.

ژباړه: ثنا اوستاینې خدای ته دي اوهم پاکې ، ای نبي! پرتا دې سلام ،دخدای رحمت اوبرکتونه وي . پرموږ اودخدای پرنیکو بنده ګانو دې سلام ي ، شاهدي ورکوم چې بې له خدایه بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد e دخدای بنده اورسول دی .

درود شریف

اَللّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُـحَمَدٍ وّعَلَى آلِ مُـحَمَّدٍ كَـمَا صَلَّيتَ عَلَى اِبرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ اِبرَاهِـيمَ اِنَّكَ حَـمِيدٌ مَّجِـيد، اَللّهُمَ بَارِك عَلَى مُـحَمَّدٍ وَّعَلَى آلِ مُـحَـمَّدٍ كَـما بَارَكتَ عَلَى اِبرَاهِـيمَ وَ عَلَى آلِ اِلبرَاهِـيمَ اِنَّكَ حَـمِيـدٌ مَّجِـيدٌ.

ژباړه: یا الله ! پرمحمد eاودهغه پرکورنۍ رحمت ووروه ، لکه پرابراهیم u اودهغه پرکورنۍ دې چې لورولی وْ ، بیشکه ته ستایلی اولوی یې . یا الله ! پرمحمد e اودهغه پرکورنۍ برکتونه واوروه ، لکه پرابراهیم u اودهغه پرکورنۍ دې چې ورولي وْ ، بیشکه ته ستایلی او لوی یې.

له درود وروسته دعاء

اَللّهُمَ رَبَّنَا آتِنَافِي الدُّنيَا حَسَنَى وَّفِي الآخِرَى حَسَنَى وَّقِنَا عَذَابَ النَّار

ژباړه :یا الله موږ ته په دنیا کې نعمت اوپه آخرت کې جنت راکړه اوددوزخ له اوره مو وساته.

په ځینو روایتونوکې دادعا هم راغلې ده:

اَللَّـهُمَّ انيِّ ظَلَمتُ نَفـسِي ظُلماً كَثِـيراً وَّلايَغفِرُالذُّنُوبَ الا اَنتَ فَاغفِـرلِي مَغفِـرَى مِّن عِندِكَ وَارحَـمـنِي انَّكَ اَنتَ الغَفُـورُ الـرَّحِيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : یا الله ما پرځان ډیرظلم کړی دی او بیشکه چې له تا پرته څوك گناوې ښښلی نه شي ، نو ماله خپل لوري وبښه،او راباندې ورحمیږه بې شکه ته ښښونکی اولوروونکی یې.

ســــــــلام

اَلسَّلامُ عَلَیکُم وَ رَحمَی اللهِ

پرتاسو دې سلام اودخدای رحمت وي.

له لمانځه وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ اَنتَ السَّلاَمُ وَ مِنكَ السَّلاَمُ تَبَارَكتَ یَا ذَاالجَلالِ وَالاِكرَام

ژباړه : یا الله! سلامتي ورکونکی یواځې هم ته یې او سلامتي ستا له لوري وي ، دډیر برکت څښتن دلویي اوعزت خاوند یې.

دعاء قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَستَعِینُكَ وَنَستَغفِرُكَ وَنؤمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَیكَ وَنُثنِي عَلَیكَ الخَیر، وَنَشكُرُكَ وَلاَنَكفُرُكَ، وَنَخلَعُ وَ نَترُكُ مَن یَّفجُرُكَ ،اَللّٰهُمَّ اِیَّاكَ نَعبُدُ وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسجُدُ وَاِلَیكَ نَسعَی وَنَحفِدُ وَنَرجُوا رَحمَتَكَ وَنَخشَی عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالكُفَّارِ مُلحِق

ژباړه :یا الله ! موږ له تانه مرسته غواړو ، اوله تانه ښښنه غواړو اوپرتا ایمان لرو ، پرتا توکل کوو ، ستا غوره ستاینه کوو، ستا شکر ادا کوو، ستا ناشکرې نه کوو، له هغه چا سره پریکون اوداړیکو شلون کوو چې له تاسره پریکون کوي .

یاالله ! یواځې ستاعبادت اوستا لمونځ کوو، تاته سجده کوو، ستاپرلور پنا دروړو ، درمنډې وهو ، یواځې ستادرحمت هیله من یو ، ستاله عذابه ویریږو، اوبې شکه ستا عذاب کافرانو ته رسیدونکی دی .

داوداســـــه طـریـــقه

پـوښـتـــنه :اودس څه ډول کول په کاردی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : په پاك لوښي كې پاكې اوبه را واخله، پرپاك صاف او لوړ ځاى كښينه، په اوداسه كې قبلې ته مخامخ كيناستل غوره دي ، خوكه چيرته مو كه نه وه هيڅ زيان نه لري ، لستوني ترڅنګلو پورې پورته كړه، بيا بسم الله ووايه، اودواړه لاسونه ترمړوندو پورې ومينځه، بيادرى واري په خوله اوبه ورغړوه، مسواك ووهه، كه مسواك نه وي نوګوته په غاښوپورې وموښه ، بيا درى ځله پزې ته اوبه واچوه ، دچپه لاس په خچنه ګوته پزه پاكه كړه ، درى ځله مخ ومينځه ، خو مخ ته په تيزي سره اوبه مه اچوه ، بلكې په كرارسره تندي ته اوبه واچوه اومخ ومينځه.

دويښتانو دشنه كېدو له ځايه نيولې دزنې تر لاندې برخې پورې ، اوديوه غوږ څخه تربل غوږ پورې مخ مينځل پكاردي ، بيا له څنګلو سره درې وارې دواړه لاسونه ومينځه ، لومړى ښى لاس درى وارې بيا چپه لاس درى وارې مينځل په كاردي .

بيا لاس په اوبو لوند كړه دسر مسح وكړه ، اود غوږو مسح وكړه ، بيا د ورميږ (غاړه) مسح وكړه ، اوبيائې پې يوځل كول په كاردي . درى ځله دواړه پښې له بيډيو سره ومينځه ، لومړى دښى بيا چپه پښې مينځل په كاردي .

دلمانځه طريقه

پـوښـتـــنه :دلمونځ كولو طريقه څه ده ؟

ځـــــواب : دلمانځه دكولو طريقه داده چې:

كله چې اودس وكړې ، پاك كالى واغونده ، پرپاك ځاى قبلې ته مخامخ ودرېږه ، دلمانځه نيت وكړه ، دواړه لاسونه غوږوته يوسه او " الله اكبر" ووايه ،اوبيا لاسونه دنامه دغوټۍ لاندې داسې وتړه چې دښي لاس ورغوى دچپ لاس پرخپړه راشي .

په لمانځه كې په ادب سره ودرېږه يوې بلې خواته مه ګوره دالله تعالى لورته ځيراوسه ، لاسونه چې وتړې لومړى داثناء ولوله :

سُـبحَانَـكَ اللّـّهُمَ وَبِحـَمـدِكَ وَتَبَـارَكَ اسـمُكَ وَ تَـعَالَى جَـدُّكَ وَلاَ اِلَـهَ غَـيـرُكَ

بيا تعوذ (اعـوذ بالله من الشّيطان الرّجيم) او تسميه (بسم الله الرّحـمن الرّحيم) او الحمد لله ولـوله ، الحمد لله چې كله خلاصه كړې، نو په كراره آمّين (خدايه زما دعا قبوله كړې) ووايه ، په دې پسې سورت اخلاص يا بل سورت چې ياد دې وي ووايه ، بيا " الله اكبر" ووايه ركوع ته كښته شه ، په ركوع كې ځنګنونه په دواړه ورغوو ونيسه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درکوع تسبیح (سُبحانَ ربيّ العظیم) دری وراه یا پنځه واره ووایه ، بیا تسمیع (سـمِـع اللهُ لـمن حمده) هم ووایه ، بیا تکبیر ووایه اونیغ ودریږه ، تحمید (ربّنا لك الـحمد) هم ووایه، بیا تکبیر ووایه ، سجدې ته داسې لاړشه چې لومړی دواړه ځنګنونه پرمځکه ولګوه، دواړه ورغوي کښیږده، پزه ، تندی اومخ مو باید ددواړو لاسو ترمنځ د سجدې پرځای وي ، دسجدې تسبیح (سبحان ربيّ الاۡعلی) دری یا پنځه وارې ووایه، بیا تکبیر ووایه اوله سجدې راپاڅه نیغ کینه ،تکبیر ووایه دوهمه سجده هم په همغه ډبر وکړه، بیاوایه پورته شه ، د ولاړېدو په وخت کې پرمځکه لاسونه مه لګوه .

په سجدو سره یو رکعت پوره شو او س نو دوهم رکعت پیل کړه ، بسم الله او الحمد لله ووایه او یو بل سورت هم ورسره ووایه ، بیا رکوع ، قومه اودواړه سجدې وکړه ، کېنه ، اول تشهد بیا درود شریف ووایه ، او بیا لومړی ښي لور، بیاچپ لورته مخ واړوه ، اوس نو دوه رکعته لمونځ پوره شو .

له سلام ګرځولو وروسته اَللّٰهُمَّ اَنتَ السَّلاَمُ وَمِنكَ السَّلاَمُ تَبَارَكتَ يَا ذَاالـجَلاَلِ وَالاكرَام ووایه ، او لاس پورته کړه دعاء وکړه خو ډېر یې مه پورته کوه داسې چې تراوږو دې پورته شي دعا چې کله خلاصه کړې دواړه لاسونه پرمخ تېرکړه .

پـوښـتـنه :ددوو سجدو په منځ کې اویا هم دتشهد د ویلو په حالت کې څه ډول کیناستل په کار دي ؟

ځـــواب : ښي پښه باید ولاړه اودګوتو مخ یې دقبلې لورته وي اوچپه پښه دې څملوه پرې کینه دناستې په حال کې دواړه لاسونه په ځنګنونو ایښودل پکاردي .

پـوښـتـنه :دامام، مقتدي، اومنفرد (یواځې لمونځ کونکی) په لمانځه کې څه فرق دی ؟

ځـــواب : دامام، مقتدي اومنفرد په لمانځه کې لږ فرق شته ، یو فرق دادی چې : امام او منفرد دواړه په اول رکعت کې له ثنا وروسته اعوذ بالله او بسم الله او الحمدلله شریفه او سورت ټول پوره وايي ، اوپه دوهم رکعت کې هم بسم الله او الحمدلله شریفه اوسورت پوره وايي خو مقتدي به یواځې په لومړي رکعت کې ثنا وايي اونور په دواړو رکعتونو کې پټه خوله ولاړ وي .

دوهم فرق دادی چې : درکوع څخه دولاړېدو په وخت کې امام اومنفرد دواړه" سمع الله لمن حمده " وايي اومنفرد دتسمیع سره تحمید هم ویلای شي، خو مقتدي ته یواځې " ربنالك الحمد" ویل پکاردي .

پـوښـتـنه :که لمونځ دری یا څلور رکعتي وي نو بیا څه ډول کیږي ؟

ځـــواب :دوه رکعته لمونځ خو باید همغسې وکړي څرنګه چې پورته تیر شو خوپه اوله قعده کې دې له التحیات اویاتشهد نه وروسته درود شریف نه وايي ، بلکې " الله اکبر" دې ووايي او پورته دې شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لمونځ واجب یاسنت یا نفل وي نو پاتې دوه رکعته دې د مخکني دوو رکعتو نو په څېروکړي ، او که چیرې فرض وي نو په دریم اوڅلورم رکعت کې له " الحمدلله" نه وروسته دې سورت نه وایي ، اوپاته نوردې دهمغو پخوانیو دوو رکعتونو په څیر وکړي .

پـوښـتـنه :آیّا سنت او یانفل لمونځ دري رکعته هم کیږي؟

ځـــواب : نه ! سنت یا نفل لمونځ درى رکعته نه کيږي دوه یاڅلور رکعته کیږي .

پـوښـتـنه :درکوع کولو سهي طریقه څرنګه ده ؟

ځـــواب :رکوع داسې باید وشي چې ملاله سر سره یو برابر وي ،داسې چې سر نه له ملالوړ اونه ټیټ وي ، او دواړه ځنګلې باید له خېټې او تشیو نه لرې وي ، او ځنګنونه باید په خپړو ټینګ ونیسې.

پـوښـتـنه :دسجدې سهي طریقه څرنګه ده ؟

ځـــواب : سجده داسې پکار ده چې خپرې پر مځکه وي او مړوندونه اوځنګلې دمځکې څخه پورته وي، نس (ګیده) دې دورنو څخه لرې او لاسونه دپښو څخه جلا وي.

پـوښـتـنه :له لمانځه وروسته په ګوتو باندې دشمیر په وخت څه ویل کیږي ؟

ځـــواب : " سبحان الله " (33)واره الحمدلله " (33)واره ، " الله اکبر" (33) واره ویل کیږي چې ډېر زیات ثواب لري .

اســـــلام کلـــمې

اولــه : کلـمهٔ طـیبـه

لااِلـهَ اِلااللهُ مُـحَمّـَدٌ رَّسُـولُ اللهِ

له خدای تعالی نه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمدeالله Y رسو ل دی .

دوهـــمه : د شـهادت کلـمـه

اَشهَـدُ اَنَ لا الـهَ الا اللهُ وَحـدَهُ لاشَـرِيكَ لَـهُ وَاَشهَـدُ اَنَ مُـحَـمَّداًعَـبدُه و رَسُـولُه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : زه شاهدي ورکوم چې دالله‌Yنه پرته بل خدای دعبادت وړ نشته هغه یو دی سیال نه لري، اوداشاهدي ورکوم چې محمد e یي بنده او رسول دی.

دریـمـه : د تـمـجـید کـلـمـه

سُبحَانَ اللهِ وَالـحَمدُللهِ وَلا اِلَهَ اِلااللهُ وَاللهُ اَکبَرَ وَلاحَولَ وَلا قُوَّیٰ اِلا بِاللهِ العَلي العَظِیم

ژباړه : خدای Y پاك دی ستاینې هغه لره دي له خدایه پرته دعبادت وړ بل ذات نشته ، خدای Y لوی دی له ګناوو دساتنې اود نیکو کارونو دکولو توفیق یواځې هغه ورکوي هغه دلویي او شوکت څښتن دی .

څـلـورمـه : دتـوحـید کلـمـه

لااِلَهَ اِلااللهُ وَحدَهُ لاشَرِیكَ لَهُ، لَهُ المُلكُ وَلَهُ الـحَمدُ یُحیِی وَیُمِیتُ وهو حيّ ٌ لا یمُوتُ اَبداً اَبداً ذُوالجَلالِ وَالاکرَامِ بِیَدِهِ الـخَیر وَهُوَ عَلَی کُلِّ شَيءٍ قَدِیر.

له خدایه پرته دعبادت وړ بل ذات نشته ، سیال نه لري پاچاهي اوستاینې هغه لره دي، ژوندي کول اومړه کول یې په واك کې دي ، تل ترتله به ژوندی وي، دعزت اوشوکت څښتن دی او ښیګڼه یې په واك کې ده ، په هرڅه قادر دی.

پـنـځـمـه کلـمـه : د اسـتـغـفا ر کـلـمـه

اَستَغفِرُاللهَ رَبِّي مِن کُلِّ ذَنبٍ اَذنَبتُهُ عَمَداً اَوخطاً سِرّاً اَوعَلانِیَی وَاَتُوبُ اَلَیهِ مِنَ الذَّنبِ الذِي اَعلَمُ وَمِنَّ الذَّنبِ الذِّي لا اعلَمُ اِنَّكَ اَنتَ عَلّاَمُ الغُیُوبِ وَستَّارُ العُیُوبِ وغفّارُ الذُّنوُبِ وَلاحَولَ وَلاقُوَّیٰ اِلا بِاللهِ العَلّيِ العَظِیم.

ژباړه : زه له هغه ذاته بښنه غواړم چې زما خدای دی، له هرې هغې ګنا څخه چې په قصداویا مې په هېره سره کړې وي ، دهغه په دربارکې له هرې ګناڅخه چې ماته معلومه وي اویا نه وي توبه باسم

په تحقیق سره خدایه ! په پټو رازونو خبر یې ! دعیبونو پټوونکی، دګناوو ښونکی یې ! له ګناڅخه دساتنې اوښوکارونودکولو توفیق یواځې ته ورکوې! په تحقیق سره دلویي اوشوکت څښتن یې !

شپـږمـه : لـه کـفـره دبـې زاری کـلـمـه

اَللَّـهُمَّ اِنيِّ اَعُـوذُبِكَ مِنَ اَن اُشرِكَ بِكَ شَیاً وَاَنَا اَعلَمُ بِهِ وَاَستَغـفِرُبِكَ لِما لا اَعلَمُ بِهِ تُبـتُ عَنـهُ وَتَـبرات مِنَ الـکُـفرِ وَالـشِرکِ وَالـکَـذبِ وَالغِـیبَی وَالبِـدعَـی وَالنَمِـیمَی وَ الفَـواحِشِ وَالبُهـتَانِ وَالـمعاصِي کُلِّهَا وَاَسلَمتُ وَاَقُـولُ لا اِلَهَ اِلااللهُ مُـحَمَّـدٌ رَّسُـولُ اللهِ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! زه پرتا پنا غواړم له دې څخه چې له تاسره بل څه سیال وګڼم اوزه پرې پوهېږې اوله هغه شرك څخه چې پرې نه پوهیږم خدایه تاته توبه باسم له هر کفر، شرك، درواغو، غیبت ، بدت، چغل خوري، سپکوسپورو، تور لګولو اوټولو ګناوو څخه، اومااېمان راوړی اووایم چې : له خدای تعالی نه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمدeدالله Yرسو ل دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه

لومـــړی ځـــانـګه

تـعلـیـم الایمان

داسـلامي عــقایـدو زده کړه

بســـم الله الرحـــمن الـــــرحـــیم

نحمدالله العلی العظیم ونصلي علی رسوله الکریم

پـوښــتنه :داسلام بنیاد پر څو شیانو ولاړ دی ؟

ځـــواب : داسلام بنیاد پر پنځو شیانو ولاړ دی.

پـوښــتنه :هغه پنځه شیان چې داسلام بنیاد پرې ولاړ دی کوم کوم دي ؟

ځـــواب :هغه پنځه شیان دادي:

اول : کلمهٔ طیبه یا کلمه شهادت مطلب دا چې په زړه سره منل اوپه ژبه یې اقرار کول.

دوهم : لمونځ کول.

دریم : زکات ورکول.

څلورم : دروژې په میاشت کې دروژې نیول.

پنځم : حج کول.

پـوښــتنه :کلمهٔ طیبه کومه ده اومعنی یې څه ده ؟

ځـــواب :کلمهٔ طیبه داده:

لا له الاالله محمد رسول الله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مطلب يي دادي چې دالله تعالی نه پرته بل هيڅ څو ك دعبادت وړ نشته او حضرت محمد e دالله تعالی رالیږلي رسول دی.

پـوښــتنه :دشهادت کلمه کومه اومعنی يي څه ده ؟

ځـــواب :د شهادت کلمه داده:

اشهـد انّ لاّ اله الاّالله واشهـد انّ مـحمـّداً عبده ورسـوله

او معنی يي ده چې: زه شاهدي ورکوم چې دالله تعالی نه پرته دعبادت وړبل هيڅوك نشته او شاهدي ورکوم چې حضرت محمد e دالله تعالی بنده اورسول دي.

پوښتنه : دکلمې دمعنااومطلب له پوهيدلوپرته يواځې يې په ژبه ويلوسره سړی مسلمانيدای شي ؟

ځواب : نه ! بلکې په معنا پوهيدل اوپه زړه سره يقين کول اوپه ژبه يې اقرار کول ضروري دي.

پوښتنه : په زړه سره يقين اوپه ژبه اقرار کولو ته څه وايي ؟

ځواب : ايمان وايي.

پوښتنه :گونگی چې په ژبه اقرار کولای نه شی هغه به څه ډول ايمان راوړي ؟

ځواب : دخدايي عذر له امله دهغه اشاره هم کافي بلله کيږي معنا داچې : هغه دې په اشاره سره داوښيي چې الله تعالی يو دی اوحضرت محمد eدخدای تعالی پيغمبر دی.

پوښتنه : دمسلمانانو لپاره پرڅو خبرو ايمان لرل ضروري دي ؟

ځواب : پراوو "7 "خبرو ، چې يادونه يې په ايمان مفصل کې راغلې:

اَمَنـتُ بِـاللهِ وَمَلائكتـهِ وَکُتُـبهِ وَرَسُولـِهِ وَالـيَومِ الاَخـِر وَالقَـدرَ خَـيرِهِ وَشَرِهِ مِـنَ اللهِ تَـعـالی وَالبَعـثِ بَعدِ الـمَوت

ايمان مې راوړی پرالله Y باندې پرملائکويې، اوپرکتابونويې او د هغه پررسولانو، دقيامت پر ورځې او په دې چې دښه اوبد تقدير دالله تعا لی له لوري دی، او له مرگ وروسته پرژوندي کيدو باندې.

دخدای تعالی په هکله دمسلمانانوعقيده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : دخدای تعالیپه هلکه دمسلمانانو عقیده باید څه ډول وي ؟

ځواب : مسلمانان باید داعقیده ولري چې:

-1خدای تعالی یو دی.

-2یواځې همغه دعبادت اوبندګۍ وړ دی اوله همغه پرته دبندګۍ وړ بل هیڅوك نشته.

-3همغه سیال نه لري.

-4له هرڅه خبر دی هیڅ شی ترینه پټ نه دي.

-5دپوره طاقت اوقدرت خاوند دی.

-6ځمکه، آسمان، سپوږمۍ، لمر،ستوري، ملائکې،انسانان، پیریان، او لنډه داچې ټول جهان یواځې همغه Yپیداکړی اوهغه یې مالك دی

-7مرګ اوژوند دهغه له لورې دي، یعنې دټول مخلوق ژوند اومرګ دهغه په واك کې دي.

-8هغه Y ټول مخلوق ته روزي ورکوي.

-9خوراك، څښاك او خوب نه کوي.

-10تل وْ اوتل ترتله به وي.

-11هغه Y هیچا پیداکړی نه دی.

-12نه یې پلار شته نه زوی ، نه لور، نه ښځه ، اونه هم له چاسره دغه ډول خپلوي لري ، له دارنګه ټولو خپلولیو څخه پاك دی.

-13هرڅه ده ته محتاج دي، خودی هیچا ته محتاج نه دی اوهیڅ شي ته اړتیانه لري.

-14بې مثله دی هیچ یو شی یې په څېر نه د ي.

-15له ټولو عیبونوپاك دی.

-16دمخلوق په څېر لاس، پښې، پزه او غوږونه نه لري.

-17ملایکې یې پیداکړي اوددنیا په بیلابیلو کارونویې ګمارلې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

18-دخپل مخلوق دلارښوونې (هدایت) لپاره یې پیغمبران رالیږلي، څو خلکو ته رښتیني لار (دین) ور وښیي، ښې خبرې ورزده اوله بدو یې منع کړي.

ملا ئـکـې (فـرښتـې)

پـوښــتنه :ملائکې څوك دي ؟

ځـــواب :ملائکې دالله تعالی یو جلا مخلوق دي له نوره یې پیدا او زموږ له سترګوپټا دي نه نارینه او نه هم ښځینه دي، نه دخدای تعالی دحکم نافرماني او نه ګناه کوي، په کومو کارو یې چې مقرري کړې دي په هغو بوختې دي.

پـوښــتنه :ملائکې څومره دي ؟

ځـــواب :دملائکو شمیر له خدای تعالی پرته بل هیڅ چاته معلوم نه دی هو! دومره موږ ته معلومه ده چې ملائکې ډیرې اوڅلور یکې مقربې اومشهورې ملائکې دي.

پـوښــتنه :مقربې اومشهورې ملائکې کومې دي ؟

ځـــواب :اول : حضرت جبرائیل u چې دالله تعالی کتابونه، احکام، اوپیغامونه به یې پیغمبرانو علیهم السلام ته راوړل.

دوهم: حضرت اسرافیل uچې دقیامت شپیلۍ به پوکي.

دریم: حضرت میکائیل u چې دباران داورښت اومخلوق ته دروزي رسولو په کارو مقرره ده.

څلورم : حضرت عزرائیل u چې له مخلوق دارواوو(روح) په اخیستو مقرره ده.

دخدای تـعـالـی کـتـابـونـه

پـوښــتنه :دخدای تعالی کتابونه څودي ؟

ځـــواب :دخداتعالی ډیر زیات واړه اوغټ کتابونه پر پیغمبرانو علیهم السلام نازل شویدي، غټو ته یې کتابونه او وړو ته یې صحیفې وایي څلور کتابونه مشهوردي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتنه :څلور مشهور آسماني کتابونه کوم کوم دي ؟ او په کومو پیغمبرانو نازل شویدي ؟

ځـــواب:

-1تورات : چې په حضرت موسی u نازل شوی.

-2زبور: چې په حضرت داوْ د uنازل شوي ده.

-3انجیل:چې په حضرت عیسی u نازل شوي دی.

-4قرآن کریم : چې په حضرت محمدeنازل شوي دي.

پـوښــتنه :صحیفې څومره دي او پرکومو پیغمبرانو نازلې شوي دي ؟

ځـــواب :دصحیفو شمیره معلومه نه ده، خو یوڅه صحیفې پر حضرت آدم u اویوڅه پرحضرت شیث uاویوڅه پر حضرت ابراهیم u نازلې شویدي له دې پرته نورې صحیفې هم شته چې پرځینو نورو پیغمبرانوعلیهم السلام نازلې شوي دي.

دخدای تعالی پیغمبران علیهم السلام

پـوښــتنه :رسول چاته وایي ؟

ځـــواب :رسول انسان اودخدای تعالی بنده وي خدای تعالی خپلو بندګانو ته دحکمونو رسولوله پاره ټاکلي وي، هغوی رښتیا ویونکي وي دروغ هیڅ کله نه وایي، ګناه نه کوي، دخدای تعالی په امرسره معجزې ښکاروي، پیغامونه یې په پوره ډول مخلوق ته رسوي کموالي او زیاتوالي پکې نه کوي اونه هم هیڅ یو پیغام پټوي.

پـوښــتنه :دنبي معنا څه ده ؟

ځـــواب :دنبي معنا همداده چې هغه دخدای تعالی بنده اوانسان وي دالله تعالی حکمونه بندګانو ته رسوي رښتینی وي دروغ نه وایي، ګناه نه کوي، دخدای تعالی Yپه حکمونوکې کموالی او زیاتوالی نه کوي او نه هم هیڅ یو حکم پټوي.

پـوښــتنه :دنبي اورسول تر منځ څه فرق شته ؟ اوکه دواړه یو شی دي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :دنبي اورسول په منځ کې لږ فرق شته اوهغه داچې : رسول هغه پيغمبر ته وايي چې دخداى تعالى له لورې نوى شريعت اوکتاب ورکړل شوي ويو، اونبي هرپيغمبرته وايي ، نوى شريعت اوکتاب ورکړل شوي وي اوکه نه داسې چې دمخکني شريعت او کتاب تابع وي.

پـوښـــتنه :آيا يو سړى په خپل کوښښ اوعبادت سره نبي کيدلي شي ؟

ځـــواب :نه ! بلکې هغه څوک نبي وي چې خداى تعالى يي نبي وګرځوي معنا داچې دنبي اورسول کېدل دانسان په کوښښ او ارادې پورې تړلي نه دي، بلکې دامرتبه دخداى تعالى له لورې ورکول کيږي.

پـوښـــتنه :درسولانو اونبيانو شمير څومره څه دى ؟

ځـــواب :دنيا ته ډير رسولان اونبيان راغلي دي خو دهغوي پوره شميره يواځې خداى تعالى ته معلومه ده، خو مونږ اوتاسو بايد دا عقيده ولرو چې دخداى تعالى ټول رسولان هرڅومره چې وي برحق اوريښتيني دي.

پـوښـــتنه : لومړنى پيغمبر څوك وْ ؟

ځـــواب :تر ټولولومړى پيغمبر حضرت آدم u دي.

پـوښـــتنه :تر ټولو وروستى پيغمبر څوك دي ؟

ځـــواب :ترټولو وروستى اواّخري پيغمبر حضرت محمد eدي.

پـوښـــتنه :له حضرت محمد e وروسته به بل پيغمبر راځي اوکه نه ؟

ځـــواب :نه! ځکه چې پيغمبري اونبوت پر حضرت محمد مصطفى e پاى ته ورسيده له ده مبارك وروسته ترقيامته پورې هيڅ يو نبي نه راځي، له ده مبارك وروسته چې څوك دپيغمبري دعوه کوي هغه درواغجن دى.

پـوښـــتنه :په رسولانو کې ترټولو غوره (افضل) رسول څوك دى ؟

ځـــواب :زمونږ پيغمبر حضرت محمد e په ټولو نبيانو او رسولانو کې غوره او لوى دى ، دى که څه هم دخداى تعالى بنده او اطاعت کونکى دى خو له دخداى تعالى وروسته په مخلوق کې ترهرچا دده مبارك مرتبه زياته ده.

دقيامت بيان

پـوښـــتنه :دقيامت ورځ کومې څه ته وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :دقيامت هغې ورځې ته وايي په کومه کې به چې ټول انسانان او حيوانان مړه کيږي، اوټوله دنيا به له منځه ځي، غرونه به دپمبوو دګلانو په څېر په هوا کې والوزي ستوري به ټوټه ټوټه شي لاندې به راولوېږي، لنډه داچې هرشی به زره زره او له منځه ولاړشي.

پـوښـتنه :ټول انسانان اوحيوانان به څرنګه مړه کيږي ؟

ځـــواب :حضرت اسرافيل u به شپيلۍ پوه کړي د شپيلۍ آواز به يې دومره "ويروونکی" اوسخت وي چې له هيبت به يې ټول خلك مړه اوهر شی به زره زره او فنا شي.

پـوښـتنه :قيامت به څه وخت وي ؟

ځـــواب :قيامت راتلونکی دنخو ټاکلی وخت يې له الله تعالی پرته هيچاته معلوم نه دی، هو ! دومره معلوم دي چې دجمعې په ورځ دمحرم په لسمه نيټه به وي اوزمونږ پيغمبر eځينې نښانې يې ښودلې دي هغو ته که وکتل شي معلوميږي داچې قيامت نږدې دی.

پـوښـتنه :دقيامت نښانې کومې دي ؟

ځـــواب :پيغمبر eفرمايلي دي چې:

-1کله چې په دنياکې ګناوې زياتې شي.

-2خلك دخپل مور او پلار نافرمانه شي اوپرهغوی سختې پيل کړي.

-3په امانت کې خيانت پيل شي.

-4سندرې غږول، رقص، اوسرود زيات شي.

-5وروستي خلك مخکنيو بزرګانو ته بد ويل پيل کړي.

-6بې علمه اوکم عمله خلك مشران شي.

-7شپانه اودټيټې درجې خلك لوړ لوړ عمارتونه جوړول پيل کړي.

-8ناپوه خلکو ته غټې چوکۍ په لاس ورشي، نو په دې پوه شه چې قيامت نږدې دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتقدير بيان

پـوښــتنه :تقدير څه ته وايي ؟

ځـــواب :دهرې خبرې او هرشي دښه اوبد اندازه چې له پخوانه دخداى تعالى په علم كې ټاكلې شوې اودهرشي له پيداكيدو دمخه خداى تعالى ته معلومه وي ، دالله تعالى همدې علم او اندازې ته تقديروايي ، هيڅ يوښه اوبد شى دالله تعالى له علم او اندازې څخه دباندې نه دى.

لـه مـرگ وروسـتـه بيـا ژونـدي كېـدل

پـوښــتنه :له مرگه وروسته دبياژوندي كيدلو مطلب څه دى ؟

ځـــواب :كله چې دقيامت په ورځ ټول شيان له منځه ولاړ شي اسرافيل u به دوهمه شپيلۍ پوه كړي چې په دې سره به بيرته ټول شيان او انسانان راژوندي شي ، د حشر په ميدان كې به ټول مخلوق دالله تعالى درانه حضورته وړاندې شي ، حساب به اخستل كيږي ، دښو اوبدو كارو بدله به وركول كيږي ، په كومه ورځ چې داكارونه ترسره كيږي هغې ورځې ته "يوم الحشر" (دجمع كيدو ورځ)، "يوم الجزا" او "يوم الدين" (بدلي وركولو ورځ)، او"يوم الحساب" (حساب ورځ) وايي.

پـوښــتنه :په ايمان مفصل كې چې دكومو اوو (7) شيانو يادونه راغلې په هغو كې كه څوك يو يا دوه خبرې نه مني مسلمان بلل كيداى شي اوكه نه ؟

ځـــواب :نه ! هيڅكله نه ، كله چې يوڅوك دالله تعالى كتابونه، ملائكې، دقيامت ورځ، تقدير، اوله مرگه وروسته بياژوندي كيدل نه مني مسلمان كيدلاى نه شي.

پـوښــتنه :حضرت پيغمبر eداسلام بنياد پنځه شيان ښولي، په هغو كې خو دملائكو اودالله تعالى دكتابو ،دقيامت ، تقدير اونورو يادونه گ نه ده شوې ؟

ځـــواب :په هغو پنځو شيانو كې يوهم پرحضرت محمد eباندې دايمان راوړل دي اوكله چې يوڅوك پرحضرت محمد e باندې ايمان راوړي ، نوهغه به خامخا دده مبارك ټولې ښوولې خبرې مني ، اودالله تعالى كتاب كوم چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيغمبر eراوړی دی پرهغه به هم خامخا ايمان راوړي او ټولې هغه خبرې چې په ايمان مفصل کې يې يادونه راغلې دخدای تعالی له کتاب (قرآن کريم)اودپيغمبر eله ويناوو (احاديثو)څخه ثابتې شوې.

پـوښــتنه :که يوڅوک ددې ټولو خبرو په زړه سره يقين اوژبه سره اقرار وکړي ، خو لمونځ نه کوي او يازکات نه ورکوي يا روژه نه نيسي، يا حج نه کوسي هغه مسلمان دی ؟

ځــواب :هو ! مسلمان دی خو سخت ګناه ګار اودالله تعالی نه ياغي دی ، داسې مسلمان ته فاسق وايي ، دوی به لومړی دخپلو ګناوو په سزا رسول کيږي بيا به خلاصون ومي.

دوهــــمــه څــانـګه

دعـبـاداتـو ښــوونه

تعليم الارکان

داسلامي اعمـالو زده کړه

بســـم الله الرحـــمن الـــرحـــيم

پـوښــتنه :اسلامي اعمال څه ته وايي ؟

ځـــواب :هغه پنځه شيان پرکومو چې داسلام بنياد ولاړ دی چې لومړني ته يې ايمان وايي ، چې بيان يې تاسې داسلامي عقايدو ترعنوان لاندې په اوله څانګه کې لوستلی ، پاته څلور نور شيان (لمونځ، زکات، روژه او حج) دې واړو ته اسلامي اعمال وايي ، په همدې دويمه څانګه کې به لومړی تاسې دلمانځه بيان ولولئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــمــونــځ

پـوښــتنه :لمونځ څه ته وايي ؟

ځـــواب :لمونځ داالله تعالی دعبادت اوبندګۍ يوه غوره او جلا طريقه ده چې الله تعالی اودهغه رسول e بندګانو ته ښولې.

پـوښــتنه :له لمانځه مخکې دکومو شيانو کول ضروري دي ؟

ځـــواب :له لمانځه مخکې اووه (7) خبرې ضروري دي ، چې له هغو پرته لمونځ نه کيږي همدې خبرو ته دلمانځه شرطونه او فرايض وايي.

پـوښــتنه :هغه اوه (7)خبرې کومې دي چې له لمانځه نه يې مخ ته کول ضروري دي ؟

ځـــواب :اول :- دبدن پاکوالی، دوهم :- دجامو يا کاليو پاکوالی، دريم :- دلمانځه دځاپاکوالی، څلورم :- دعورت پټول، پنځم:- دلمانځه دوخت پېژندل، شپږم:- قبلې ته مخ کول، اووم:- نيت کول.

دلمانځه دلومړي شرط(پاکوالي) بيان

پـوښــتنه :دبدن پاکوالی څه ته وايي ؟

ځـــواب :دبدن پاکوالی دادی چې هيڅ ډول پلتي اونجاست پرې نه وي.

پـوښــتنه :پلتي (نجاست) څو ډوله دی ؟

ځـــواب : دوه ډوله ده : يوه حقيقي اودوهمه حکمي.

پـوښــتنه :حقيقي پلتي (نجاست) څه ته وايي ؟

ځـــواب :هغه ښکاره پلتي چې په سترګو ليدل کيږي حقيقي نجاست بلل کيږي لکه : وړې بولې (متيازې)، غټې بولې ، وينې ، او شراب.

پـوښــتنه :حکمي نجاست څه ته وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :هغه پلتي چې په سترګو نه لېدل کيږي خو د شريعت د حکم له مخې ثابته شوې وي حکمي نجاست بلل کيږي لکه : بې اودسي، جنابت.

پـوښـــتنه :دلمانځه لپاره له کوم ډول نجاست څخه دبدن پاکوالی ضروري دی ؟

ځـــواب :له دواړه ډوله نجاست څخه دبدن پاکوالی ضروري دی.

پـوښـــتنه :حکمي نجاست څو ډوله دی ؟

ځـــواب :دوه ډوله دی : لومړی کمکی حکمي نجاست چې حد ث اصغر ورته وايي ، دوهم غټ حکمي نجاست چې حد ث اکبر او جنابت يې بولي.

پـوښـــتنه :دکمکي حکمي نجاست څخه دبدن دپاکولو طريقه څه ډول ده ؟

ځـــواب :له کمکي حکمي نجاست څخه بدن په اوداسه سره پاکيږي.

داوداسه بيان

پـوښـــتنه :اودس څه ته وايي ؟

ځـــواب :کله چې سړی دلمانځه اراده وکړي ، نو په پاك لوښي کې دې پاکې اوبه را واخلي ، لومړی دې ترمړوندو پوري دواړه لاسونه ومينځي ، ورپسې دې درې واري په خوله اوبه ورغړوي ، مسواك دې ووهي ، بيا دې درې ځله پوزې ته اوبه واچوي او په کيڼ لاس دې پاکه کړي بيابه درې واري مخ ومينځي ، ورپسې دې درې واره دواړه لاسونه ترڅنګلوپورې ومينځي، بيا دې دسر او غوږو مسح وکړي ، بيابه دواړه پښې تر بيږيو ومينځي.

همدې ته اودس وايي چې دکولو طريقه يې تاسې د تعليم الاسلام په لومړی برخه کې لوستې ده.

پـوښـــتنه :آيا په اوداسه کې داتولې خبرې ضروري دي ؟

ځـــواب :نه ! په اوداسه کې ځيني شيان ډيرضروري دي ، اوکه پريښودل شي اودس نه کيږي هغوته فرض وايي ،اوځيني خبرې بيا داسې دي چې په کولو سره يې ثواب زياتيږي ، او که پاته شي څه زيان نه لري چې همدې ته مستحب وايي.

پـوښـــتنه :په اوداسه کې څو فرضونه دي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :په اوداسه کې څلورفرضونه دي:

1. دمخ مينځل دسرد ويښتانو دشنه کېدو له ځايه نيولې دزنې ترلاندې برخې پورې ،د يوه غوږ له نرمۍڅخه نيولې دبل غوږ ترنرمۍ پورې دي.

2.ترڅنګلو ورې دواړه لاسه (لومړی ښی اوبيا چپ) پرمينځل

3. دسر دڅلورمې برخې مسح کول.

4. ددواړو پښومينځل ترښنګرو(بېډيوپورې).

پـوښـــتنه :په اوداسه کې څو شيان سنت دي ؟

ځـــواب :په اوداسه کې ديارلس (13) شيان سنت دي.

1.داوداسه نيت.

2.بسم الله الرحمن الرحيم ويل.

3.اول ترمړوندو دواړه لاسه مينځل.

4.مسواك وهل.

5.خوله مينځل.

6.درى وراه په کيڼ لاس پوزې ته اوبه اچول.

7.دږيرې خلالول.

8.دلاسو اوپښو د ګوتو خلالول.

9.هراندام (غړی)درى وراه مينځل.

10.دټول سر مسح، يعني لوند لاس پرسرتيرول.

11.ددواړو غوږو مسح کول.

12.په ترتيب سره داندامونومينځل.

13.پيوسته اودس کول داسې چې يواندام لا وچ شوى نه وي سمدستي بل اندام پرېمنځل شي.

پـوښـــتنه :په اوداسه کې څوشيان مستحب دي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :په اوداسه کې پنځه (5)شیان مستحب دي:

.1له ښي اندام نه شروع کول ، چې ځینې علماءیې په سنتو کې شماري.

.2ورمږ(غاړه) مسح کول.

.3دبل چاله کومك پرته اودس کول.

.4قبلې ته مخامخ کښیناستل.

.5پرپاك او لوړ ځای باندې اودس کول.

پـوښـــتنه :په اوداسه کې څو شیان مکروه دي ؟

ځـــواب :په اوداسه کې څلور (4) شیان مکروه دي:

.1پرناولي ځای اودس کول.

.2په ښي لاس دپوزې پاکول.

.3په اوداسه کې دنیایي خبرې کول.

.4دسنت پرطریقې خلاف اودس کول.

پـوښـــتنه :اودس په څو شیانو سره ماتیږي ؟

ځـــواب :په اتو (8) شیانو سره اودس ماتیږي چې داوداسه نواقض یعني ماتوونکي ورته وایي:

.1غټې او وړې بولې کول، یا دهمدې دوو شرمځایونو څخه دیوبل شي وتل.

.2باد پریکېدل (دشاڅخه هوا وتل).

.3دبدن دیو ځایه څخه دوینې او نوونو بهېدل.

.4په ډکه خوله قی (کانګې)کول.

.5په پروتې اویا ډډه وهلو سره ویدېدل.

.6دناروغۍ او یا بلې وجې څخه بې هوښه کېدل.

.7لیونتوب.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

.8په لمانځه کې په زوره خندل.

دغسل بیـان

پـوښــتنه :دغې حکمي نجاست (حد ث اکبراوجنابت) څخه دبدن پاکولو طریقه څه ډول ده ؟

ځـــواب :بدن دحدث اکبر یا جنابت څگخه په غسل پاکیږي.

پـوښــتنه : غسل څه ته وایي ؟

ځـــواب :ټول بدن مینځلوته وایي ، چې په شریعت کې جلا طریقه لري.

پـوښــتنه :دغسل شرعي طریقه څه ډول ده ؟

ځـــواب :دغسل کولو طریقه داده چې : اول دواړه لاسونه ترمړوندو پورې پریمینځي بیا استنجا وکړي ، اوله بدن څخه حقیقي نجاست لرې کړي ، اودس وکړي بیا پربدن اوبه واچوي ، په لاس یې وموښي ، اوبیا پرې درې واره اوبه تیرې کړي، خوله کنګال اوپوزې ته به هم اوبه اچوي.

پـوښــتنه : په غسل کې څو فرضونه دي ؟

ځـــواب : درې (3)فرضونه دي:

1. خوله منیځل.
2. دپوزې مینځل.
3. ټول بدن مینځل.

پـوښــتنه : په غسل کې څو سنتونه دي ؟

ځـــواب : پنځه (5) ستونه دی:

.1ترمړوندو پورې دواړه لاسه مینځل.

.2استنجا کول، اودبدن پرکوم ځای چې نجاست وي ، هغه لرې کول.

.3دپلیتۍ دلرې کولوپه نیت غسل کول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

4.لومړی اودس کول.

5.دری واره پرټول بدن اوبه تیرول.

پرموزو دمسح کولو بیان

پــوښــتنه : مسح په کوم ډول موزو رواده ؟

ځـــواب :په دری ډوله موزو مسح کول رواده:

اول : دڅرمني موزي چې تربیډیو پوري پښې پکې پټې وي.

دویم: هغه وړینې موزې چې دڅرم تلی ولري.

دریم: هغه وړینې اوتارلرونکې موزې چې دومره پنډې او سختې وي چې په پښو شي په دری اویا څلور میله تګ څیري نه شي.

پــوښــتنه : مسح پرموزو کله رواده ؟

ځـــواب :کله چې اودس وکړې یا پښې ومینځې او موزې په پښوکړې ، اویادې د اوداسه دماتیدو په وخت کې په پښوويې.

پــوښــتنه : موزې چې په پښوشي ترڅو ورځو پرې مسح کیږي ؟

ځـــواب :که چیرې سړی په خپل کور اویا استوګنځي کې وي ، نو پوره یوه ورځ اویوه شپه پرې مسح کولای شي اوکه په سفروي نو درې ورځې اودرې شپې یې کولای شي.

پــوښــتنه : پرموزو مسح څه ډول کیږي ؟

ځـــواب :په پورته مخ باندې یې کول پکاردي دتلی اویا پوندې په لوري باندې مسح نه کیږي.

پــوښــتنه :په اوداسه اوغسل دواړو کې پرموزو مسح کیږي ؟

ځـــواب :په اوداسه کې په موزو مسح کیږي اوپه غسل کې نه کیږي.

پــوښــتنه : مسح بایدڅه ډول وشي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــواب :دلاسو ګوتې په اوبو لندې کړه ،دلاس درۍ ګوتې دې د ښنو پرګوتو کښېږده پورته خواته يې راکش کړه، دلاسو ګوتې پرموزو پوره کښګېږده يواځې دګوتو سرونه ايښودل کافي نه دي.

پـوښــتنه : په څيرې شوې موزه باندې مسح کيږي اوکه نه ؟

ځــواب :که موزه دومره څيري وي چې دپښو د دريو کوچنيو ګوتو په انداه ترينه پښه ښکاره شي ، اويا دتګ په وخت کې خلاصيږي پدغسې موزه مسح نه کيږي، اوکه له دې کمه څيرې وه بيا مسح پرې کيږي.

پـرپټۍ (جبـېره) د مسح بيـان

پـوښــتنه : جبيره (پټۍ) څه ته وايي ؟

ځــواب :جبيره هغه دړې ته وايې چې دمات شوې هډوکي د کوشيرولولپاره ترل کيږي خودلته له جبيرې څخه دړه ،دزخم پټۍ ياد مرهمو پټګۍ اوداسې نورې هرډول چې وي هغه ټولې مراد دي.

پـوښــتنه : پر پټۍ باندې څه وخت مسح کيږي ؟

ځــواب :که چيرته د پټۍ خلاصول اويا يې لرې کول نقصان ولري اويا په تکليف سره لرې کيږي نو پرهغه دړه او ياپټۍ باندې مسح رواده.

پـوښــتنه : دپټۍ پرکومه برخه باندې مسح کيږي ؟

ځــواب :پرټوله پټۍ مسح کول پکاردي،که لاندې يې زخم وي اوکه نه وي.

پـوښــتنه : که چيرته د پټۍ خلاصول نقصان اوتکليف نه رسوي ، نو بيايې حکم څه دی ؟

ځــواب :که چيرې په اوبو سره دزخم مينځل زخم ته ضرر ونه لري نومينځل يې ضروري دی ، اوکه مينځل ورته نقصان رسوي او مسح يې نه رسوي نو بيا پرزخم مسح کول واجب دی، اوکه چېرته مسح هم زخم ته زيان رسوي نو بيا هغه وخت يواځې پرپټۍ باندې مسح کول روادي.

دحقيقي نجاست بيان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتنه : حقيقي نجاست څو ډوله دی ؟

ځـــواب : دوه ډوله دی:

لومړی : غليظه نجاست – دوهم : خفيفه نجاست ،

پـوښــتنه : غليظه نجاست او خفيفه نجاست څه ته وايي ؟

ځـــواب :کومه پليتي چې سخته وي هغه ته غليظه نجاست وايي اوکومه چې سپکه وي هغه ته خفيفه نجاست وايي.

پـوښــتنه :غليظه نجاست کوم شيان دي ؟

ځـــواب :دانسان وړي او غټې متيازې دحيواناتو ګندګي: اودهغو حيواناتو متيازې چې غوښه يې حرامه وي ، دانسان اوحيوان بهينده وينه، شراب اودچرګانو اوهيليو ګندګي داټول غليظه نجاستونه دي.

پـوښــتنه : خفيفه نجاست کوم شيان دي ؟

ځـــواب : دهغو حيواناتو متيازې چې غوښه يې خوړل کيږي اودحرامو مرغانو ګندګي هم خفيفه نجاست دی.

پـوښــتنه :غليظه نجاست څومره اندازه ښنل کيږي ؟

ځـــواب :که غليظه نجاست کلك جسم ولري لکه : غټې متيازې نو هغه د درې نيمو ماشو دوزن په اندازه ښنل کيږي اوکه نری وي لکه : شراب، وړې متيازې نو هغه دانګريزي يوې روپۍ (1) په قدر ښنل کيږي د ښنلو مطلب دادی چې که له دومره اندازه نجاست سره چې پربدن يا کالو باندې لګيدلې وي لمونځ وشي نو لمونځ يې له غاړې ساقط شو ، خو مکروه به وي اوکه چيرته همدومره نجاست ته يې پام وي چې لګيدلی دی نو بيا يې لمونځ ورسره نه کيږي.

پـوښــتنه:

خفيفه نجاست څومره اندازه ښنل کيږي ؟

ځـــواب :که دجامې اوياهم د اندام دځګلورمې برخې له اندازې نه لږ کمه پرې پليته شوې وي ښنل کيږي اوکه نه نه ښنل کيږي.

پـوښــتنه :دحقيقي نجاست څخه جامه يابدن څه ډول پاکيدلی شي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــواب :حقيقي نجاست که غليظه او يا خفيفه وي په جامه اوکه په بدن وي درى واري په اوبو مينځلوسره پاکيږي خو دجامې درى واره نښتيځل هم ضروري دي.

پـوښـــتنه :له اوبو څخه پرته په بل شي سره پاکيدلی شي اوکه نه ؟

ځـــواب :هو! کوم شی چې نرى اوبهيدوکی وي لکه سرکه، يادهندوانې اوبه ، په هغو سره هم حقيقي نجاست پاکيږي.

داســتنجا بيـان

پـوښـــتنه :استنجا څه ته وايي ؟

ځـــواب :دغټو يا وړو متيازو له کولو وروسته کومه پليتي چې په شرمګاه لګيدلې وي دهغې پاکولوته استنجاء وايي .

پـوښـــتنه :له متيازو وروسته داستنجا کولوطريقه څه ډول وي ؟

ځـــواب :له متيازو وروسته په پاکه لوټه سره شرمګاه وچول اوبيا وروسته يې په اوبو سره مينځل پکار دی.

پـوښـــتنه :دمتيازو له کولو وروسته داستنجا طريقه څه ډول ده ؟

ځـــواب :دمتيازوله کولو وروسته شرمګاه بايد دخاورو په درى يا پنځو لوټو سره پاکه اوصافه کړئ اوبيايې په اوبو سره ومينځې.

پـوښـــتنه :داستنجا حکم څه دی ؟

ځـــواب :که چيرته غټې يا وړې بولې له خپل ځاى هاخوا او دې خوا تللې نه وي نو استنجا کول مستحب دي اوکه چيرته نجاست يوې خوا بلې خواته تللی وي ، خو دشرعي روپۍ په اندازه ياله هغه څخه کمه وي بيا استنجا کول سنت دي ،اوکه چيرته پليتي له يوه درهم څخه زيات خوره شوي وي نو بيا فرض دي.

پـوښـــتنه :په کومو شيانو سره استنجا کول پکاردي ؟

ځـــواب :دخاورو په پاکو لوټو او ياکاڼو (تيږو) سره.

پـوښـــتنه :په کومو شيانو استنجا مکروه ده ؟

ځـــواب :په هډوکی، ليدان، خوشايي اودخوراك په شيانو ،په جامو اوکاغذسره استنجا کول مکروه دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتنه :په کوم لاس سره استنجا کول په كارده ؟

ځــواب :په چپه لاس يې کول په كاردي په ښي لاس سره استنجا کول مکروه دي.

د اوبــو بيــان

پـوښــتنه :په کومو اوبو اودس رواد ی ؟

ځــواب :دباران، چينې ، ځاه، ويالې، درياب او ويلي شوې واوررې

يا درلی په اوبو ، دغټ تالاب يالوی حوض په اوبو په دې وارو اودس اوغسل دواړه روادي.

پـوښــتنه :په کومو اوبو اودس نه كيږي ؟

ځــواب :په لاندې اوبو سره اودس نه كيږي :دمېوې او ونو په نښتيځل شويواوبو ، ښورا، هغه اوبه چې رنګ او خوندېي ديو پاك شی د يوځای كيدو له امله بدل او ټينګې شوې وي دغه څېرهغه اوبه چې كمې وي او پليت شی پکې لويدلی وي ، او يا حيوان پکې مردار شوی وي ، اوهغه اوبه چې اودس ياغسل پرې وشي ، اويادپليتي اثر پرې غالب وي ، دحرامو حيواناتو څخه پاتي اوبه ، د سونف، ګلاب او يا نورو درملو نه ايستل شوې خوله.

پـوښــتنه :په کومو اوبو چې اودس اويا غسل شوی وي هغو ته څه وايي ؟

ځــواب :داسې او بو ته مستعملې اوبه وايي چې په خپله پاکې دي خو اودس او غسل کول پرې نه كيږي.

پـوښــتنه :دکومو حيواناتو نه پاته اوبه پليتي وي ؟

ځــواب :دسپي، خنزيراو ښکاري چارپای نه پاتي اوبه پليتي دي همدا راز دپشي چې موږك اويا بل حيوان يې په هغه ساعت خوړلی وي که اوبه وڅښي نو پاته اوبه يې پاتې شوني (پس خورده) او پاکې نه دي.

پـوښــتنه :دکومو حيواناتو پاته شوني اوبه مکروه دی ؟

ځــواب : دپشۍ نه پاتې اوبه په دې شرط چې سمدستي يې موږ ك خوړلی نه وي ، موږ ك ، شرموښکی ، کوڅه ګښتې چرګې، نجاست خوړونكي غوا، مېښې، كارغه، څرخك، شاهين، اوهمداځيردنورو ټولو حرامو حيواناتو پاته شوني (پسخورده) مکروه ده.

پـوښــتنه :دکومو حيواناتونه پاته اوبه پاکې وي ؟

ځــواب :دانسان، اوحلالو حيواناتو پاته اوبه پاکې دي ، لکه : غوا، غوايی، وزه، کوتره، زرکه، آس.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه :دنجاست په لویدلو سره کومې اوبه پلیتیږي ؟

ځواب :له دوه ډوله اوبو پرته نورې ټولې اوبه مرداریږي او هغه دوه ډوله اوبه دادي:

اول : دویالې اودریاب رواني اوبه.

دویم : ډیرې ولاړې اوبه ، لکه : دغټ تالاب یا لوی حوض اوبه.

پوښتنه :دډیرو ولاړو اوبو اندازه څومره ده ؟

ځواب :کومې ولاړې اوبه چې په نمبري گز(1) سره پنځه نیم گزه اوږدوالی او پنځه نیم گزه پلنوالی ولري هغه ډیرې اوبه بللی شي ، کوم حوض یاتالاب چې همدومره اندازه غټ وي ، غټ حوض اوغټ تالاب بلل کیږي.

پوښتنه :لړاوبه دپلیتي له ورلوېګدلو پرته په بل کوم شي مرداریږي.

ځواب :که په اوبو کې داسې حیوان ولویږي اومړ شي چې بهیدونکې وینه ولري نو اوبه مرداریږي لکه : چرگه، کوتره، پشي، موږك.

پوښتنه :دلوی تالاب یاحوض اوبه څه وخت مرداریږي ؟

ځواب :کله چې په اوبو کې دنجاست خوند، رنگ، او یا بوی ښکاره شي.

پوښتنه :هغه کوم حیوانات دي چې په اوبو کې مړه هم شي اوبه نه مرداریږي.

ځواب :کوم حیوانات چې په اوبو کې پیداکیږي او هلته اوسیږي لکه : ماهی، چونگښه. اودغه څېر هغه حیوانات چې بهیدونکي وینه نه لري لکه : مچ، میاشی، کرړی ، شرموښکی ، میږتون، په اوبوکې ددې شیانو په مرگ سره اوبه نه مرداریږي.

د څاه بیان

پوښتنه :په کومو شیانو سره څاه مرداریږي ؟

ځواب :کله چې څاه ته غټ اویا سپك نجاست ورسیږي اویا یو داسې حیوان چې بهیدونکي وینه ولري څاه ته ورولویږي او یکې مړشي چې بهیدونکې وینه ولري نو څاه مرداریږي.

پوښتنه :که چیرته څاه ته یو حیوان ولویږي ، او ژوندبیرته راوخیږي نو دڅاه اوبه به پاکې وي که ناپاکې ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــواب :كه يوداسې حيوان وي چې پاتې شونې يې پاكه وي او پربدن يې نجاست هم نه وي كه په څاه كې ولوېږي او ژوندى راوخيژي نو ترڅو پورې چې يې هلته د دوړو اوغټو بولو په كولو يقين نه وي راغلى څاه به پاكه وي.

پـوښــتنه :څاه چې پليته شي دپاكيدلو طريقه يې څه ډول ده ؟

ځــواب :دڅاه دپاكيدو پنځه طريقې دي:

-: 1كله چې څاه ته پليتي ولوېږي نو دټولو اوبو په راكښلو سره هغه پاكيږي.

-: 2كله چې څاه ته انسان يا خنزير يا سپى يا اوزه يادوه پشيانې او ياد دوى په اندازه له دوى څخه لوى يو بل حيوان ورولوېږي او پكې مړشي نو دڅاه ټولې اوبه رااېستل په كارد ي.

-: 3كله چې څاته داسي حيوان ورو لوېږي چې بهينده وينه ولري او وپړسيږي او يا وشړيږي نو بيا به دڅاه ټولې اوبه راويستل كيږي كه حيوان غټ اوياهم وړوكى وي.

-: 4كله چې كوتره يا چرګه يا پشي يا هم دومره بل لوى حيوان ورو لوېږي او هلته مړ شي خو ونه پړسيږي نو څلويښت بوكې (ستله) اوبه راكښل په كاردي.

-: 5كه چيرې موږك يا مرغۍ اوياهم همدومره لوى يو بل حيوان څاه ته ولوېږي اوهلته مړشي نو بيا به شل بوكې اوبه راكاږي ، دشلو پرځاى ديرش اودڅلويښتو په ځاى شپيته بوكې راكښل مستحب دي.

پـوښــتنه :كه مړ حيوان څاه ته ولوريږي نوبيا يې حكم څه دى ؟

ځــواب :دمړه حيوان دورلويدو حكم هم هغه دى كوم چې څاه ته دژوندي حيوان دورلويدو او مړكيدو په هكله بيان شو مثلاً : كه مړه اوزه ور ولوېږي ، نو ټولې اوبه به راكاږي اوكه مړه پشي ورو لوېږي نوڅلويښت يا شپيته ، اوكه مړ موږ ك ورولوېږي نوشل يا ديرش بوكې به راكاږي.

پـوښــتنه :كه پړسيدلى اويا شړيدلى حيوان څاه ته ورو لوېږي نو حكم يې څه دى ؟

ځــواب :ټولې اوبه به راكاږي چې څاه ته ژوندى حيوان ور ولويدلى او پړسيدلى وي.

پـوښــتنه :كه له څاه څخه مړ حيوان راوخيژي ، اودامعلومه نه وي چې كله ور لويدلى وْ نو حكم يې څه دى ؟

ځــواب :كوم وخت چې وليدل شي له همغه وخت څخه څاه ناپاكه ګڼل كيږي.

پـوښــتنه :له بوكې يا ستل څخه مرادڅومره غټه بوكه ده ؟

ځــواب :په څاه چې كومه بوكه وي همغه اعتبار لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتنه :دڅومره بوکو راویستل چې ضروري وبلل شي نو په یو وار به یې راکاږي اوکه په څو وارو یې هم راویستل روادي ؟

ځــواب :په ډیرو وارو سره یې هم راکښل روادي مثلاً : که شپیته بوکې راویستل کیږي نو شل سهار شل غرمه اوشل ماسپښین راوباسي نو داهم روادی.

پـوښــتنه :په کومه بوکه او رسۍ چې دمرداري څاه اوبه راویستل کیږي هغه به پاك وي اوکه نه ؟

ځــواب : کله چې دومره اوبه راویستل شي دڅومره اوبو راویستل چې ضروري وي نو په دې سره بوکه او رسۍ دواړه په خپله پاکیږي پکې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه

لومــړۍ څــانـګه

تـعلیـم الایمان

داسلامي عـقایـدو زده کړه

بســـم الله الرحـــمن الـــرحـــيم

نحمدالله العلی العظیم ونصلي علی رسوله الکريم

تـــوحـيـــد

پـوښــتـنـه : توحید څه ته وايي ؟

ځـــواب : په زړه سره الله تعالی یو ګڼل اوپه ژبه سره دهمدې خبرې اقرار ته، توحيد وايي ؟

پـوښــتـنـه : دالله تعالی یو والي خلکو ته څه ډول معلوم شوی ؟

ځـــواب : اول:خودانسان عقل (په دې شرط چې عقل روغ وي) دالله تعالی په شته والي (وجود) او یووالي (وحدانیت) باور لري له همدې امله ده چې په دنیا کې څومره سترستر عقلمندان، حکیمان او فلسفيان تیرشویدي هغوی ټولو دالله تعالی په وحدانیت (یووالي) اقرارکاوه.

دوهم:داچې دالله تعالی ټولو پیغمبرانوu خلکوته دتوحيد لارښوونه کړي اودايي ويلي چې الله تعالی یو دی، سیال نه لري.

پـوښــتـنـه : ایا په قرآن کريم کې د توحید ښوونه (تعلیم) شوی ؟

ځـــواب :هو ! په قرآن کريم کې دتوحيد ښوونه په پوره اوښه ډول سره شوې، بلکې نن په دنیا کې یواځې قران کريم داسکتاب دي چې دتوحيدښوونه کوي ، که څه هم په مخکني اسماني کتابونو کې د توحيد ښوونه وه، خو په هغو ټولو کتابونو کې خلکو تحريف (رد وبدل) کړی اودتوحيد خلاف خبري يي ورداخلي کړې، اودالله تعالی رالیږلي اسماني ښوونه يي بدلې کړې دهغو دسموالي ،اوددي لپاره چې نور ريښتینی توحيد خپورشي الله تعالی حضرت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد e راوليږه اوخپل خاص (ځانګړی) کتاب قران کريم يي پرې نازل کړ اوپه هغه کې يي د سوچه، ريښتيني اوخالص توحيد ښوونه کړې.

پـوښــتـنـه : دقران مجيد له کومو اياتو نه توحيد ثابتيږي ؟

ځـــــواب :ټول قرآن کريم له اوله تر آخره د توحيد له لارښوونو ډك دی يو څو اياتونه يې دادي :

ستاسو معبود يو الله دی دهغه څخه پرته بل معبود نشته هغه خورا لوروونکی اوښه مهربانه دی.

]سوره بقره 163 ايت[

دوهم آيت دادی :

]آل عمران 17 ايت[

الله تعالی شاهد دی چې له ده Y نه پرته بل معبود نشته، ملائکې او دعلم خاوندان هم ددې خبرې ګواهي ورکوي ،هغه انصاف راوستونکی دی له هغه پرته بل معبود نشته هغه زورواود حکمت څښتن دی.

همداراز نور بې شمير ه اياتونه دالله تعالی د يووالي ښوونه کوي لکه :] قل هوالله ٱحد[(ووايه ای پيغمبره چی الله يو دی) اوداسې نورايتونه.

پـوښــتـنـه : دخدای تعالی ذاتي نوم څه دی ؟

ځـــــواب : دخدای تعالی ذاتي نوم الله Yدی چې اسم ذات او ذاتي اسم هم ورته وايي.

پـوښــتـنـه : د الله Y له نامه پرته د خدای تعالی نورو نومونو لکه خالق، رازق، اوداسې نوروته څه وايي ؟

ځـــــواب : دالله تعالی دغه ډول نومونو ته صفاتي نومونه وايي.

پـوښــتـنـه : دصفاتي نوم معنا څه ده ؟

ځـــــواب :داچې‌الله تعالی ګڼ صفتونه لري، لکه قديموالی، (يعني تل تر تله او هميشه پاتې کيدل) ، عالم (په هر شي پوهيدل)، قادر(پرهر شي قدرت لرل)، حیّ (ژوندي کول)، اوداسي نور، کله چې يو صفت له دې صفاتو څخه ښکاره کړي هغه ته صفاتي نوم وايي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مثال يې ځان داسي پوه کړيْ چې ديو سړي نوم (جميل) دی او يواځې د ده د ذات د پيژندني لپاره ايښودل شوی دی په دې کې دهيڅ صفت لحاظ نه دی ساتل شوی خو که چيرته ده ليك زده کړی وي اودينې علوم يې لوستلي وي ،قران کريم يې هم يادي کړی وي، ددې صفتونو له امله دی عالم ، محرر اوحافظ هم بلل کيږي، نو جميل دده ذاتي نوم او عالم، محرر، اوحافظ دده صفاتي نومونه دي، ځکه دانومونه ددينې علومودزده کړې اوقران کريم دياد‌ولو دستاينې له لحاظه پرې ايښودل شوي.

همداځېر الله Y خو دخدای تعالی ذاتي نوم يا اسم ذات دی او خالق، قادر، عالم، مالك، او نور يې صفاتي نومونه دي.

پـوښـتـنـه : دالله تعالی ذاتي نوم خوګ يو دی دهغه صفاتي نومونه څو دي ؟

ځـــــواب : په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايلي :

الله تعالی لره ګڼ شمير ښه نومونه دي نو تاسو يې په هغو نومو نو سره وبوليْ.

په حديث شريف کي دي:

"اِن لله تـعالی تسعـی وتسعـين اِ سماً، مـائی اِلا واحـداً". [بـخـاري]

بي شکه دالله تعالی نه نوي (99) يعني يوکم سل نومونه دي.

مــلائـــکـــې

پـوښـتـنـه : له مقربو ملائکو پرته دنورو ټولو ملائکو مرتبه په خپل منځ کي برابره ده اوکه کمه يا زياته ده ؟

ځـــواب : څلور مقربې ملائکې چې نومونه يې تاسو دتعليم الاسلام په دوهمه برخه کې ولوستل ترټولو ملائکو غوره دي خو له دوی پرته نورې ملائکې هم شته چې په خپلو منځو کې دکمې اوزياتې مرتبې لرونکې دي داسې چې ځينې يې ډيرې مقربې اوځيني لږ مقربې دي.

پـوښـتـنـه : ملائکې څه کارکوي ؟

ځـــــواب : په ټولو اسمانو اوځمکو کې بې شميره ملائکې پر بيلابيلو کارو بوختې دي لنډه داچګې داسمانو اوځمکوټول کارونه الله تعالی ملائکو ته ورله غاړې کړی اوملائکې يې دالله تعالی له حکم سره سم سرته رسوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښـتـنـه : دملائکو یوڅو کارونه راته بیان کړه ؟

ځـــواب : حضرت جبرائیلu به دالله تعالی پیغام، احکام اوکتابونه پیغمبرانو ته راوړل او کله نا کله به دانبیاوْ دمرستې لپاره اود الله Y اودرسول e ددښمنانو سره دجنګ لپاره هم رالیږلې شوې ده، دهمدې په وسېګله ،په ځینو وختونو کې دالله تعالی پریاغي (نافرمانه) بندګانو باندي عذاب هم نازل شوی.

حضرت میکائیل u مخلوق ته دروزي رسولو، باران او رولو، اونورو کارونو په برابرولو باندې بوخته ده اوبې شمېره ملائکې یې ترامر لاندي کار کوي ځیني یې پر دریابونو، سندونو، تالابونو او اور باندې مقررې دي ، دوی ټولې دالله تعالی له حکم سره سم کارونه سرته رسوي.

حضرت اسرافیل u به دقیامت په ورځ شپیلۍ وهي ، حضرت عزرائیل u دمخلوق د ارواوو (روح) په اخیستو مقرره ده اوډېرې ملایکې یې تر امر لاندي کارکوي.

دنیکو بندګانو اروا اخیستونکې ملائکې جلا اود بدکارو انسانانو جلادي، او له دې پرته دملائکو یو ځو نور کارونه دادي:

-1دهرانسان سره دوه ملائکې وي یوه یې ښه عمل اوبله یې بداعمال لیکي ، دواړوملایکوته "کرام الکاتبین "وایي.

-2 ځیني ملائکې له آفتونو او بلاوْ څخه دانسانانو پر ساتنه مقررې دي دماشومانو، سپین ږیرو، ضعیفانو نه پرته دهغو انسانانو ساتنه هم کوي چې په اړه یې الله تعالی ورته دساتنې امروکړې.

-3 ځینې ملائکې دانسان له مرګه ورو سته په قبر کې له هغه نه پوښتنې کوي اودهر انسان قبر ته له خښېدو روسته دپوښتنو لپاره دوه ملائکې راځي یوې ته نکیر او بلې ته منکر وایي.

-4 ځیني ملایکې بیاپه دنیا کې ګرځي اوچیرته چې دالله تعالی ذکر او وعظ کیږي یا قرآن کریم لوستل کیږي هلته حاضریږي اوڅومره خلک چې په هغه مجلس اویادې نیک کار کې اخته وي دالله تعالی په وړاندې دهغوی په ګډون شاهدي ورکوي؛ په دنیا کې چګې څومره ملائکې کارونه کوي هغوی سهار اوماښام بدلیږي د سهار دلمانځه په وخت کې دشپې ملایکې اسمانوته خیږي اودورځې ملایکې راکوزیږي بیادمازدیګر له لمانځه وروسته دورځې ملائکې ځي اودشپې کارکوونکې ملایکې راځي.

-5 ځیني ملایکې بیادجنت پر کاروبوختې دي.

-6 ځیني نورې ملایکې بیاددوزخ پرانتظام بوختې دي.

-7 ځینو ملایکو دالله تعالی عرش پورته نیولی دی.

-8 ځیني نورې ملایکې بیا دالله تعالی په عبادت، تسبیح، او پاکي بیانولو کې اخته دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتـنـه : داله څه معلومه شوه چگې ملايکې دومره کارونه کوي ؟

ځــــواب : داټولې خبرې په قران کريم او احاديثوکې راغلي دي.

د خدای تعالی کتابونه

پـوښــتـنـه : داڅرنگه معلومه شوه چې تورات، زبور او انجيل هم اسماني کتابونه دي ؟

ځــــواب : دقرآن کريم څخه ثابتيږي چې دادري واړه کتابونه اسماني دي د تورات په هکله الله تعالی فرمايي:

له شکه پرته موږ تورات نازل کړی په هغه کې هدايت او نوردی.

دزبورپه هکله يې فرمايلي: [وﺁتينا داودَ زبوراً] دسورت نساء 163ايت . موږ داود uته زبور ورکړ.

دانجيل په هکله فرمايي :]وقفينا بعيسى ابن مريم وﺁتينه الرنجيل [(دحديد سورت 27 ايت] موږ حضرت عيسى بن مريم uراوليږه اوهغه ته مو انجيل ورکړ.

نو مسلمانانو ته دقران کريم په واسطه دامعلومه شوه چې دا دری سره کتابونه اسماني دي.

پـوښــتـنـه : که چېري يو څوك تورات، زبور، انجيل دالله تعالی کتابونه نه بولي نو هغه څرنگه دي ؟

ځــــواب : هغه کافردی ځکه چې دقران کريم نه داخبره جوته شوې چې دا واړه دالله تعالی کتابونه دي څوك يې چې د الله تعالی کتابونه نه گڼي هغه دقران کريم ښوولې خبره نه مني اوڅوك چې دقران کريم ښوولې خبره نه مني هغه کافردی.

پـوښــتـنـه : آيا هغه تورات، زبور، انجيل کوم چې نن د عيسايانوپه لاسوکې دي هغه اصلي اسماني کتابونه دي ؟

ځــــواب : نه ! ځکه دقران کريم نه داخبره ثابتيږي چې دوی اصلي اسماني کتابونه بدل کړي دي او اوس ددوی په لاس کې چې کوم تورات، زبور اوانجيل دي هغه اصلي اسماني کتابونه نه دي بلکې په هغوکې تحريف (ردوبدل) شوی ، له دې امله بايد په اوسني وخت کې په دې کتابونو باندې داعقيده ونه ساتل شي چې گويادا هغه اصلي کتابونه دي.!

پـوښــتـنـه : داڅه ډول معلومه شوه چې پرڅينو پيغمبرانو صحيفې هم نازلې شوې دي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب :دقران کريم څخه ثابته ده چې پرځينو پيغمبرانو صحيفې نازلې شوې، دحضرت ابراهيم uدصحيفې يادونه په سورت "الاعلى" کې راغلې.

پـوښـتـنـه :قران کريم دخداى تعالى کتاب دى اوکه يې کلام دى ؟

ځـــــواب : قران کريم دخداى تعالى کتاب اوهم يې کلام دى په خپله په قران کريم کې ورته کتاب او کلام دواړه ويل شوي دي.

پـوښـتـنـه :دخداى تعالى په اسماني کتابو (تورات ، زبور، انجيل او قران کريم) هريوه کې کوم يو کتاب غوره دى ؟

ځـــــواب : قران کريم ترټولو افضل اوغوره دى.

پـوښـتـنـه : قران کريم په مخکنيو کتابونو څه غوره والى اوځانګړتياوې (خصوصيت)لري ؟

ځـــــواب : ډيرې ځانګړتياوې لري دهغو څخه يې يو څو دادي:

اول ــ داچې دقران کريم يو يو تورى او يويو لفظ ساتل شوى په يوه نقطه کې يې هم نه کموالى او نه هم زياتوالى راغلى دى اونه به دقيامت ترورځې پکې راشي، خو په نورو اسماني کتابونو کې خلکو زياتوالى او کموالى راوستى.

دوهم ــ داچې دقران کريم متن عاجزه کونکى (مُعجز) دى په دې معنا چې متن يې دداسې لوړې ادبي درجې دى چې دقران کريم ديو کوچني او ووکي سورت په څير هم هيڅو ك ددې وس نه لري چې داسې متن جوړ کړي.

دريم ــ داچې قران کريم دوروستني شريعت احکام له ځانه سره راوړي دي ځکه خو يې دمخکنيوکتابونو ډيرحکمونه منسوخ يا له منځه يوړل.

څلورم ــ داچې مخکې کتابونه به په يو وار پوره نازلېدل خوقران کريم ددرويشتو "23" کالو په موده کې د ضرورت په اندازه لږ لږ نازليده اودضرورت په وخت کې دلږ ،لږ نازلېدو له امله يې دخلکو په زړونوکې ځاى ونيو اوپه سلګونو اوزرګونو انسانانو دهغه حکمونه ومنل اومسلمانان شول.

پنځم ــ داچې قرانکريم دزرهاوواولکونو مسلمانانو په سينوکې ساتلى اوخوندي پروت دى اوداډول ساتنه درسول کريم e له مبارکې زمانې نه تراوسه پورې په پرلپسې ډول روانه ده او انشاء الله تر قيامته پورې به روانه وي اوپه سېنوکې يې دساتنې له امله تر ننه پورې داسلام دښمنانوته هيڅ وخت هم ددې موکه په لاس ورنه غله ،چې په قران کريم کې څه کموالى يا زياتوالى راولي او يا يې له دنيا نه ورك کړي اونه به ــکه خداى کول ــتر قيامته پورې داسې موکه په لاس ورشي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ـ داچې دقرانکریم احکام داسې معتدل (منځ ومیانه)دي چې له هر وخت اوهرولس سره سمون لري په دنیاکې هیڅ داسې قوم نشته چې هغوی پرقرانکریم باندې دعمل کولو نه بې وسه وي، داځکه چې دقرانکریم احکام دهرې زمانې اوهر قوم سره مناسبت لري ځکه خو دقران کریم له نزول وروسته بل شریعت او یا بل اسماني کتاب ته اړتیا نشته اودرسول الله e دنبوت ټولې دنیا لپاره عام ګرځول شوی دی.

پیغمبران علیهم السلام

پـوښــتـنـه : دټولو پیغمبرانو شمیر اونومونه معلوم نه دي خو دیو څو مشهوره پیغمبرانوu نومونه راته بیان کړه ؟

ځـــــواب : دیوڅو مشهوره پیغمبرانو uنومونه دادي:

حضرت آدم uحضرت شیثu، حضرت ادریسu، حضرت نوحu، حضرت ابراهیم u، حضرت اسماعیلu، حضرت اسحق uحضرت یعقوبu حضرت یوسف u حضرت داوْد uحضرت سلیمانu حضرت موسی u حضرت هارونu ، حضرت زکریاu ، حضرت یحییu ، حضرت الیاسu ، حضرت یونسu ، حضرت صالح u، حضرت لوط u، حضرت هود u، حضرت شعیب u، حضرت عیسیu ، حضرت خاتم النبیین محمد. r

پـوښــتـنـه : حضور اکرم e دعربو له کومې قبیلې نه دی ؟

ځـــــواب : حضور e دقریشو له قبیلې نه دی، دعربو په ټولو قبیلو کې دقریشو قبیله تر ټولو زیاته دعزت اومرتبې خاونده وه او دقریشو دقبیلې خلك به دعربو په نوروقبیلوکې سرداران ګڼل کیدل، بیا دقریشو دقبیلې یوه څانګه چې دبني هاشم په نامه یادیده او دقریشود قبیلې د نورو څانګو په پرتله ډیر زیات دعزت خاوندان وو ،پیغمبر e دهمدې قبیلې څخه وو، ځکه خوپیغمبر r ته هاشمي هم ویل کیږي.

پـوښــتـنـه : هاشم څوك وْ دچااولادې ته بني هاشم ویل کیږي ؟

ځـــــواب : دپیغمبر rدنیکه نوم هاشم دی د پیغمبر rدنسب لړۍ داسې ده : محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف.

پـوښــتـنـه : دپیغمبر eپه پښت کې له له حضرت ادمuنه وروسته بل پیغمبرهم شته اوکه نه ؟

ځـــــواب : هو ! دی مباركe دحضرت اسماعیل uله اولادې څخه دی اوحضرت اسماعیل دحضرت ابراهیم u زوی دی، له دوی دواړو نه پرته حضرت نوح u اوحضرت شیث u هم د حضور e دنسب په لړۍ کې راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : حضرت محمد eدځو کالو په عمر پیغمبر شو ؟

ځواب : دپیغمبر eمبارك عمر څلویښت کاله وْ چي وحي پرې نازله شوه.

پوښتنه : د وحي مانا څه ده ؟

ځواب :دوحي مانا داده چي خدای تعالی خپل احکام اوخپل کلام پرپیغمبر نازل کړي.

پوښتنه : پیغمبر eدوحي له نازلېدو وروسته نورڅومره وخت ژوندی وو ؟

ځواب :درویشت کاله ژوندی وْ ،دیارلس کاله يې په مکه معظمه کې او لس 10 کاله يې په مدینه منوره کې تیر کړل.

پوښتنه : مدینې منورې ته دی مبارك eولې تللي وْ ؟

ځواب : کله چې پیغمبرr دمکې معظمې خلکوته دالله تعالی دیووالي ښوونه کو له اوهغوی ته به يې فرمایل چې بت پرستي پرېږدې اوپرېوه الله تعالی ایمان راوړي ؛نو هغه خلك يې دښمنان وګرځېدل ځکه هغوی دبتانو عبادت کاوه اوهغه يې خدایان ګڼل ،دوی پیغمبر eته ډول ډول تکلیف رسولو هڅې پیل کړې پیغمبر eدهغوی دکېنې اودښمنۍ له امله سخت تکلیفونه ګالل او هغوی ته به يې دتوحید ښوونه کوله اوپه پرلپسې ډول يې دخدای تعالی حکمونه خلکوته رسول خو کله چې دهغوی دښمني له کچې زیاته شوه، اوتږلو په یو وار سره دپیغمبر eدوژلو اراده وکړه نوپیغمبر eدالله تعالی په حکم سره خپل ګران وطن (مکه معظمه) پرېښودله اومدینې منورې ته مهاجرشو.

د مدینې منورې خلك چې لا پخوا مسلمانان شوي وْ، دوی مدینې منورې ته دپیغمبر e دراتګ ډیره تلوسه لرله کله چې پیغمبر مدینې منورې ته ورسیده نودهغه ځای مسلمانانو دپیغمبر eاودهغه دملګرو سره مالي اوځاني دواړه ډوله مرستې وکړې.

مدیني منورې ته دپیغمبر eدورتګ دخبر په اوریدو نور مسلمانان هم کوم چې کافرانو ځورول ،په کراره کراره مدیني منورې ته وکوچېدل ، له مکې معظمې نه مدیني منورې ته تګ هجرت بلل کیږي اوهغومسلمانانوته مهاجرین وایي کوموچې خپل کورونه په مکه معظمه کې پرېښودل اومدیني منورې ته مهاجرشول، اودمدیني منورې مسلمانانو ته انصار وایي کومو چې دپیغمبر e اومهاجرینو سره مرسته کړې وه.

پوښتنه : دنبوت له دعوي نه مخکې عربو دده مبارك e په اړه څه فکر کاوه ؟

ځواب : دنبوت له دعوی دمخه ټولو خلکو دی مبارك eډیر رښتینی، پاك اوامانت داره شخصیت ګڼه او " محمد امین" به يې باله، لنډه داچې دی مبارك دهغوی په وړاندې ډیر داعتباروړ او رښتینی انسان وْ ، ټولو خلکو به يې ډیر عزت او احترام کاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتــنـه : ددي خبرې دليل څه دی چې حضرت محمد e ترټولو وروستی پيغمبر دی او له ده نه وروسته به بل هيڅ نبي رانه شي ؟

ځــــواب : اول :- داچې په قران مجيد کې الله تعالی ده مبارك ته د" خاتم النبيين"(وروستی پيغمبر)لقب ورکړی مطلب يې دادی چې دی په ټولو پيغمبرانو کې وروستی پيغمبردی.

دويم :- داچې پيغمبرre رمايي دي " اناخاتمُ النّبيين لانبّيَ بعدي " زه وروستی پيغمبر يم له ماوروسته بل پيغمبر نشته.

دريم :- داچې الله تعالی په قران کريم کې فرمايي :] اليومَ اَکملتُ لکُم دينکم واَتممتُ عليکم نِعمتی ورضيتُ لکمُ الاِسلام ديناً [دسورت المائده 3 ايت.

"ما له نن روځې نه تاسي ته ددين ټول احکام ورسول اوخپل نعمت مې تاسې ته په بشپړه توګه وسپاره اوستاسې لپاره مې داسلام دين خوښ کړ."

له دې نه دامعلومه شوه چې د پيغمبر rپه وسيله الله تعالی خپل دين بشپړ کړ اواسلام په هرډول بشپړ اومکمل دين وګرځيد ځکه خو دبل پيغمبر راتګ ته حاجت نه شته.

پـوښــتــنـه : ددي خبرې دليل څه دی چې پيغمبر eله نورو ټولو پيغمبرانو u نه درتبې په لحاظ غوره او ستردی ؟

ځــــواب : ترټولو پيغمبرانو uدنبي e غوره والی دقران کريم ديو شميرآّياتونو نه معلوميږي، اوپخپله پيغمبر e هم فرمايي :" انا سيّدوُلد آّدم يوم القيمیٰ": دقيامت په ورځ به زه دآّدم uداولادونو سرداريم ، او ښکاره خبره ده چې دآّدم u په اولاده کې ټول پيغمبران u راځي ، ځکه نو دنبي کريم e له ټولو پيغمبرانو غوره اودهغو سردار وګرځېد.

صــحـابـه کـرامy

پـوښــتــنـه : صحابي چاته وايي ؟

ځــــواب : صحابي هغه چاته وايي چې پيغمبر eيې دايمان په حالت کې ليدلی وي اويا دده مبارك e په مخ کې حاضرشوی وي اوبيادايمان په حا لت کې مومن وفات شوی وي.

پـوښــتــنـه : صحابه y خومره دي ؟

ځــــواب : په زرګونو دي کوم چې دپيغمبر eپه خدمت کې حاضر او په ايمان مشرف شوي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتـنـه : ټول صحابه y دمرتبې په لحاظ په په خپل منځ کې سره برابر دي او که کموالی اوزیاتوالی لري ؟

ځــــواب : دصحابه و y مرتبې په خپل منځ کې کمې اوزياتې دي خوواړه له پاتې ټول اُمت نه غوره دي.

پـوښــتـنـه : په صحابه کرامو y کې ترټولو غوره صحابي څوك دي ؟

ځــــواب :په صحابه کرامو کې څلورصحابه له ټولو غوره دي:

اول :- حضرت ابوبکرصديق tچې ترټول امت غوره دي.

دوهم :- حضرت عمرفاروق tچې دحضرت ابوبکرصديق tڅخه وروسته بيا ترټول امت غوره دی.

دريم:- حضرت عثمان غنيtکوم چې دحضرت ابوبکرصديق اوحضرت عمرفاروق y نه وروسته بياترټول امت غوره دی.

څلورم :- حضرت علي tکوم چې له حضرت ابوبکر صديقt، حضرت عمرفاروقt، حضرت عثمان tڅخه وروسته ترټول امت غوره دی اوهمدغه څلوربزرګان د دپيغمبر eوروسته دده مبارك خليفه ګان(ځاناستي) دي.

پـوښــتـنـه : دخليفه معناڅه ده ؟

ځــــواب :دنبي eله وفات وروسته ددين يوشخص چې ددين دهغوکارونوپه سرته رسولوکې دده eپه ځاناست(قايم مقام)وي کوم به چې ده e په خپل ژوند کې سرته رسول خليفه بلل کيږي دخليفه معنا ده قايمقام " ځای ناستی" اونائب.

دحضورeله وفات وروسته ټولو مسلمانانو په يو اتفاق سره حضرت ابوبکرصديق tدنبي e قائم مقام وګرځاوه له همدې کبله دی لومړی خليفه دي.

دده مبارك نه وروسته حضرت عمر فاروق tدوهم خليفه شو له هغه وروسته بياحضرت عثمان tدريم خليفه شو له هغه وروسته بياحضرت علي tڅلورم خليفه وګرځيد.

همدې څلورو ته خلفاء اربعه ، خلفاء راشده اوچاريار يعني څلورياران هم وايي.

د خدای تعالی دوستان(اولـيـاء الله)

پـوښــتـنـه : ولي چا ته وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب :کوم مسلمان چې دالله تعالی اودپیغمبر eدحکمونو پیروي کوي، ډیر زیات عبادت کوي ، له ګناوو ځان ساتي ، ددنیاله ټولوشیانوزیاته مینه او محبت یې دالله تعالی اودهغه درسول سره وي داسي مسلمان الله تعالی ته نژدې اوپرې ګران وي ،او هغه ته ولي) د خدای Yدوست (وایي.

پـوښـتـنـه : دولي نښانې څه وي ؟

ځــــواب :دولي نښه اوعلامه داده چې هغه مسلمان ، متقي او پرهیزګار وي ، ډیر زیات عبادت کوي اودالله تعالی اودهغه درسول e محبت اومینه پرې غالبه وي ،ددنیا حرص نه لري اوداّخرت فکرتل ورسره وي.

پـوښـتـنـه : صحابي ته "ولي" ویل کیدای شي ؟

ځــــواب : هو ! ټول صحابه y ولیان وو ، دپیغمبر e دصحبت له برکته دهغوی په زړو دالله اودهغه درسول مینه غالبه وه، له دنیاسره یې هیڅ مینه نه لرله ، ډیر زیات عبادت به یې کاوه له ګناوو به یې ځانونه ساتل دالله Y اورسول eدحکمونو پیروي به یې تل کوله.

پـوښـتـنـه : آیاصحابي یاولي دیو پیغمبر درجې ته رسیدای شي ؟

ځــــواب : هیڅکله نه ! صحابي یاولي چې څومره لوړه درجه ولري بیاهم دهیڅ یو نبي سره برابریدلی نه شي.

پـوښـتـنـه : داسي ولي چې صحابي نه وي دیوصحابي درجې ته رسیدای شي ؟

ځــــواب : نه ! دصحابي فضیلت ډیر زیات دېله همدې امله هیڅ یو ولي (چې صحابي نه وي) په مرتبه کې له صحابي سره برابر یا له هغه پورته کیدلی نه شي.

پـوښـتـنـه : ځینې کسان دشریعت خلاف کارونه کوي مثلاً : لمونځ نه کوي یا ږیره خریي خو خلك یې بیاهم ولیان ګڼي ، نوداسي خلك ولیان بلل څرنګ دي ؟

ځــــواب : بومخ غلط دي ، تل موباید په یاد وي : داسي څوك چې کړه وړه یې دشریعت په خلاف وي هیڅکله ولیان) د خدای Yدوستان (کیدلای نه شي.

پـوښـتـنـه : آیا داسي ولي هم شته چې شرعي احکام، لکه لمونځ، روژه ورته بښل شوي وي ؟

ځــــواب : نه ! ترڅو چې انسان ژوند وی ، روغ رمټ وي هیڅ یو عبادت هم ورته بښل کیدی نه شي ، اونه هم ګناه کول ورته روادي ، کوم کسان چې روغ رمټ وي اوبیاهم عبادت نه کوي او دشرع خلاف کارونه کوي ، او بیاوایي چې زمونږ دپاره داکارونه روا دي ، هغه بې دینه دی ، هیڅکله ولي کیدای نه شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمعجزې اوکرامت بيان

پـوښــتـنـه : معجزه څه شي ته وايي ؟

ځـــــواب : الله تعالی دخپلو پيغمبرانوu په لاس کله ناکله دعادت خلاف داسې خبرې ښکاره کوي ، چې ددنيا نور خلك يې له کولو نه عاجزه وي ، ترڅو خلك هغه ووينې اوپوه شي چې داالله تعالی استازی (رسول)، دی داسې خبروته معجزه وايي.

پـوښــتـنـه : پيغمبرانوu څه ډول معجزې ښکاره کړي دي ؟

ځـــــواب : پيغمبرانوuدالله تعالی په حکم سره بې شميره معجزې ښکاره کړي ، چې يو څومشهورې معجزې يې يادوو:

دحضرت موسی u عصا (لکړه) دمارپه شکل شوه، اودفرعون دساحرانو ماران يې وخوړل.

-: 2دحضرت موسی u په لاس کې به خدای تعالی داسې رڼا پيداکوله چې دلمرله رڼاگابه تيزه وه.

-: 3دحضرت موسی uلپاره دنيل درياب (رودنيل) کې وچې کوڅې جوړې اوله خپلو ملگرو سره يوځاپردغو لارو ترډرياب پورېوت ، خوکله چې دفرعون سره له لښکره په دغو لارو داوښتو په نيت ورگډ شواود درياب منځته ورسيد نو اوبه راړنگې شوې اوفرعون يې له لښکرسره يوځای غرق کړ.

-: 4حضرت عيسی u دالله تعالی په حکم سره مړه را ژوندي کول ، مورزاده ړانده به بيناکول ،دپيس ناروغان به يې جوړول، له خاورو به يې مرغان جوړ اوبيا به يې ژوندي کړل اوپه هواکې به الوتل.

-: 5زموږ درسول الله e ستره معجزه قرآن کريم دی چې : تقريباً ديارلس نيم سوه کاله تيرشوو خو تر ننه پورې دعربې ژبې داسې ستر عالم اوپوهاند (له خپل کوښښ سره سره) بياهم پيدا نه شو چې دقرآن کريم له ټولو نه ديو کوچنې سورت په څېر سورت جوړ کړي اونه به يې هم ترقيامته جوړ کړای شي.

-: 6دوهمه معجزه يې معراج دی.

-: 7دريمه معجزه يې شق القمر (دسپوږمۍ ټوټه کېدل)دی.

-: 8څلورمه معجزه يې داوه چې دپيغمبر eددعاپه برکت سره ديو يا دوو کسانو ډوډۍ به سلهاوو تنو په مړه خېټه خوړله.

له دې پرته دحضور e په سلگونو نورې معجزې هم شته چې په غټو کتابونوکې به يې (که خدای کول) ولولئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتـنـه : معراج څه ته وايي ؟

ځـــــواب : دالله تعالی په حکم سره پيغمبر rدشپې په ويښه پربراق باندې سپور شو ، دمکې معظمې څخه بيت المقدس ته اود هغه ځای څخه بيااووم آسمان ته اوبيا ترکومه ځای پورې چې دالله تعالی خوښه وه هلته ولاړ ، په همدې شپه يې جنت اودوزخ دواړه وليدل او بيا خپل ځای ته بيرته راغی همدې ته معراج وايي.

پـوښــتـنـه : دشق القمر معنا څه ده ؟

ځـــــواب : دشق القمر څخه مطلب دادی يوه شپه کله چې د مکې کفارو پيغمبر eته وويل چې : موږ ته يو معجزه راښکاره کړه ، حضور r سپوږمۍ دوه ټوټې کړله او ټولوخلکو دواړه ټوکړې وليدې، بيادواړه بېرته سره يوځای شوې اوڅه ډول چې وه هماغسې جوړه شوه.

پـوښــتـنـه : کرامت څه ته وايي ؟

ځـــــواب : الله تعالی دخپلو نيکو بندګانو دعزت زياتولو لپاره کله ناکله دهغوی په لاس دعادت خلاف داسې حيرانوونکي کارونه ښکاروي چې دنورو خلکو په وس پوره نه وي ،داسې کارونوته کرامات وايي ، اود اولياء الله څخه دکراماتو ښکاره کېدل حق دی.

پـوښــتـنـه : د معجزې اوکرامت ترمنځ فرق څه دی ؟

ځـــــواب :چاچې دپيغمبري دعوه کړې وي ، اوپه لاس يې دعادت خلاف حيرانوونکی کار ښکاره شي معجزه بلل کيږي ، اوچاچې د پيغمبري دعوه کړې نه وي خو متقی او پرهيزګار وي اودده ټول کړه وړه دشريعت سره سم وي ، که چيرې له ده څخه داسې کار ښکاره شي نودې ته کرامت وايي او که دعادت خلاف دغه ډول کاردشرعې خلاف له بې دينه خلکو څخه ښکاره شي استدراج بلل کيږي.

پـوښــتـنـه :آيااولياء الله څخه دکرامتونو ښکاره کېدل ضروري دي؟

ځـــــواب : نه ! داخبره هيڅ ضروري نه ده چې دولي څخه به خامخا کرامت ښکاره کيږي ، ممکنه ده چې يو څوك د الله Yدوست اوولي وي او په ټول عمر کې دهغه څخه هيڅ کرامت ښکاره نه شي.

پـوښــتـنـه : دشرعې خلاف له ځينو فقيرانو څخه داسې کارونه ښکاره کيږي کوم يې چې نورخلك نه شي کولای، ددې په اړه څه عقيده په کارده؟

ځـــــواب : دداسې خلکو څخه دکوموکړه وړه چې دشرع خلاف وي که چيرې دغه ډول يوه خبره ښکاره شي نو پوه شه چې دا سحر يا استدراج دی ، هغه هيڅکله کرامت نه شي کيدلای ، داسې خلك وليان) دخدایYدوستان(بلل او دعادت خلاف ددوی کارونوته کرامت ويل شيطاني تېروتنه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه

دوهـــمـــه څـــانـــګه

تـعلیـم الارکان

داسلامي اعمالو زده کړه

بســـم الله الرحـــمن الـــرحـــیم

د اوداسه پاته مسئلې

پـوښـتـنه : بې اودسه لمونځ کول څرنګه دي ؟

ځــــواب : سخته ګناه ده ! ځینو علماوو خولا دا سي چاته چې په لوی لاس بې اودسه لمونځ کوي کافر ویلی.

پـوښـتـنه : ددې خبرې دلیل څه دی چې اودس دلمانځه لپاره شرط دی ؟

ځــــواب : دقرآن کریم لاندې آیت یې دلیل دی :

"ای دایمان خاوندانو ! کله چې تاسو د لمانځه اراده وکړئ نو

(لومړی) خپل مخونه اولاسونه ترڅنګلو پورې ومینځئ ، اوپرخپلو سرو مسح وکړئ اوتر بیډیو (بجلکو) پورې پښې ومینځئ.

اورسول الله e فرمایي:

"مفتاح الصّلاۍ الطّهور" [ترمـذي] ، دلمانځه کیلي (یاشرط) پاکوالی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوداسه دفرضونو پاته مسئلې

پـوښــتـنـه :اندامونه باید څومره ومینځل شي ؟

ځـــــواب : اوبه پراندام باید دومره واچول شي چې پرې وبهیږي ، یو یا دوه څاڅکې ترینه هم وڅڅیږي ، همدا دمینځلو کمه اندازه ده ، له دې څخه کمې اندازې ته مینځل نه ویل کیږي داسي چې یو څو ك لاس لوند کړي اوپرمخ یې تیر کړي اویا دومره لږ اوبه پرمخ توی کړي چې یواځې یې پرمخ وبهیږي او ونه څڅیږي، نودې ته دمخ مینځل نه شي ویل کیدلای اونه یې هم اودس کیږي.

پـوښــتـنـه : دکومو اندامونو مینځل چې فرض دي ، پرڅو ځله مینځلو سره یې فرض ادکیږي ؟

ځـــــواب : یوځل مینځل یې فرض دي، درې وارې مینځل یې سنت دي اوله درې وارو څخه زیات مینځل یې ناروا او مکروه دي.

پـوښــتـنـه : دمخ مینځل دکوم ځای څخه ترکوم ځای پورې فرض دي ؟

ځـــــواب :دتندي د ویښتانودشنه کیدو له ځایه نیولې دږیرې دشنه کیدوترځایه پورې ، او دیوه غوږ له نرمۍ نه دبل غوږ ترمۍ تر نرمۍ پورې دټول مخ مینځل فرض دي.

پـوښــتـنـه : دکومو اندامو مینځل چې فرض دي ، په هغو کې که چیرې لږ ځای وچ پاتې شي نو اودس یې کیږ ي اوکه نه ؟

ځـــــواب : نه !که دیوه وېښته په اندازه هم وچ ځای پاتې شي اودس نه کیږي.

پـوښــتـنـه : که دیو سرې شپږ ګوتې وي نو دشپږمې ګوتې مینځل پرې فرض دي اوکه نه ؟

ځـــــواب : هو ! فرض دي ، همداراز دهرداسې نوي زیات شوي غړي مینځل هم فرض دي کوم چې دبدن په داسې ځای کې پیدا شوی وي چې مینځل یې فرض وي.

پـوښــتـنـه : مسح څه ته وایي ؟

ځـــــواب : لاس په اوبولندول اوبیا پرېواندام تیرول مسح بلل کیږي.

پـوښــتـنـه : دسر دمسحې لپاره تازه اوبه اخیستل ضروري دي اوکه په لاس باندې پاته لندوالی یې هم بس دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب : نوې اوبه اخیستل غوره دي ، خو که چیرته د لاس مینځلو نه پاته لندوالي باندې مسح وکړي هغه هم کافي ده ، خو یاد مو وي ! چې کله په لوند لاس باندې یوځل مسح وشي بیا پرې بل ځای نه مسح کیږي، همداراز داهم روا نه ده چې لاس لوند نه وي اوپه بل لانده اندام باندې لوند ، اوبیا پرې مسح وشي.

پـوښــتـنـه :که چیرته پرلوڅ سرباندې دباران څاڅکي لوېدلي وي او وچ لاس پرې دمسح په نیت تیر شي چې ورسره دباران څاڅکي پرسر خواره شي نودامسح کیږي اوکه نه ؟

ځـــواب : کیږي.

پـوښـتـنـه : په اوداسه کې دسترګو دننه برخې مینځل فرض دي اوکه نه ؟

ځــــواب :دسترګو دننه برخې اوهمداڅېر دپوزې اوخولې دننه برخې مینځل فرض نه دي.

پـوښـتـنـه : داودس له کولو وروسته که څوك سر وخریې ، یا نوکان پرې کړي نو دسردوهم وارمسح ، یا دنوکانو مینځل ضروري دي ؟

ځـــــواب : نـــــه.

پـوښـتـنـه : که چیرته د چا لاس له څنګل نه لاندې پرې شوی وي نود هغه لاس مینځل ضروري دي اوکه نه ؟

ځــــواب : هو ! څنګل او دهغه لاندې دلاس څومره برخه چې پاته وي میځل یې سره له ټولې څنګل فرض دي.

د اوداسه د سنتو نو پا تـه مسئلې

پـوښـتـنـه : که په اوداسه کې نیت ونه شي اودس کیږي اوکه نه ؟

ځــــواب : که چیرته په اوداسه کې نیت ونه شي داسې چې : په دریاب کې ولویږي، یا باران ته ودریږي او داوداسه پرېولو اندامو یې اوبه تیرې شي نو اودس یې کیږي ، معنا داچې په دې اودس سره لمونځ کول روادي ، خو داوداسه ثواب نه ورکول کیږي.

پـوښـتـنـه : داوداسه نیت څه ډول کیږي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : دنيت معنا ده: اراده کول ، کله چې څوك اودس کوي نو دا اراده دې وکړي چې دناولتيا دليري کولو، پاکي دحاصلولو اولمانځه دروا کيدلو لپاره اودس کوم ، بس همدغه اراده او فکر داوداسه نيت دی.

پـوښـتـنـه : نيت په ژبه ويل ضرور دي اوکه نه ؟

ځـــــواب : په ژبه سره يې ويل ضروري نه دي ، هو ! که څوك يې ووايي هيڅ پروا نه لري.

پـوښـتـنـه : ديو اوداسه دپاسه دبل نوی اوداسه نيت څه ډول کيږي ؟

ځـــــواب : يواځې دانيت دې وکړي چې ديوه اوداسه دپاسه بل اودس دفضيلت اوثواب دلاسته راوړلو لپاره کوم.

پـوښـتـنـه : په اوداسه کې پوره بسم الله ويل پکاردي اوکه نه ؟

ځـــــواب : بسم الله پوره ويل يا " بسم الله العلیّ العظيم على دين الرسلام " يا " بسم الله والحمد لله " دری واړه ويل روا دي.

پـوښـتـنـه : مسواك وهل څنګه دي او طريقه يې څه ډول ده ؟

ځـــــواب : مسواك وهل سنت مؤ کد دي ، ډير ثواب او زياتې ګټې لري . مسواك ديوې ترخې ونې يا لرګي نه جوړيږي لکه : د"پيلو" ريښه يا د"نيم لکړي" ونې (1)لرګی چې له لوېشتې اوږد پکارنه دی ، لومړی دې مينځې بيادې وهي او مينځلی دې بېرته ږدي ، اول دې دښي لورې بيادې دچپ لورې غاښونه مسواك کړي ، مسواك بايددری وارې ووهل شي اوهر وارته نوې اوبه رااخيستل پکاردي.

پـوښـتـنـه : غړغړه څرنګه ده ؟

ځـــــواب : په اوداسه اوغسل دواړوکې غړغړه کول سنت دي ، خودروژې په حالت کې يې کول په کار نه دي ، په ښي لاس يې کول ضروري دي.

پـوښـتـنـه : دپوزې دمينځلو طريقه څه ډول ده ؟

ځـــــواب : په ښي لاس پزې ته اوبه واچوه اودسا په وسيله يې پورته کش کړه خو دومره نه، چې دماغ ته ورسيږي ، روژه نيونکي ته په کاردي چې يواځې په لاس سره پزې ته اوبه واچوي او پورته يې کش نه کړي ، خولې اوپوزې دواړوته اوبه اچول سنت مؤ کددي.

پـوښـتـنـه : دږيرې دکومې برخې خلالول سنت دي ؟

ځـــــواب : دږيرې دلاندې اودننه ويښتانو خلالول سنت دي، کوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویښتان چې دباندې لورته دمخ له پوستکې سره نښتي وي دهغو مینځل فرض دي.

پـوښـتـنـه : دګوتوخلالول څه ډول پکاردي ؟

ځـــواب : دلاس دګوتو خلالول داسي دي چې دیوه لاس ګوتې دې دبل لاس په ګوتو کې ننباسي او ودې ښوروي، دپښو دګوتو خلال دې دچپه لاس په خچنې ګوته سره وکړي دښۍ پښې دخچنې ګوتې څخه دې پیل اودچپه پښې پرخچنې ګوته دې پاىته ورسوي.

پـوښـتـنـه : ټول سر با ید څه ډول مسح شي ؟

ځـــواب : له مسح نه مخکې دواړه لاسونه په اوبو لانده کړه، ورغوی له ګوتو سره یوځای دسر پر دواړو طرفونو باندې دتندي دویښتانو له بېخه ترڅټه پورې کش کړه اوبیایې بیرته راو له، او پام دې وي چې دټول سرپرشاوخوا تیر شي.

پـوښـتـنـه : دغوږونو دمسح لپاره نوي اوبه اخیستل پکاردي اوکه نه؟

ځـــواب : نه ! دسرد مسح لپاره دې چې کومې اوبه رااخیستي وي هغه بس دي ، دغوږونو د دننه برخې مسح د شهادت په ګوته سره پکارده ، اودباندې برخې مسح په بټو ګوتو سره پکارده.

داوداسسه د مستحبا تـو پـا تـه مسئـلې

پـوښـتـنـه : په اوداسه کې له ښي لورې څخه شروع کول سنت دي که مستحب ؟

ځـــواب : ځینو علماوو سنت اوځینو بیا مستحب بللی دي.

پـوښـتـنـه : دغاړې (ورمېږ)دمسح کولو طریقه څه ډول ده ؟

ځـــواب : دواړه خپرې دشاله خوامخې ته پرورمېږ راکاږل کیږي ، دستوني مسح کول بدعت دی.

پـوښـتـنـه : په اوداسه کې نور آداب کوم دي ؟

ځـــواب : داوداسه آداب ډیر دي ، لکه داچې:

(1دخچنو ګوتو سرونه لندول ، اوبیایې په غوږو ننوېستل.

(2دلمانځه له وخت مخکې اودس کول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

3)د اندامود مینځلو په وخت کې یې په لاس سره موښل.

4)گوتمی (یا گوتې)ښورول.

5)دنیایي خبرې نه کول.

6)مخ ته په زوره سره اوبه نه اچول.

7)ډېرې اوبه نه تویول.

8)دهراندام دمینځلو په وخت کې بسم الله ویل.

9)له اوداسه وروسته درود شریف ویل.

10)د اوداسه له بشپړېدو وروسته د شهادت دکلمې اوددې دعا لوستل په کاردي :" اللّهم اجعلني من التّوابين و اجعلني من المتطهرين" : یا الله ! ما له توبه کوونکو اوپاکانو څنې وگرځوه.

11)له اوداسه نه پاته اوبه په ولاړه څښل.

12)له اوداسه وروسته دوه رکعته د "تحیۍ الوضوء" نفلي لمونځ کول.

داوداسه ماتوونکو شیانوپاته مسئلې

پوښتنه : له بدنه په څومره اندازه پلیتي وتلو اوبهېدلو سره اودس ماتیږي ؟

ځواب : (له متیازو پرته) هره پلیتي چې له بدن څخه ووزي اوددې ځای په لور وبهیږي چې مینځل یې په اوداسه کې فرض وي اودس پرې ماتیږي که څه هم لږ وبهیږي.

پوښتنه : سترگه چې کله وینې شي اودننه لور ته وبهیږي ،او وینه یې دباندې را ونه وزي اودس پرې ماتیږي اوکه نه ؟

ځواب :نه ماتیږي ! ځکه دسترگې دننه برخې مینځل نه په اوداسه ، اونه هم په غسل کې فرض دي.

پوښتنه : که چیرته په زخم باندې وینه له ښکاره کېدو وروسته ، گوته یا ټوکر سره وچه کړای شي بیا راښکاره او وچه کړای شي تردې چې څو وراه داسې وشي آیا په دې سره اودس ماتیږي اوکه نه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : باید دي ته پام و شي چې که چیرته وچه کړای شوې نه وای نو ایابهېده به او که نه ؟ که چیرې دومره وه چې پرېښودل شوې وای نوبهېده به ، نو بیا اودس ماتیږي اوکه دومره نه وه نو اودس نه ماتیږي.

پـوښـتـنـه : له قي سره چې څه شی ووزي اودس ماتوي ؟

ځـــــواب :که زیړه وینه ، خواړه ،اوبه ډکه خوله قی و کړای شي اودس ماتوي اوکه چیرې یواځې بلغم وي اودس بیا نه ماتیږي.

پـوښـتـنـه : که څوك لږ لږقی څو واره وکړي اودس ماتیږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : که چیرې په یوه وار زړه ډکیدو سره څو واره قی وکړي او ټول دومره ؤ چې یوځای شي ډکه خوله ترې جوړیده نو اودس ماتیږي.

هو! که چیرې په یو وار زړه ډکېدوسره یې لږ قی وکړ اوبیایې دزړه ډکوالی لرې شو دوهم وار یې بیا زړه ډك شواو لږ قی یې نور وکړ نو د دواړو وارو قیونه (کانګې) نه یوځای کیږي او نه هم اودس پرې ماتیږي.

پـوښـتـنـه : که پربدن دانه راختلې وي او دوینې یازوې داغ یې پر کالو ولګیږي نوداکالی به پاك وي اوکه ناپاك ؟

ځـــــواب : که چیرته وینه یازوې د بهېدو وړ نه وي بلکې کالي له هغې سره دلګیدلو له امله داغي شي نو کالي پاك دي خو مینځل یې غوره دي.

پـوښـتـنـه : که چیرته قی په ډکه خو له نه وي نوهغه پلیت دی اوکه نه ؟

ځـــــواب :نـــــــه.

پـوښـتـنـه : که ژوره پربدن وموښلي وینه وځښې اوډکه شي ، یا غوماشې او کرړی سرې په غاښ کړي اودس ماتیږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : د ژورې په چیچلو سره اودس ماتیږي ، که څه هم د هغې له لاسه درسېدلې زخم وینه ونه بهیږي ، ځکه ژوره دومره وینه ځښې چې که چیرته هغه وینه له بدنه وتلې او ددې نس ته تللې نه وای نو خامخا به بهیدلې وای ، غوماشی، کرړی اوسپږه که سرې وچیچي اودس پرې نه ماتیږي ځکه هغه دومره لږ وینه ځښې چې دبهیدو وړ نه وي.

پـوښـتـنـه : په څه ډول خوب سره اودس نه ماتیږي ؟

ځـــــواب : په ولاړه یا له تکیې پرته په ناسته سره خوب یا دلمانځه په یو ډول هیئت سره چې بیده شي اودس نه ماتیږي لکه داچې : په سجده کې ویده شي یا په ناسته ویده شي اودس یې نه ماتیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښـتـنـه : داسې څوك هم شته چې په خوب سره يې اودس نه ماتيږي ؟

ځـــواب :هو ! دانبيا وو uاودس په خوب سره نه ماتيږي ، دا د دوی جلاخصوصيت اوځانګړی فضيلت دی.

پـوښـتـنـه : ايا په لمانځه کې په کړس کړس (قهقه)خندا سره دټولو اودس ماتيږي ؟ اوقهقه خنداڅه ته وايي ؟

ځـــواب : په کړس کړس (قهقه) خندا په داسې لوړغږ خندلو ته واي چې اوازيې نور څوك واوري.

په لمانځه کې په قهقه (په زوره خندا) سره اودس په لاندې شرطونو سره ماتيږي:

.1خنديدونکی به بالغ وي برابره خبره ده که نر يا ښځه وي ، ځکه د نابالغ په قهقه خنداسره اودس نه ماتيږي .

.2خندايې بايدپه ويښه وي ، او که چيرې په لمانځه کې ويده شو اوپه خوب کې يې په زوره وخندل اودس يې نه ماتيږي.

.3په کوم لمانځه کې يې چې خندلې وي هغه به رکوع او سجده لرونکی وي ځکه خو دجنازې په لمانځه کې په کړس کړس خندا اودس نه ماتيږي.

پـوښـتـنـه : دبل چاعورت ته په کتو سره اودس ماتيږي ؟

ځـــواب : نه ! په خپل يا دبل چا په عورت باندې په پام يا له پام پرته چې سترګې ولګيږي اودس يې نه ماتيږي .

دغسل پاتـه مـسئـلـې

پـوښـتـنـه : غسل څوډوله دي ؟

ځـــواب : درې ډوله دي:

-فرض

-2سنت

-3مستحب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښـتـنـه : فرض غسل څو ډوله دی ؟

ځـــــواب :شپږ ډو له دی چې بیان به یې دتعلیم الاسلام په راتلونکي برخه کې راشي.

پـوښـتـنـه : سنت غسلونه څو او کوم کوم دي ؟

ځـــــواب:

-1دجُمعې دلمانځه لپاره.

-2ددواړواخترونودلمانځه لپاره.

-3دحج د احرام لپاره.

-4دوقوف عرفات (دعرفات په میدان کې دولاړې لپاره).

پـوښـتـنـه : مستحب غسلونه څو اوکوم کوم دي ؟

ځـــــواب : مستحب غسلونه ډیردي چې یوڅو یې دادي:

-1دشعبان دمیاشتې دپنځلسمې په شپه غسل کول چې " شب برات " ورته وایي.

-2دعرفې په شپه (دذی الحجې داتمې نېټې دمازدیگرنه وروسته)د راتلونکې شپې لپاره.

-3لمر اویا سپوږمۍ چې کله تندر ونیسي ، دهغو د لمانځه لپاره.

-4داستسقا دلمانځه لپاره.

-5مکې معظمې یا مدینې منورې ته له داخلیدومخکې.

-6مړي ته دغسل ورکولو نه وروسته.

-7دکافر لپاره تراسلام راوړلو وروسته غسل کول.

پـوښـتـنـه : که غسل ته حاجت پیښ وي ،په دریاب کې غوپه وخوړل شي او یا باران ته ودریږي اوپرتول بدن یې اوبه تیرې شي غسل کیږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : هو ! کیږي ، په دې شرط چې په خوله او پزه اوبه ورغړول شي.

پـوښـتـنـه : دغسل په حالت کې قبلې ته مخامخ کیناستل روادي اوکه نه ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب : که چيرې دغسل په وخت کې بدن لوڅ وي نو قبلې ته مخامخ کيناستل روانه دي اوکه عورت پټ وي بيا پروانه لري.

پـوښـتـنـه : په بربنډ (لوڅ) حالت کې غسل کول څرنګه دي ؟

ځــــواب : په غسل خانه يا بل داسي ځائکي،ګ چېرته يې چې په عورت د بل چا سترګې نه لګيږي بربنډ غسل کول روا دي.

پـوښـتـنـه : په غسل کې کومې خبرې مکروه دي ؟

ځــــواب:

-1زياتي اوبه تويول.

-2په بربنډ حالت کې خبرې کول.

-3قبلې ته مخامخ کيناستل.

-4دسنت خلاف غسل کول.

پـوښـتـنـه : که يوچا له غسل مخکې اودس کړی نه وي ، نود غسل نه وروسته، دلمانځه لپاره پرې بيا اودس کول ضروري دي اوکه نه ؟

ځــــواب : نه ! له غسل سره اودس هم وشو ، بيا ورته اړتيا نشته.

پـرمـوزو بانـدې دمسح پاتـه مسئلـې

پـوښـتـنـه : دمسح موده له څه وخته پيليږي ؟

ځــــواب : کوم وخت چې اودس مات شي ، له هغه وخته څخه دکوردځښتن (مقيم)لپاره يوه شپه او ورځ اودمسافر لپاره درې شپې او درې ورځې مسح روا ده ، دمثال په ډول دجُمعې په سهار يې اودس وکړ موزې يې په پښو کړې او د دماسپښين دوخت دختمېدو سره يې اودس مات شو ، نو داسې که مقيم وي نود شنبې دورځې ترماسپښينه پورې پرموزو مسح کولای شي ، اوکه مسافروي بيادوشنبې تر ماسپښينه پورې په موزو مسح کولای شي.

پـوښـتـنـه : دموزومسح په کومو شيانو سره ماتيږي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : په کوموشیانوسره چې اودس ماتیږي، له هغه پرته دمسحې د مودې په ختمېدو ، په موزو کښلو ،اود دریو گوتو په اندازه دموزې په څیریکیدو سره هم مسح ماتیږي.

پـوښـتـنـه : که چیرې داوداسه په حالت کې یې موزه وکښله اویایې داوداسه په حالت کې دمسحې موده پوره شوه نو حکم یې څه دی ؟

ځـــــواب : په دې صورت کې یواځې پښې مینځل اوموزې پښو کول کافي دي، پوره اودس کول مستحب دي.

پـوښـتـنـه : که چیرې مسافر په موزوباندې مسح پیل کړه اودیوې ورځې او شپې تر تېرولو وروسته بېرته کورته راغی نو مسح به څه ډول کوي ؟

ځـــــواب : موزې دې وکاږي او له سره دې مسح پیل کړي.

پـوښـتـنـه : که مقیم مسح پیل کړه اوپه سفر روان شونو څه دې وکړي؟

ځـــــواب :که سفرېې دیوې ورځې او شپې له پوره کېدو مخکې پیل کړ نو تردریو ورځو اودریو شپو پورې دې پرموزومسح کوي ، اوکه سفرېې د یوې ورځې او شپې له تیرېدو وروسته پیل کړی وي نو موزې دې وکاږي له سره دې مسح پیل کړي.

پـوښـتـنـه : که چیرې موزه څو ځایه لږ لږڅیرې وه نو حکم یې څه دی ؟

ځـــــواب : که موزه څو ځایه لږ لږ څیرې وه نو ټول څیروالی ته دې پام وکړي که چیرته ددوو گوتو په اندازه وْ نو بیا مسح نه کیږي اوکه چیرته کم وْ، بیا کیږي اوکه چیرته دواړه موزې څیرې وې او څیروالی یې د دوو گوتو په اندازه وْ خو دهرې یوې څیروالی له دوو گوتو کم وْ بیا هم مسح کیږي.

د حقیقي نجاست او د هغه د پاکوالی پاته مسئلې

پـوښـتـنـه :که چیرته دځرمنې په شیانو لکه موزې ، څپلی، کمربنداویا نوروداسې شیانو پلیتي (نجاست) ولگیږي چې په سترگو ښکاریږي هغه به څه ډول پاکیږي ؟

ځـــــواب : پرځمکه یابل شي باندې په موښلو سره پاکیږي خو شرط یې دادی چې په موښلو سره یې صورت اواثر (رنگ،بوی،خوند) له منځه ولاړ شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : که چیرته په همدې شیانو باندې متیازې، شراب، اویا داسې بله پلیتي ولګیږي نو هغه به څه ډول پاکیږي ؟

ځواب : په اوبو اویا بل بهېدونکي شي سره یې داسې پاك كړې چې اثرېې لرې اوبیا یې ومینځئ نو پاك به شي، مانا دا چې له صورت لرونکو ټول نجاستونو څخه پرته نور ټول نجاستونه چې دڅرمنې په شیانو ولګیږي هغه یواځې په موښلو نه پاکیږي ، بلکې مینځل یې هم ضروري دي.

پوښتنه : چاقو،چاړه، توره اوداوسپنې یا دسپینو زرو یا مسو المونیمو اوداسې نور شیان چې پلیت شي نو له مینځلوپرته پاکیږي که نه ؟

ځواب :داوسپنې شیان چې زنګ وهلي نه وي او صاف وي، او همداځیر دسپینو ،سروزرو ،مسو المونیمو اوپیتلو او.....، دغه ځېر هندسي،چیني لوښي ،اودفیل له غاښه او هډوکونه جوړ شوي شیان داټول چې پاك وي، کاره واړه شوي نه وي که یې په مو ښلو سره دنجاست اثر له منځه ولاړ نو پاکیږي.

پوښتنه : دکوړوالی نه مقصد څه دی ؟

ځواب : یعني دهغو په جسم کې باید داسې کوړوالی نه وي چې له امله یې جسم ټیټ او پاس وي، ځکه په داسې کوړوالي کې له موښلو وروسته هم دنجاست د پاتې کېدو امکان وي.

هو! که په هغو کې یواځې داغونه وي ،کوړوالی نه وي نوبیا دغه شیان په موښلوسره هم پاکیږي.

پوښتنه : که پرځمکه پلیتي تویه شي، لکه بولې یا شراب اوداسې نور ،نو څه ډول به پاکیږي ؟

ځواب :ځمکه چې وچه شي اودنجاست اثر (رنګ، بوی، خوند) یې له منځه ولاړ شي بیانوځمکه پاکیږي.

پوښتنه : که دکور ، مسجد اوداسې نور ځایو په پخو خښتو یا د سیمنټو په فرش یا دیوال باندې نجاست ولګیږي نو څه ډول پاکیږي ؟

ځواب :داسې خښتې اوډبرې چې په یوه ودانۍ کې لګیدلې وي دنجاست دوچیدو اوداثر له تللو وروسته پخپله پاکیږي.

پوښتنه : کوم شیان چې د مینځلو په وخت کې یې نښتیځل ممکن نه وي لکه میسي لوښي یا داواریدو پنډې پنډې توشکې نو دهغو دپاکیدو لاره څه ډول ده ؟

ځواب :داسې شیان چې نښتیځل یې ممکن نه وي یاهم ګګران وي دپاکیدلو طریقه یې داده چې : یو وار ومینځل شي ،بیا پرېښودل شي ترڅو یې څاڅکي وڅ شي ، دوهم وار بیا ومینځل شي او بیا پرېښودل شي ترڅو یې د اوبو څاڅکي ودریږي ، دریم واربیاومینځل شي او و غوړول شي نو به پاك شي، خودمینځلو په وخت کې یې په ځمکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې خومره موښل ممکن وي هغو مره موښل يې ضروري دي ، تر څوېې دنجاست ايستلو په لار کې تروسه وسه کوشش شوي وي.

پـوښـتـنـه : دخاورو لوښي چې پليت شي نو آيا پاکيږي او که نه ؟

ځــــواب : دخاورو لوښي هم په مينځلو سره پاکيږي او دپاکيدو طريقه يې هغه ده کومه چې په مخکنۍ پـوښـتـنـه اوځـــو اب کې تيره شوه.

پـوښـتـنـه : پليت شی لکه خوشيايي، چې وسوځول شي او ايرې شي يې، ايرې پاکي دي اوکه نه ؟

ځـــواب : پليت شی چې وسوځول شي اوايره شي، ايرې يې پاکي دي.

پـوښـتـنـه : په غوړوکې که موگ ږك ولويږي اومړ شي حکم يې څه دی ؟

ځـــواب : غوړي که يخی (کنګل) وي موږ ك اوورسره دهغه شاوخوا غوړې لري کړای شي پاته غوړي به پاك شي، اوکه غوړي ويلې (اوبه) وي بيا به ټول غوړ پليت دي.

پـوښـتـنـه : پليت شوي غوړي اوتېل څه ډول پاکيږي ؟

ځـــواب : په پليت شويو غوړو ياتېلو کې دهغو په مقدار اوبه واچوه او جوش ورکړه کله چې اوبه د غوړو اويا تيلو سرته راشي لري يې کړه که درې ځله داسي وکړې نو په دې سره به غوړي اوتيل پاك شي.

داستنجا پاتـه مسئلـې

پـوښـتـنـه : استنجا کوم وخت مکروه ده ؟

ځــــواب:

1- قبلې ته مخامخ يا د شا له خواستنجا کول.

2- په داسي ځای کې استنجا کول چې داستنجا کوونکي پر عورت ديوچا سترګي لګيږي.

پـوښـتـنـه : دتش اوياډك اودس په وخت کې کومې خبرې مکروه دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب:

.1قبلې ته مخ يا په شا کښينا نستل.

.2په ولاړه متېازې کول.

.3په تالاب ، ويالې اويا ځاه کې اودس ماتی کول.

.4دهمدغو واړو په غاړه اودس ماتی کول.

.5دمسجد له ديوال سره.

.6په هديره کې.

.7دموږك يا په بل غارکې.

.8د اودس ماتېه وخت کې خبرې کول.

.9په ټيټ ځای کيناستل پورته لورته متېازې کول.

.10دخلکو دناستې پاستې په ځاباو لاره کې اودس ماتی.

.11داوداسه او يا غسل کولو په ځای کې.

داوبـو پاتـه مسئـلـې

پـوښــتـنـه : دلمر په ګرمګو شويو اوبواودس کيږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : کيږي خو ښه نه دی.

پـوښــتـنـه : که داوداس په وخت کې دبدن څخه ځاځکي په لوښي

کې ولويږي ، نو پدې اوبو سره بيا اودس کيږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : داوداسه په وخت چې له بدن نه چې کومې اوبه لاندې تويږي مستعملې(ناولې) اوبه بلل کيږي (که چيرته پربدن باندې حقيقي نجاست نه وي)؛ مستعملې اوبه چې له ناولو اوبوسره ګډې شي، حکم يې دادی چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

:ترڅوپورې د ناولو اوبو مقدار له ناولو اوبو څخه کم وي ترهغه وخته پرې اودس کيږي، اوکه د ناولواوبو مقدار له پاکو اوبو سره برابر او يا ترينه زيا ت شي نو بيا پرې اودس اوغسل نه کيږي.

پـوښـتـنـه : که له اوبوسره پاك شی ګډ شي لکه : صابون يا زعفران نو اودس پرې کيږي اوکه نه ؟

ځـــواب : له پاکو اوبو سره چې پاك شی ګډ شي او داوبو يو يا دوه صفتونه (رنګ، خوند،بوی)بدل کړي نو بيا هم اودس پرې کيږي خو که درې واړه صفتونه يې بدل شول او اوبه ټينګې شوې نو اودس پرې نه کيږي.

پـوښـتـنـه : که تالاب يا حوض په شرعي ګز سره دوه ګزه پلن اوپنځوس ګزه اوږد وي ، ياڅلور ګزه برداره او پنځويشت ګزه اوږ د ، يا پنځه ګزه پلن او شل ګزه اوږ د وي نو هغه به دجاري (روانو) اوبو حکم لري اوکه نه ؟

ځـــواب : هو ! حکم يې دروانو اوبو دي.

پـوښـتـنـه : که حوض پټ او خوله يې خلاصه وي او له شرعي مقدار څخه يې خوله کمه وي خو لاندې برخه يې ډيره پلنه وي نو حکم به يې د لوی حوض او روانو او بو وي او که نه ؟

ځـــواب :که چيرته حوض لس ګزه اوږداولس(1) پلن وي خو له څلورو لوريو او يا يو يا دوو (2) لورو څخه پټ کړای شوي وي که چت يې له اوبو نه پورته او جلا وي نودا بيا سهي حوض دی او اوبه يې روانو اوبو حکم لري ، اوکه چيرته چت يي له اوبو سره لګيدلی وي نو بيا سهي حوض نه دی ، اود کمو اوبو حکم لري ؛لنډه داچې داوبو هغه برخه اعتبارلري دکومو سر چې لوڅ وي پدي معنا چې له چت سره لګېدلې نه وي نو دهغو لپاره دشرعي مقدار اندازه پکارده.

اوکه چيرته يې لوڅه برخه کمه وي نو لاندينی برخه يې چې هرڅو مره پلنه وي اعتبار نه لري.

دځاه پاته مسئلې

پـوښـتـنـه : که په څاه کې دکوترې يا مرغۍ ګندګي ولويږي نو حکم يې څه دی ؟

ځـــواب :دکوترې او مرغۍ په ګندګۍ اويا داوښ اومېږې په دوو اوڅلورو پچو سره څاه نه مرداريږي.

پـوښـتـنـه : که چيرې کافر څاه ته د بوکې (ډولچې) راکښلو لپاره ورکوز شي اوپه اوبو کې غوټه ووهي نو دڅاداوبو حکم څه دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : که چیرته کافر ځاه ته له کوزیدو مخکې ولمبېږي اوپاکې جامې واغوندي اوبیا ورکوز شي نودځاه اوبه پاکې دي اوکه له کوزیدود مخه ونه لمبېږي اوپه خپلو ناولوجامو کې ور کوزشي نو ځاه پاکه ده خو ټولې اوبه يې راکښل په کاردي ، ځکه چې دکافربدن اوجامې يې زیاتره وخت پلیتې وي.

پـوښـتـنـه : که چیرته ځاه ځانګړې بوکه ونه لري بلکې خلك يې اوبه په مختلفو ورو او غټو بوکو راوباسي نو دپاکولولپاره به يې اوبه په کومه بوکه راویستل کیږي ؟

ځـــــواب :کله چې ځاه ځانګړې بوکه ونه لري ، اویا ځاه ډیره غټه او یا ډیره وړه وي نو په داسي حالت کې بیا درمیانه (منځنۍ) بوکه اعتبار لري ، درمیانه سولاغه هغه ده په کومې کې چې په انګریزي سیر درى نیم سیره اوبه راځي.

یـــادونه:ترديځ ځایه پورې دتعلیم الاسلام له ددوهمې برخې سره ترلې مسئلې پاى ته ورسېدې له دې وروسته نورې مسئلې پیلږي.

د تیـمـم بیـان

پـوښـتـنـه : تیمم څه ته وایي ؟

ځـــــواب : په پاکه خاوره یاپه داسي پاك شي سره چې د خاورو حکم ولري له حکمي نجاست څخه دبدن پاکولو ته تیمم وایي.

پـوښـتـنـه : تیمم کله روا دى ؟

ځـــــواب :کله چې اوبه نه وي ، یا داوبو له استعمال څخه ناروغي پیداکیږي اویاهم دناروغي دزیاتوالې اندیښنه وي نوبیا تیمم روادى.

پـوښـتـنـه : داوبو دنشتوالي صورتونه کوم دي ؟

ځـــــواب :داچې اوبه یو میل (یونیم کیلومتر) لرې وي ، یاددښمن له وېرې څخه اوبه راخیستل شوني نه وي داسي چې : دکور دباندې ځاه وي خو اودس کونکى ویریږي چې که له کوره ووځم نو دښمن یا غله به مې ووژني ، یا دځاه له خولې سره یو غټ مار اویازمرى وي ، اویا داچې اوبه ورسره وي خو لږ وي اوله دې ویریږي چې که چیرې په دغو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو اودس وکړم تړی به شم ، اویاخو ځاه وي خو بوکه اورسی نه وي ، اویاداچې اوبه هم شته خو سړی ددې توان نه لري چې اوبه په ولاړه روباسي اوبل ځو ك هم نه وي،داټول هغه صورتونه دي چې داوبو دنشتوالي حکم لري.

پـوښــتـنـه :دناروغۍ وزیره په کوم وخت کې داعتبار وړ ګرځي ؟

ځــــواب :کله چې دخپلې تجربې له مخې يې په هغې غالب ګومان راشي اویا دیوه لوی اوتکړه حکیم (ډاکټر) دوینا له مخې ورته معلومه شي چې داوبو استعمال يې ناروغه کوي نو بیايې تیمم سهي دی.

پـوښــتـنـه :داوبو دیوه میل دلریوالي مطلب څه دی هیله ده چې په یو څه وضاحت سره يې بیا ن کړئ.

ځــــواب : کله چې انسان په داسې ځای کې وي چې هلته اوبه نه وي ، خو دیو ځا په ښوونه او یا يې دخپل اټکل له مخې غالب ګومان پدې راشي چې اوبه یو میل لرې دي نو د اوبو راوړل اوپه هغه اودس کول پرې لازم دي.

خو کله چې کوم ښوونکي هم نه وي او داسې لاره هم نه وي چې له هغه ځخه داوبو دشتوالي معلومات وشي ، اویا داوبو دشتوالي معلومات وي خو اوبه یو میل اویاله هغه نه هم ډیرې لرې وي نو بیا د اوبو راوړل ضرور نه دي او تیمم کیږي.

پـوښــتـنـه :په تیمم کې څو فرضونه دي ؟

ځــــواب : درې فرضونه دي:

←:1نیت کول.

← :2دواړه لاسونه (چمبې)په خاورو باندې وهل او پرمخ يې تیرول.

← :3بیا دواړه چمبې پر خاوره وهل اوپردواړوځنګلویې تیرول.

پـوښــتـنـه : دتیمم کولو پوره طریقه راته بیان کړئ ؟

ځــــواب : اول نیت وکړه داسې چې زه د ناپاکي دلیرې کولو او دلمانځه دادا کولو لپاره تیمم کوم بیا دواړه چمبې پرپاکه خاوره ووهه او ویې څنډه که خاورې ډیرې وې نو پوه يې کړه او دواړه لاسونه پرمخ باندې داسې تېرکړه چې هیڅ یوځای پاته نه شي ، که دیوه ویښته په اندازه ځای هم پاتې شي تیمم نه کیږي . دوهم ځل دواړه لاسونه په خاورو ووهه او ویې څنډه اول د چپه لاس څلور ګوتې دراسته لاس دګوتو ترڅوکو لاندې کښیږده او ترځنګلو پورې يې کش کړه ، نو په دې توګه به دښي لاس په لاندینۍ برخه لاس تېر شي .، بیا دچپه لاس ورغوی دښي لاس په پورته خوا باندې دځنګلو له لورې ترګوتو پورې کش کړه ، اود چپه لاس دبټې ګوتې مخ دښي لاس دبټې ګوتې پرشا تیرکړه . ، بیا همدغسې ښی لاس په چپه لاس تیرکړه ورپسې ګوتې خلال کړه اوکه دې ګوته په ګوتې وه دهغې کښل یا ښورول ضروري دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښـتـنـه : داوداسه اوغسل دواړو لپاره تیمم کیږي او که یواځې داوداسه لپاره ؟

ځـــــواب : ددواړو لپاره روا دی.

پـوښـتـنـه : تیمم پرکومو شیانو کیږي ؟

ځـــو اب :پرپاکه خاوره ، ریګ ، تیږه، چینه دخاورې په خام یا پاخه لوښي چې غوړ نه وي ، پر پخه یاخامه خښته ، دخاورې یا خښتو یا تیږو پر ټوټو تیمم کیږي دغه راز دګچو پر دیوال اوپرسره ملتاني خاوره باندې ، او پرپاك ګرد باندې هم تیمم کیږي.

پـوښـتـنـه : پرکومو شیانو تیمم کیږي ؟

ځـــــواب :پرلرګي، اوسپنې، سرو زرو، سپینو زرو، میسو ، پیتلو، المونیم، شیشه، سرپو، لیم، غنمو، وربشو، په هرډول غله ، جامو، اېرو پردې ټولو شیانو تیمم نه کیږي ، لنډه داچې هر هغه شی چې په اورکې ویلیږي یا په سوځلو سره ایره کیږي پر هغه باندې تیمم پرې نه کیږي.

پـوښـتـنـه : که داېرو ، ګچو یا دخښتو پردیوال باندې ګرد نه وي نو تیمم پرې کیږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : پرکومو شیانو چې مونږ تیمم روا بللی پرهغو باندې د ګرد شتوالی شرط نه دی ، په تیږه ،خښته اودخاورې لوښی که مینځل شوی هم وي تیمم پرې روادی.

پـوښـتـنـه : پرکومو شیانو چې تیمم نه کیږي که چیرته ګردپرې پروت وي تیمم پرې روادی اوکه نه ؟

ځـــــواب : هو ! که دومره ګرد ورباندې وْ چې هغه باندې له لاس وهلو سره دوړه پیداکیدله یا پرهغه باندې پاتې شي ، نو بیا تیمم روادی.

پـوښـتـنـه :که چیرې چا دقرآن کریم دویلو او مچو کولو یا مسجد ته دتللو لپاره یا داّذان یا سلام دځو اب په نیت تیمم وکړ ، نو آیا په هغه سره لمونځ کیږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : نه کیږي.

پـوښـتـنـه : که یو چا دجنازې دلمانځه یا دسجده تلاوت په نیت تیمم وکړ نو په دغه تیمامه سره لمونځ کیږي او که نه ؟

ځـــــواب :کیږي.

پـوښـتـنـه : داوبو د نشتوالي په صورت کې که یو چا پرتمیامه لمونځ وکړ ، له هغه وروسته بیا اوبه پیداشوې نو دلمانځه حکم څه دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــــواب :لمونځ يې شوی ، او بيا راګرځولو ته يې حاجت نشته ،كه څه هم اوبه په وخت کې د ننه او ياهم له وخت نه دباندې ورپيداشوې.

پـوښــتـنـه : تيمم په کومو شيانو سره ماتيږي ؟

ځــــواب :په کوموشيانوسره چې اودس ماتيږي په هغو تيمم هم ماتيږي ،هو ! دغسل تيمم يواځې په حدث اکبر سره ماتيږي خو که چيرې يو چا تيمم داوبو دنيستۍ په خاطر کړی وْ، چې کله اوبه ومومي تيمم يې ماتيږي .اوکه چيرې يې ديوبل عذر له امله کړی يْ لکه مرض او يا داسي نور نو د عذر په ختمېدو سره يې تيمم ماتيږي.

پـوښــتـنـه :که يو چا ديوه وخت دلمانځه لپاره تيمم وواهه نو دبل وخت لمونځ هم پرې کولای شي اوکه نه ؟

ځــــواب :په يوه تيمامه سره ترڅو چې(په کوم لوی او واړه اودس ماتي) مات نه شي دډيرو وختونو لمونځونه پرې کېدلای شي ، دغه راز دفرض لمانځه لپاره چې کوم تيمم شوی وي په هغه سره فرض ، نفل، لمونځ، دقرآن کريم تلاوت ، دجنازې لمونځ ، سجده سهوه او نور ټول عبادتونه کيږي.

پـوښــتـنـه : دتيمم موده څومره ده ؟

ځــــواب : ترڅو چې اوبه پيداشوې نه وي او يا عذر لري شوی نه وي تيمم روا دی ، که څه هم په دغسې حالت کې کلونه واوړي هيڅ پروا نه لري.

دلمـانځـه ددوهـم شرط

)دجـامـو دپـاکـوالي بيان(

پـوښــتـنـه : دجامو له پاکوالي نه مقصد څه دی ؟

ځــــواب :کومې جامې چې دلمونځ کونکی پرتن وي لکه : پرتوګ ، خولۍ، پګړۍ کورتۍ، اوداسي نور ددې ټولو شيانو پاکوالی ضروري دی ، داسي چې له دې ټولونه به په يوه هم غليظه نجاست (لويه پليتي) ديوه درهم له اندازې زياته لګېدلې نه وي او دغه څېر که خفيفه نجاست وي دجامې څلورمې برخې ته به نه وي رسيدلی اوس که په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامو غليظه نجاست د يودرهم په اندازه يا له هغه نه کم لګېدلی وي او دغه څېر که خفيفه نجاست وي هغه به دجامې څلورمې برخې ته نه وي رسيدلی ، نو پدغسې جامو کې لمونځ روادی خو مکروه دی.

پـوښـتـنـه : که چيرته دپګړی دشملې يوه پيڅکه پليته وه خو لمونځ کونکي هغه خواپرېښودله اونيمايي پګړی يې له بلې پيڅکې نه ووهله لمونځ يې کيږي اوکه نه ؟

ځـــواب : کومه جامه چې دلمونځ کونکي له بدن سره داسې تړلې وي چې دده له ښورېدا سره هغه هم ښورېدله دداسې جامې ټول پاکوالی ضرورډی، ځکه خواوس په دې صورت کې چې دلمونځ کونکي له ښورېدا سره پګړی ښوريږي لمونځ نه کيږي.

دلـمـانـځـه ددريـم شـرط

(دځای دپاکـوالي) بيـان

پـوښـتـنـه : دځای دپاکوالي مقصد څه دی ؟

ځـــواب : دلمونځ کوونکي د دواړو پښو ، ځنګنونو، لاسو اوتندې لګولو دځای پاکوالي ضروري دی.

پـوښـتـنـه : په کوم شي چې لمونځ کولای شي که چېرې يې لاندې لوری پليت وي ،لمونځ پرې کيږي اوکه نه؟

ځـــواب : که چيرته دلرګي اويا تيږي تخته وي او يا اوارې شوې خښتې وي ياهم دهغو په څير بل يو سخت او پنډ شی وي اودلمانځه مخ يې پاك وي نو بيا لمونځ پرې کيږي، که څه هم هغه بل لورې يې پليت وي ، هيڅ پروا نه لري ، اوکه چيرې پريوه نازکه جامه لمونځ وکړې چې لاندې برخه يې مردار وي، لمونځ نه کيږي.

پـوښـتـنـه : که جامه غبرګه وي پورته لوری يې پاك او لاندې لوری يې پليت وي حکم يې څه دی ؟

ځـــواب : که دواړه لورې يې سره ګنډلې نه وي او پورتنۍ جامه دومره پنډه وي چې دلاندينۍ جامې دپليتې بوی اورنګ ترينه نه حس کېده، بيا لمونځ کيږي ، اوکه چېرې دواړه سره ګنډلې وې نو د احتياط له مخې دې په داسې جامه لمونځ نه کوي.

پـوښـتـنـه : که چيرته دلمانځه ځای پاك وي خو شا اوخوا يې پليتي وي او بوی يې راځي نو لمونځ کيږي اوکه نه ؟

ځـــواب :لمونځ کيږي خوپه لوړلاس په داسې ځای کې لمونځ کول ښه نه دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمانځه د څلورم شرط

(عورت پټولو) بیان

پوښتنه : دعورت دپټوالي معنا څه ده ؟

ځواب :دنارینه عورت دنامه له غوټۍڅخه ترځنګنو (ګونډو) پورې

دی چې پټول یې پرې په لمانځه کې دننه اوهم دباندې فرض دي.

اوپه ښځو له دوو څپرو او قدمو اومخ پرته د ټول بدن پټول فرض دي خو له لمانځه دباندې هم دوی ته دا روا نه دي چې له نامحرم نارینه سره لوڅ مخ ودرېږي.

پوښتنه :که دعورت یوڅه برخه له قصدپرته ښکاره شي حکم یې څه دی ؟

ځواب :که دعورت څلورمه برخه په لمانځه کې دومره وخت لوڅه پاتې شي په څومره وخت کې چې درې واره سبحان ربیّ العظیم ویل کیدلای شي نو لمونځ فاسدیږي ، اوکه ښکاره شي او سمدستي بیرته پټ کړای شي نوبیا لمونځ نه فاسدیږي.

پوښتنه : که یوسړی په تیاره کې لوڅ لغړ لمونځ کوي حکم یې څه دی ؟

ځواب : دجامې دشته والي په صورت کې لمونځ لغړ (لوڅ ګ) نه کیږي، برابر ه خبره ده که په تیاره اویاهم په رڼاکې وي.

پوښتنه :که چیرې یوڅوك په لوی لاس د عورت څلورمه برخه په لمانځه کې ښکاره کړي، حکم یې څه دی ؟

ځواب :په لوی لاس دعورت دڅلورمې برخې ښکارولوسره لمونځ فاسدیږي.

پوښتنه :که له یوچاسره بیخي جامه نه وي نوبیا به څه کوي ؟

ځواب :که چیرې هیڅ ډول جامه ورسره نه وي نو بیادې په یو بل شي ځان پټ کړي ، دمثال په ډول دونو پاڼې یا ټاټ اوداسې نور ، اوکه یومخ دبدن دپټولو لپاره هیڅ نه وي نوبیادې لمونځ وکړي ، خو په داسې وخت کې به بیا په ناسته لمونځ ، رکوع اوسجده په اشاره سره کول غوره دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلـمـانـځـه دپـنـځـم شــرط

د (وخـت پـيـژنـدلـو) بيـان

پـوښــتـنـه :دلمانځه لپاره دوخت د شرط کيدو معنا څه ده ؟

ځــــواب :دلمانځه دادا کولو لپاره دوخت دشرط کېدو معناداده چې کوم يووخت د لمانځه لپاره ټاکل شوی وي ، په همغه وخت بايد لمونځ وشي، ځکه چې له وخت دمخه لمونځ ښخي نه کيږي او له وخت وروسته بيا لمونځ کولوته ادا نه وايي بلکې بيابه يې قضايي راګرځوي.

پـوښــتـنـه : په شپه اوورځ کې څو وخته لمونځ فرض دی ؟

ځــــواب :په شپه ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض دی اوله دې پرته يو لمونځ چې واجب دی هغه وتر دی.

پـوښــتـنـه : فرض ، واجب ، سنت ، نفل هريو څه ته وايي او فرق يې څه دی ؟

ځــــواب :فرض دې ته وايي چې په قطعي (مضبوط) دليل سره ثابت وي ، په ثبوت کې يې هيڅ رنګه شك اوشبه نه وي ، دفرضو منکر کافر دی اوله عذره پرته يې پريښونکی فاسق اودعذاب وړ ګڼل کيږي.

واجب دې ته وايي چې په ظني (شکمن) دليل سره ثابت وي منکر يې کافرنه دی ، هو ! له عذره پرته پريښوونکی يې فاسق او دعذاب وړ ګڼل کيږي.

سنت دې ته وايي چې هغه رسول الله e يا صحابه کرامو کړی وي اويا يې دهغه په کولو امر کړی وي.

نفل هغو کارونو ته وايي چې فضيلت يې له شريعت نه ثابت وي ، په کولو کې يې ثواب وي او په نه کولو کې يې عذاب نه وي .همد ي ته مستحب، مندوب او تطوع هم وايي.

پـوښــتـنـه : فرض څو ډوله دي ؟

ځــــواب :دوه ډو له دي : فرض عين ، او فرض کفايي ، فرض عين خو دې ته وايي چې اداکول يې په هر مسلمان ضروري وي ، له عذره پرته پريښوونکی يې فاسق اوګناهګار وي ، فرض کفايي دې ته وايي چې د يوه يا دوو کسانو په اداکولو سره د ټولو خلکو غاړه خلاصيږي ، اوکه هيڅ څوك يې ونکړي نو بياټول ګنهګار دي.

پـوښــتـنـه : سنت څو ډوله دي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب :دوه ډو له دي موْکد سنت ، او غير موْکد سنت ، موْکد سنت دي ته وايي چې هغه رسول الله e تل کړې وي اوياپې د هغه په کولو امرکړي وي اوتل يې کړي هم وي پدې معنی چې له عذره پرته يې هيڅکله هم پرايښي نه وي ، له عذره پرته ددغه ډول سنتو پريښولو باندې عادتېدل ډيره ګناه لري.

اوغير موْکد سنت دې وايي چې هغه حضور e زياتر وخت کړي وي خو کله ناکله يې له عذره پرته پرايښې هم وي ، دداسې سنتو په کولو کې له مستحبو ثواب زيات دی اوپه پريښولو کې يې ګناه نشته او دغه ډول سنتو ته سنن زوائد هم وايي.

پـوښـتـنـه :دحرام، مکروه تحريمي او مکروه تنزيهي هر يومعنا څه ده ؟

ځــــواب : حرام داسې کارته وايي چې حرمت يې په قطعي دليل سره ثابت وي ، کونکی يې فاسق او دعذاب وړ بلل کيږي اومنکر يې کافر دی.

مکروه تحريمي داسې کارته وايي چې حرمت يې په ظني دليل سره ثابت وي ، منکريې کافر نه دی، خو کوونکی يې بياهم ګناهګار دی دمکروه تنزيهي په کولوکې که څه هم ګناه نشته خو يوډول بد کار دی.

پـوښـتـنـه :مباح څه ته وايي ؟

ځــــواب : مباح هغه کارته وايي چې په کولو کې يې ثواب اوپه نه کولو کې يې ګناه او عذاب نه وي.

پـوښـتـنـه :دسهار دلمانځه وخت راته بيان کړئ ؟

ځــــواب :له لمر ختو تقريباً يو نيم ساعت مخکې دختيز لورته د اسمان په څنډو(کنارو)کې سپينوالی (رڼا) ښکاره شي ، هغه سپين والی او يا رڼا دځمکې نه پورته لورته د يوې ستنې په شکل کې لوړيږي چې صبح کاذب ورته وايي دغه رڼا لږوخت وي اوبيا ورکيږي ،له دې وروسته دوهمه رڼا ښکاره کيږي چې دلمرخاته شي اوچپ لورته غوړيږي، يعنې دآسمان پرټوله ختيزه کناره باندې وغوړيږي ،پورته لورته اوږده نه خيژي ، همدې ته صبح صادق (سپيده داغ)وايي ، دهمدې صبح صادق له ختو سره سم دسهار وخت پيل کيږي چې ترلمر ختو پورې وي ، کله چې دلمرلږ څرک هم ښکاره شي نو دسهار وخت ختميږي.

پـوښـتـنـه :دسهار (فجر)دلمانځه مستحب وخت کوم دی ؟

ځــــواب : کله چې رڼايي خوره شي اودومره وخت وي چې له سنتو سره سم په ښه توګه لمونځ اداشي ، اودلمانځه ترمامېدو وروسته بياهم دومره وخت لاپاته وي چې که چيرې په يو وجه سره لمونځ سهي شوی نه وي نو ترلمر ختو مخکې دوهم وار له سنتو سره سم لمونځ وکړل شي ، په داسې وخت کې لمونځ کول غوره دي.

پـوښـتـنـه : دماسپښين (ظهر)دلمانځه وخت راته بيان کړئ ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب :دماسپښین دلمانځه وخت دلمردزوال(دسیوري دماتېدو) نه نیولې تردې چې دهرشي سیورى دهماغه شي له اصلي سیوري څخه پرته دوه برابره (چنده) شي ، که له دې کچې څخه سیورى واوښت نوبیادماسپښین وخت تیرشوی دی.

پـوښــتـنـه : دماسپښین دلمانځه مستحب وخت کوم دی ؟

ځـــــواب : په دوبې کې یې دومره ناوخته کول چې دلمر تېزي کمه شي ، په مني ، ژمي او پسرلې کې باید لمونځ په اول وخت کې چې دشیانو سیورى دخپل اوږدوالي په اندازه وي خامخا وکړای شي.

پـوښــتـنـه :دمازدیگر(عصر) دلمانځه وخت کله پیلېږي ؟

ځـــــواب : کله چې دهرشي سیورى له اصلي سیوري څخه پرته دوه برابره شي نود ماسپښین وخت ختمیږي اود مازدیگر وخت شروع کیږي ،او داوخت ترلمر لوېدو پورې وي ، خو کله چې لمرډېرېدو ته نږدې او زیړشي نو بیاهغه وخت دمازدېگرلمونځ مکروه دی ، له دې نه مخکې یې کول پکاردي.

پـوښــتـنـه :دماښام دلمانځه وخت کله پیلېږي ؟

ځـــــواب :د لمر دسترګې له لوېدو سره دماښام وخت پیل اودشفق ترورکېدو پورې وي.

پـوښــتـنـه : شفق څه ته وایي ؟

ځـــــواب :دلمر ترډوبېداوروسته داسمان پرکنارو چې دلمرلوېده خواته کوم سوروالي پیداشي هغه ته شفق احمر وایي ، بیا له دې سوروالي وروسته یو ډول سپین والی پیداکیږي هغه ته شفق ابیض (سپینوالی) وایي ،څه شېبه وروسته داسپینوالی هم ورکیږي او ټول اسمان یو ډول ښکاري ،. دسپین والي له تلو مخکې لا دما ښام وخت پاتې وي.

پـوښــتـنـه : دماښام دلمانځه داداکولو مستحب وخت کوم دی ؟

ځـــــواب :اول وخت یې مستحب دی له عذره پرته دلمانځه ځنډول مکروه (ښه نه)دي.

پـوښــتـنـه :دماخستن دلمانځه وخت کله پیلېږي ؟

ځـــــواب : دسپینوالي له ختمېدوسره سم دماخستن وخت پیلیږي اودسهارترسپیده چاوده (صبح صادق) نه ترلږ مخکې وخته پورې وي.

پـوښــتـنـه : دماخستن دلمانځه مستحب وخت کوم دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب :دشپې تر دويمې برخې پورې يې مستحب وخت دی ، له دې وروسته ترنيمې شپې پورې يې مباح وخت دی له هغه وروسته بيا مکروه وخت دی.

پـوښـتـنـه : دوتر لمانځه وخت راته بيان کړيْ ؟

ځـــــواب :دوتر لمانځه وخت دماخستن دلمانځه وخت دی ، خو دماخستن له لمانځه مخکې نه کيږي ، بلکې دماخستن له لمانځه وروسته دوترو وخت پيليږي.

پـوښـتـنـه : دوترو مستحب وخت کوم يو دی ؟

ځـــــواب :که چيرته دچگا پرځان باور وي چې دشپې په آخرکې خامخا راپاڅېدلی شم نو دهغه لپاره بيادشپې په آخره برخه کې وترکول مستحب دي ، خو که چيرته يې پر ځان داباور نه وي نوبيا وتر له خوب مخکې کول پکاردي .

دلـمـانـځـه دشـپـږم شـرط

(استـقـبـال قبـلـې) بيـان

پـوښـتـنـه : داستقبال قبلې معنا څه ده ؟

ځـــــواب :دقبلې په طرف مخامخ درېدلو ته استقبال قبله وايي.

پـوښـتـنـه :په لمانځه کې مخامخ قبلې ته ددرېدلودشرطوالي معناڅه ده ؟

ځـــــواب :دلمونځ کولو په وخت کې لمونځ کونکي ته ضروري ده چې مخ يې دقبلې لورته وي.

پـوښـتـنـه :دمسلمانانو قبله کومه ده ؟

ځـــــواب :دمسلمانانو قبله کعبه ده، خانه کعبه دخونې په شکل يوه لويه کوټه او د عربو (سعودي عربستان) په هيواد ، دمکې معظمې په ښار کې ده ، کعبې ته " کعبۍ الله ، بيتُ الله ، بيت الحرام " هم وايي.

پـوښـتـنـه : قبله کوم لورته ده ؟

ځـــــواب :په هندوستان ، برما، بنګله ديش ، او ډيرو هيوادونوکې (1) خوقبله دلوديز لورته ده ، ځکه چې داټول هيوادونه دمکې معظمې ختيځ لورته واقع دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښــتـنـه : كه چيرته لمانځه په وخت كې دمريض مخ دقبلې لورته نه وي او دښورېدلووس هم نه لري نو څه به كوي ؟

ځــــواب :كه داسې څوك وي ، چې دمريض مخ قبلې لورته واړوي اوله دغه څخه مريض ته دكوم تكليف رسيدلو ويره هم نه وي ، نو بيا دې مخ قبلې ته واړول شي، اوكه چيرته څوك نه وي ، يا وي خو مريض ته پرې ډيرتكليف رسيده ، نو بيا يې چې كوم لورته مخ وي هغې خواته دې لمونځ وكړي.

دلـمـانـځـه د اووم شــرط

(نـيـت) بـيــان

پـوښــتـنـه : دنيت كولو معناڅه ده ؟

ځــــواب :نيت دزړه ارادې ته وايي.

پـوښــتـنـه : په نيت كې دڅه شي اراده كيږي ؟

ځــــواب :په نيت كې دهغه فرض لمانځه اراده ضروري ده كوم چې اداكيږي مثلاً:كه دسهارلمونځ كوي نواراده دې كوي چې د نن سهار لمونځ كوم، كه قضايي لمونځ وي نو داسې نيت دې وكړي چې دفلاني ورځې دسهار قضايي لمونځ كوم ، اوكه چيرته په امام پسې لمونځ كوي نو بيا هم نيت كول ضروري دي.

پـوښــتـنـه :نيت په ژبه ويل څرنگه دي ؟

ځــــواب :مستحب دی ، كه په ژبه سره ونه ويل شي نو هيڅ پروا نه لري اوكه يې ووايي نوښه خبره ده.

پـوښــتـنـه :دنفل لمانځه نيت څه ډول كيږي ؟

ځــــواب :دنفل لمانځه لپاره دومره نيت هم كافي دی چې نفل لمونځ كوم اودسنت لمانځه اوتراويح لپاره هم دومره نيت كافي دی.

داذان بـيــان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـوښـتـنـه :داذان معنا څه ده ؟

ځــــواب :داذان معنا خبرول دي خو په شريعت کې دپنځه وخته لمانځه لپاره په ځانګړو الفاظو سره دلمونځ کونکو خبرولوته اذان وايي ، داذان توري اولفظونه يې دتعليم الاسلام په لومړی برخه کې تيرشول.

پـوښـتـنـه : اذان فرض دی که سنت ؟

ځــــواب :اذان سنت دی خوداچې له اذان څخه داسلام يو خاص شان اوبرم ښکاريږي له دې امله پرې ټينګارراغلی.

پـوښـتـنـه : اذان دکومو لمونځو لپاره سنت دی ؟

ځــــواب : دپنځو لمونځو اوجُمعي دلمانځه لپاره سنت دی ، له دې پرته دبل هېڅ لمانځه لپاره سنت نه دی.

پـوښـتـنـه :اذان څه وخت کول پکار دي ؟

ځــــواب :دهرفرض لمانځه په خپل وخت کې کول پکاردي ، اوکه چيرته له وخت دمخه وشي نو دوخت پر راتللو سره بايد دوهم وار بياوشي.

پـوښـتـنـه :داذان مستحبه طريقه کومه ده ؟

ځــــواب :په اذان کې اووه (7) شيان مستحب دي:

1.دقبلې لورته مخامخ په ولاړه دريدل.

2.داذان کلمې ورو ورو له تلوار پرته ويل.

3.داذان په وخت کې په غوږ کې دشهادت دواړه ګوتې په غوږو کې ورکول.

4.پرلوړ ځګای باندې اذان کول.

5.په لوړ غږ سره اذان کول.

6.دحيّ على الصّلاۍ ويلو په وخت کې ښې لورته اود حيّ على الفلاح په وخت کې چپ لورته مخ ګرځول.

7.دسهار په اذان کې دحي الفلاح نه وروسته " الصّلاۍ خير من النّوم " دوه ځله ويل.

پـوښـتـنـه : اقامت څه ته وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : دفرض لمانځه په وخت کې چې کله خلك دجمعې لپاره رابلل کيږي، داّذان کلمې ويل کيږي،خو دحی على الفلاح نه وروسته دقدقامت الصلاۍ کلمې دوه واره داّذان دنوروکلمو نه زياتې ويل کيږي.

پـوښــتـنـه :اقامت ويل څه حکم لري ؟

ځـــــواب : اقامت ويل دفرض لمنځونو لپاره سنت او دنورو لمنځونو لپاره سنت نه دی.

پـوښــتـنـه : آياآذان اواقامت ويل دنارينه اوښځودواړولپاره سنت دی؟

ځـــــواب :نه ! هغه يواځې دنارينه وو لپاره سنت دی.

پـوښــتـنـه :بې اودسه آذان او اقامت ويل څرنګه دي ؟

ځـــــواب :له اوداسه پرته اذان کول روا دي ، خو عادت ګرځول يې ښه نه دي ، او اقامت له اوداسه پرته مکروه دی.

پـوښــتـنـه :که چيرته څوك يو وخت پخپل کورکې فرض لمونځ کوي نو آذان او اقامت به وايي اوکه نه ؟

ځـــــواب :دکلي دمسجد آذان او اقامت کافي دی ، خو که چيرته يې ووايي نو ښه دی.

پـوښــتـنـه :مسافربه دسفر په حال کې اذان او اقامت وايي اوکه نه ؟

ځـــــواب :هو ! دسفر په حال کې کله چې له آبادۍ څخه دباندې وي آذان او اقامت دواړه ويل پکاردي . خو که چيرته اذان ونکړي او يواځې اقامت ووايي نو بياهم هيڅ پروا نه لري ، خو ددواړو پريښودل مکروه دي.

پـوښــتـنـه :که آذان يو سړی وکړي او اقامت بل ووايي نو دا روادي اوکه نه ؟

ځـــــواب :که مؤ ذن نه وْ او ياهم وْ خو دد وهم کس په اقامت ويلو سره نه خفه کېده نو بيا روا دی ، او که چيرته دموٌذن خوښه نه وي نوبيامکروه دی.

پـوښــتـنـه :ترآذان څومره وروسته اقامت ويل پکاردی ؟

ځـــــواب :دماښام له آذان پرته په نورو ټولو وختوکې دومره وروسته والی پکاردی ترڅو هغه کسان چې په خوراك ، څښاك ، يا قضاي حاجت او بولو بوخت وي هغوی فارغه او په لمانځه کې ګډون وکړای شي.

پـوښــتـنـه :داّذان او اقامت دواړو ځـواب څه ډول وي اوحکم يې څه دی ؟

ځـــــواب :داّذان او اقامت دواړو اجابت (ځـواب ورکول) مستحب دي، داجابت او ځواب معنادا چې : اوريدونکی هم هغه کلمې ووايي کومې چې مؤذن او يا يې مکبر وايي خو حیّ على الصّلاۍ او حیّ على الفلاح چې واوري نو لاحول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاقوّیۍ ږلا بالله ویل پکارده اود سهار په آذان کې چې الصّلاۍ خیر من النّوم واوري نو صدّقتَ و بررتَ ویل په کار دي ، او په اقامت کې چې قدقامتِ الصّلاۍ واوري ډقامها الله وډدامها ویل پکاردي.

پـوښـتـنـه :له آذان نه وروسته کومه دعاء ویل پکاردی ؟

ځـــــواب :له آذان وروسته دې دا دعا ووایي:

ډللهمّ ربَ هـذه الـدّعوۍ التّامۍ والصّلاۍ القائمۍ اتِ مـحمدٍ الـوسیلۍ والـفضیلۍ وابـعثه مـقاماً مـحموداٍ الـذي وعـدّته ږنـك لاتـخلف الـمیعاد.

ای خدایه ! ددغې کاملې بلنې او ربدونکي اولمانځه پالونکیه ! محمد eته وسیله (دجنت یوه درجه) ورکړه، اولویي وروبښه ، محمود مقام ته یې ورسوه هغه چې تا ورسه لوز (وعده) کړې په تحقیق سره ته دخپلې وعدې پالونکی یې
.

دلـمـانـځـه درکـنـونـو بیـان

پـوښـتـنـه : ارکان څه ته وایي ؟

ځــــواب : په لمانځه کې ځیني داسې خبرې شته چې کول یې

فرض دي او ارکان ورته وایي ، ارکان درکن جمع ده ،اورکن دفرضو په معنا سره راځي.

پـوښـتـنـه :په لمانځه کې دننه څو فرضونه دي ؟

ځـــــواب :شپږ:

لـومړی : تکبیر تحریمه یااولی تکبیر (الله اکبر).

دوهـم : قیام (ولاړه).

دریـم : قرائت (قران کریم ویل).

څـلورم : رکوع.

پـنـځـم : دواړه سجدې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم : آخره قعده (یانې دلمانځه په آخرکې دالتحیات په مقدار سره کیناستل) ، خو تکبیر تحریمه شرط دی رکن نه دی.

پوښتنه : کله چې تکبیرتحریمه شرط دی اورکن نه دی نو بیا ولې دمخکنیو شرطو نوسره یوځای بیان نه کړای شو ؟

ځواب :څرنګه چې دتکبیر تحریمه اودلمانځه دنورو ارکانو ترمنځ کومه فاصله نه شته او لمونځ هم په همدې تکبیر سره پیلیږي ځکه نو دلمانځه دنورو ارکانو سره یوځای دتکبیر تحریمه بیانول راته مناسب ښکاره شول.

دتکبیر تحریمه بیان

پوښتنه : دتکبیرتحریمه نه مقصدڅه دی ؟

ځواب :دنیت تړلو په وخت کې چې " الله اکبر" وویل شي په دې سره لمونځ پیلیږي اوخبرې چې لمونځ پرې باطلیږي هغه حرامیږي ، له دې امله ورته تکبیر تحریمه وایي.

پوښتنه :که دفرض لمانځه له نیت نه وروسته تکبیر تحریمه په کړوپه ملا وویل شي نو لمونځ کیږي اوکه نه ؟

ځواب :نه ! ځکه چې دتکبیر تحریمه په وخت کې په فرض او واجب لمنځونو کې چې کله عذر نه وي نیغ درېدل شرط دي.

دلمانځه دلومړي رکن

قیام (درېدلو) بیان

پوښتنه : دقیام (درېدلو) څخه مقصد څه دی ؟

ځواب :قیام ودرېدا ته وایي ، او دودرېدا څخه مقصد داسي ولاړه ده چې لاسونه ترځنګنو پورې ونه رسیږي.

پوښتنه :په لمانځه کې درېدل څومره اوپه کوملمنځوکې فرض ده؟

ځواب : په فرض اوواجب لمنځو دواړو کې دومره ودرېدافرض ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

، چې دفرض په مقدار سره قرائت وویل شي.

پـوښــتـنـه : که دولاړي طاقت نه وي نو بیا به څه کوي ؟

ځـــــواب :که دناروغۍ یادزخم یا ددښمن له وېرې یا دهمداسي یو بل غټ عذر په وجه یو څوك نه شي دریدلی نو په ناسته سره فرض او واجب لمونځ کولای شي.

پـوښــتـنـه : په نفل لمانځه کې دودرېدلو حکم څه دی ؟

ځـــــواب :په نفل لمانځه کې ودرېدل فرض نه دی ، له عذره پرته په ناسته سره هم نفل لمونځ کیږي خوله عذره پرته په ناسته سره په نفل لمانځه کې نیمايي ثواب وي.

دلـمـانـځـه ددوهـم رکـن

(قـرائـت) بـیـان

پـوښــتـنـه :دقرائت معنا څه ده ؟

ځـــــواب :قرأت دقرآن کریم ویلوته وایي.

پـوښــتـنـه :په لمانځه کې څومره قرآن کریم ویل ضروري دي ؟

ځـــــواب :کم ترکمه یوآیت ویل فرض دي اوسورت فاتحه (الحمدلله) ویل واجب دي، دفرضو په لومړیو دوو رکعتو اودوترو ، سنتو اونفلو په ټولورکعتونوکې له سورت فاتحې وروسته بل سورت یا یو لوی آیت او یا هم دری واړه ایتونه ویل واجب دي.

پـوښــتـنـه :آیا دسوره فاتحې ویل په هر رکعت کې واجب دي ؟

ځـــــواب : دفرض لمانځه له دریم اوڅلورم رکعت نه پرته په هر لمانځه کې که هغه فرض، واجب ،سنت اویاهم نفل وي، ددې ټولو لمنځونو په هر رکعت کې دسورت فاتحې ویل واجب دي.

پـوښــتـنـه :که چیرته دسړي یو آیت هم یادنه وي نو څه به کوي ؟

ځـــــواب :سبحان الله یا الحمد لله دې د قرائت په ځای وایي او پرده باندې ژر ترژره دقرآنکریم زده کړه او یادول فرض دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفرض قرائت په اندازه دقرانکريم يادول پرې فرض اودواجب قرأت په اندازه پرې واجب دى ، اودنه زدکولو په صورت کې به ډير زيات گناه گاروي.

پـوښـتـنـه : قرآّن کريم دکوم وخت په لمنځونو کې په زوره ويل پکاردي ؟

ځــــواب : په امام باندې واجب دي چې دماښام اوماخستن د لمانځه په اولو دوو رکعتو اودسهار، جُمعې او اخترونوپه ټولو رکعتو، او همدراز دروژې په مياشت کې په تراويح او وتروکې په لوړغږ (جهر)سره قرأت ووايي.

پـوښـتـنـه : په کومو لمنځوکې په ټيټ آّواز سره قرائت ويل پکاردي ؟

ځــــواب :دماسپښين اومازديگر په لمانځه کې امام او منفرد ټول ، اوپه وترو کې يواځې منفرد بايدقرائت په ټيټ غږسره ووايي.

پـوښـتـنـه : په لوړغږسره دقرائت ويلو اندازه څومره ده ؟

ځــــواب : کمه درجه يې داده چې ده ته نژدې سړى يې غږ واوري ، اودټيټ غږويلو کمه درجه داده چې خپل اوازيې ترغوږو ورسيږي.

پـوښـتـنـه : په کومو لمنځونوکې چې په لوړغږ قرأت ويل کيږي هغو ته څه وايي ؟

ځــــواب :هغو ته جهري لمنځونه وايي ځکه چې دجهر مانا ده په لوړغږ سره ويل.

پـوښـتـنـه : په کومو لمنځونوکې چې قرأت په ټيټ غږ ويل کيږي هغوته څه ويل کيږي ؟

ځــــواب :هغو ته سري لمنځونه وايي ، ځکه چې د سري ماناده په ټيټ غږ او په کراره ويل.

پـوښـتـنـه : که يوڅوك په ژبه سره دقرائت الفاظ ونه وايي يواځې يې په خيال کې ووايي لمونځ يې کيږي اوکه نه ؟

ځــــواب : نه ! په خيال ځغلولو سره لمونځ نه کيږي ، بلکې په ژبه سره ويل يې ضروري دي.

دلـمـانـځـه د دريـم اوځـلـورم رکن

(رکـوع ،سجـدې) بـيـان

پـوښـتـنـه : دركوع کمه اندازه څومره ده ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـــــواب : درکوع کمه اندازه داده چې ملاکږوپه او ورغوي ځنګنو ته ورسيږي.

پـوښــتـنـه : درکوع مسنونه طريقه څه ډول ده ؟

ځـــــواب : دومره کږوپيدل چې سراوملادواړه برابرشي ځنګلې له تشيونه لري وي اوځنګنونه بايد په دواړو ورغويو ونيول شي.

پـوښــتـنـه : که چيرته دسپين ږيرتوب ياد بل څه له امله ملا دومره کږو په شي چې درکوع شکل ته ورته شي نو بيابه رکوع څه ډول کيږي ؟

ځـــــواب :په سر سره دې اشاره کوي داسي چې يواځې سر لږ ښکته کړي نو رکوع يې کيږي.

پـوښــتـنـه : له سجدې نه مقصد څه دی ؟

ځـــــواب :پرځمکه باندې تندی ايښودلو ته سجده وايي.

پـوښــتـنـه :که څوک يواځې په پزه ياتندي باندې سجده وکړي نو سجده يې کيږي اوکه نه ؟

ځـــــواب :که چيرې دعذر له امله داسې وکړي نو بيا داروادي ، اوکه له عذره پرته يواځګې پرتندي باندې سجده کوي سجده يې کيږي خو داکار مکروه ده ، اوله عذرپرته يواځې پرپزه باندې سجده نه کيږي.

پـوښــتـنـه : په هر رکعت کې يوه سجده فرض ده اوکه دواړه ؟

ځـــــواب :دواړه سجدې فرض دي.

پـوښــتـنـه :که چيرته تندی اوپزه دواړه زخمي وي نو بيا به سجده څه ډول کيږي.

ځـــــواب :دداسي خلکو سجده يواځې دسر په ښورولوهم کيږي.

پـوښــتـنـه : ددواړو سجدو په منځ کې به څومره وخت کښيني ؟

ځـــــواب :له لومړۍ سجدې وروسته دې په ډاډه زړه کښيني اوبيا دې دوهمه سجده وکړي.

پـوښــتـنـه :که چيرته داخترونو يادجُمعې اوياهم په يوه بله ستره غونډه کې دخلکو دزياتوالي له امله که ځای تنګ وو،د شاتني سړی سجده دمخکني سړي په شاباندې کيږي اوکه نه ؟

ځـــــواب : کيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلـمـانـځـه دپـنـځـم رکـن

(آخري نـاسـتـې) بـيـان

پـوښـتـنـه :په اخيره قاعده کې څومره اندازه ناسته فرض ده ؟

ځـــــواب :دالتحيات د آخري تورو (عبده ورسوله)ترويلو پورې ناسته فرض ده.

پـوښـتـنـه :اخيره قاعده په کومو لمنځونوکې فرض ده ؟

ځـــــواب :په ټولو لمنځونوکې فرض ده که هغه فرض ، واجب ، سنت اويا هم نفل وي.

دلـمـانـځـه دواجـبـاتو بيـان

پـوښـتـنـه : دلمانځه واجبات کومو خبروته وايي ؟

ځـــــواب :دلمانځه واجبات هغو خبرو ته وايي چې کول يې په لمانځه کې ضروري وي ، که چيرته له چا څخه يو واجب په هيره سره پاته شي نو دسجده سهوه په کولو سره يې لمونځ بيرته سهي کېدلی شي ، اوکه په هيره سره ديو واجب له پاته کيدو وروسته بيا هم سجده سهوه ونه شي او ياهم په لوی لاس يو واجب پريښودل شي ؛ دلمانځه بياراګرځول واجب دي.

پـوښـتـنـه : دلمانځه واجبات څو دي ؟

ځـــــواب :دلمانځه واجبات څوارلس (14) دي:

(1دفرض لمانځه په لومړيو دوو رکعتونو کې قرائت ويل.

(2دفرض لمانځه له دريم اوڅلورم رکعت څخه پرته دهرلمانځه په ټولو رکعتونوکې سورت فاتحه ويل.

(3دفرض لمانځه په اولو دوو رکعتونوکې اودواجبو ، سنتو، اونفل لمنځګونو په ټولو رکعتونوکې له سورت فاتحې نه وروسته يو سورت يا يوغټ آيت اويا درې واړه آيتونه ويل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

4)د سورت نه مخکې فاتحه ویل.

5)دلمانځه دبرخو (قرأت، رکوع ، سجدي) او ټولو رکعتونو ترمنځ د ترتیب لحاظ ساتل داسې چې ترپایه پورې په ترتیب سره یوپربل پسې اداشي.

6)قومه کول ، یعني درکوع څخه نیغ ولاړیدل.

7)جلسه (ددواړو سجدو په منځ کې سمه ناسته کول.)

8)دلمانځه دارکانو تعدیل یعني چې رکوع، سجده اودلمانځه نور ارکان په ښه ډاډه زړه او ښه توګه سره اداکول

.

9)ړومبۍ قعده یانې په درې اوڅلور رکعتي لمونځونوکې له اولو دوو رکعتونو څخه وروسته د تشهد (دالتحیات) په مقدار سره کیناستل.

10)په دواړو قعدوکې تشهد (التحیات) ویل.

11)دامام لپاره دسهار ، ماښام ، ماخستن ، جُمعې، اخترونو، تراویح ، او روژې مبارکه په وتروکې په زوره " په لوړاواز" قرأت ویل.

12)د سلام په لفظ سره له لمانځه څخه وتل.

13)په وتروکې دقنوت لپاره تکبیر اوبیا دعاء قنوت ویل.

14)ددواړو اخترونو په لمنځونوکې زائد تکبیرونه ویل.

دلـمـانـځـه دسنـتـو نو بـیــان

پـوښــتـنـه : دلمانځه سنتونه کومو خبرو ته وايي ؟

ځـــــواب :په لمانځه کې چې دکومو شیانو ترسره کول له پیغمبر e نه

ثابت وي ، خوتېنګارپرې دفرضو او واجبو د درجې هومره نه وي راغلی سنت ورته وايي که چیرته یوسنت په هیره سره پاتې شي نو نه لمونځ فاسدیږي اونه سجده سهوه واجبیږي اونه هم ګناه لري ، اوکه په لوی لاس سره پرېښودل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي نوکه څه هم نه لمونځ پرې فاسديږي اونه دسهوې سجده پرې واجبيږي خو پريښوونکی يې دملامتۍ وړ بلل کيږي.

پـوښـتـنـه : په لمانځه کې څو سنتونه دي ؟

ځــــواب : په لمانځه کې يو ويشت (21) سنتونه دي:

_1له تکبير تحريمه مخکې دواړه لاسونه غوږو ته وړل.

_2ددواړو لاسو ګوتې پرخپل حال باندې خورې پريښګوول او قبلې ته يې مخامخ کول.

_3دتکبيرپه وخت کې سرنه ښکته کول.

_4دامام لپاره تکبير تحريمه اوديوه رکن څخه بل رکن ته دتلو په وخت کې دضرورت په اندازه ټول تکبيرونه په لوړغږ سره ويل.

_5دښی لاس ورغوی د چپه لاس پرخپړه دپاسه ايښودل.

_6ثناء (سبحانك اللهم) ويل.

_7تعوذ (اعوذ بالله) ويل.

_8تسميه : بسم الله ويل.

_9دفرض لمانځه په دريم اوڅلورم رکعت کې يواځې د فاتحې ويل.

_10آمين " ويل.   "

_11ثنا ، تعوذ، بسم الله، اوآمين ټول په ټيټ غږ ويل.

_12له سنتو سره سم قرائت ويل ، پدې معنی چې په هر لمانځه کې په څومره اندازه دقرانکريم ويل سنت وي هغومره اندازه يې ويل.

_13په رکوع اوسجده کې دری د ری واره تسبيح ويل.

_14په رکوع کې د سر اوملا برابروالی او دواړه ورغوي پرځنګنو کلك ايښودل پداسې حال کې چې دلاس ګوتې خورې وي.

_15په قومه کې امام لپاره " سَمِعَ اللهُ لمن حمده " او مقتدي لپاره " ربّنا لك الحمد" ويل ، او منفرد لره تسميع او تحميد دواړه ويل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

_16دسجدې پر وخت لومړی دواړه ځنګنونه پرځمکه لګول اوبیا دواړه ورغوي ، بیا پزه اوبیا تندی.

_17په جلسه اوقعده کې چپه پښه در ول او پرې کښیناستل ، اوښی پښه داسې درول چې دګوتو سرونه یې دقبلې لور ته وي ، او دواړه لاسونه پر ورنو ایښوول.

_18په تشهد کې پر " ﭐشهد ﭐن لاﭐله ﭐلاالله " باندې دشهادت په ګوته سره اشاره کول.

_19په آخره ناسته (قعده)کې له تشهد وروسته درود ویل.

_20له درود وروسته دعاء ویل.

_21اول ښي ، بیا چپ لورته سلام ګرځول.

دلمانځه د مستحباتوبیان

پوښـتـنـه : په لمانځه کې څو شیان مستحب دي ؟

ځــــواب :په لمانځه کې پنځه شیان مستحب دي:

_:1دتکبیرتحریمه په وخت کې له لستوڼو څخه ددواړو خپرو راایستل.

_:2دمنفردلپاره له درې واره زیات تسبیح ویل.

_:3دولاړې په حال کې دسجدې ځای ، په رکوع کې دپښو خپرو، په جلسه اوقعده کې خپلې سینې، اودسلام په وخت کې خپلو اوږوته کتل

_:4په خپل پوره توان سره ټوخی نه کول.

_:5دارږمي په وخت کې خوله بندول ، اوکه خلاصه هم شي نو دقیام په حال کې یې په ښي لاس سره اوپه نورو حالاتو کې د چپه لاس په خپره سره بندول.

دلـمـانـځه کولـو پـوره طـریـقـه

کله چې دلمانځه اراده وکړې ، نو لومړی خپل ځان له هرې غټې او وړې ښکاره بې اودسۍ څخه پاك کړه ،پاکې جامې واغونده پرپاکه ځمکه قبلې ته مخامخ داسې ودریږه چې د دواړو پښو په منځ کې دې فاصله دڅلورو ګوتو په اندازه اویا دېته نږدې وي.

کوم لمونځ چې کوې دهغه نیت په زړه کې وکړه ، لکه : دسهار فرض لمونځ خاص خدایه تالره کوم اوکه یې په ژبه سره ووایې نو هم ښه خبره ده ، بیا دواړه لاسونه غوږوته وروړه، دلاس ورغوي اوګوتې قبلې ته مخامخ کړه ، او بټې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوتې دغوړو نرمیو ته یوسه په داسې حال کې چې ګوتې دې خورې وي ، اوس نو " الله اکبر " ووایه ، دواړه لاسونه د نامه له غوټې لاندې وتړه داسې چې دښی لاس ورغوی باید دچپه لاس پر خپړه باندې راشي ، دبټې او خچنۍ ګوتې نه کړۍ (حلقه) جوړه او چپه لاس پرې ونیسه.

پاته دری ګوتې باید دمړوند له پاسه وي او نظردې باید د سجدې پرځای باندې وي ، لاسونه به دې همداځېر تړلي وي اوپه ټېټ غږ ثناء ووایه بیا تعوذ، بیا تسمیه، او سورت فاتحه ووایه ، کله چې سورت فاتحه خلاصه شوه نو په ټېټ غږ " آمین" ووایه ، بیا یوسورت یا غټ آیت اویا دری کوچني آیاتونه ووایه.

خوکه چیرته په امام پسې ولاړوې؛ نو بیاترثناء وروسته چوپ اوسه اوچې امام څه وایي په چوپه خوله یې واوره تعوذ،تسمیه، سورهٔ فاتحه، اوسورت هیڅ شی مه وایه.

قرائت په ډاډه زړه او سهي طریقه سره ووایه چټکتیا پرې مه کوه ، بیا الله اکبر ووایه رکوع ته لاړشه ، ګوتې خورې کړه اوپه ورغوي ځنګونونه کلك ونیسه ،اوملا داسې آواره کړه که چیرته داوبو ډکه کاسه پرې کښیښبودل شي هغه هم روغه په خپل حال پاته شي سر له ملا سره داسې برابرکړه چې نه لوړ ه اونه ښکته وي.

لاسونه دې باید له تشیونه لرې وي ، پنډۍ باید نیغې کړې ،بیا په رکوع کې درې واري اویاهم پنځه وارې تسبیح ووایه بیاتسمیع ووایه او نیغ ودریږه تحمید هم ووایه ، امام به یواځې تسمیع اومقتدي به یواځې تحمید وایي ، اومنفرد دې تسمیع او تحمید دواړه ووایي.

بیاتکبیرووایه اوسجدې ته لاړ شه دسجدې پروخت اول دواړه ځنګنونه پرځمکه ولګوه، بیا دواړه لاسونه ، بیا پوزه بیا تندی اومخ موباید ددواړه لاسونو تر منځ دسجدې پرځای اوبټې ګوتې مودغوړو مخامخ وي ،د لاسو ګوتې دې باید سره نښتې وي ترڅو یې سرونه دقبلې لورته شي ،ځنګلې له پښتیو او نس (خېټه) له ورنو اوځنګلو لرې وي ، اوځنګلې پرځمکه مه خملوه ، په سجده کې درې یا پنځه واره دسجدې تسبیح ووایه.

دسجدې نه دراپورته کېدو په وخت کې لومړی تندی ، بیا پوزه، بیا لاسونه راجګ کړه ، تکبیر ووایه پورته شه ، اونیغ کښینه ، بیاتکبیر ووایه دوهمه سجده دلومړي هغې په څېروکړه ، بیا تکبیر ووایه اوراپورته شه په راپورته کېدو کې لومړی تندی بیاپوزه، بیاځنګنونه راجګ کړه اودپښوپرپنجو باندې نیغ ودریږه لاسونه وتړه اوبسم الله ، سورت فاتحه او یو سورت ووایه (که په امام پسې ولاړوې نو هیڅ مه وایه هرڅه په چوپه خوله واوره) بیا په همغه ترتیب سره رکوع ،قومه، سجده ، جلسه اودوهمه سجده وکړه.

له دوهمې سجدې نه چې راپورته شوې چپه پښه څملوه پرې کښینه ، ښۍ پښه داسې ودروه چې دګوتو سرونه یې قبلې ته مخامخ وي، اوس نو دواړه لاسه پر ورنو باندې کښیږده او التحیات ووایه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

كله چې ډشهد ډن لا ډله ډلاالله ته ورسېدې نو د بټې او دمنځنۍ ګوتې نه حلقه جوړه کړه اودشهادت ګوته پر"لاډله"باندې پورته اوپر" ډلا الله" باندې یې ښکته کړه اوګوتې تراّخره پورې همداسې ترلې وساته.

تشهدچې ختم کړې که چیرته لمونځ دوه رکعته وْ نودرود شریف ووایه بیادعا ووایه ، لومړی ښي ا و بیاچپ لورته سلام وګرځوه ، د سلام ګرځولو په وخت کې لومړ ښي لورته مخ وګرځوه او بیاچپ طرف ته هم مخ ورسره وګرځوه.

ښي لورته دسلام ګرځولو په وخت کې دې دښي لوردملائکو اولمونځ کوونکو نیت وکړه او چپه لورته دسلام ګرځولو په وخت کې دې دچپه لور دملائکو او لمونځ کوونکو نیت وکړه ، اوپه کومه خوا کې چې امام وي دهغه لور په سلام ګرځولو کې دامام نیت هم وکړه.

او امام باید په دواړو سلامونوکې دمقتدیانو نیت وکړي.

اوکه چیرته لمونځ درې یا څلور رکعتیه وي نو له تشهد وروسته درود مه وایه ، بلکې تکبیر ووایه او ودریږه ، دریم اوڅلورم رکعت که دفرض لمانځه وي دفرضو له ترتیب سره اوکه واجب یاسنت یا نفل لمونځ وي دهغو له ترتیب سره سم یې پوره کړه ، اوسلام وګرځوه ، له سلام وروسته دا دعا ووایه : " ډللـهمّ ډنـت السّلام ومـنك السّلام، تبارکت یـا ذالـجلال و الډکـرام"

ای خدایه ! ته سلامتیاورکونکی یې، اوسلامتیاهم دتاله لورې ده ، ته دبرکت څښتن یې ای دلویې اوشان څښتنه!

"اللـهم ډعنّي على ذکــــرك وشـكرك وحسـن عبادتك" [ابوداود]

ای خدایه ! له ماسره مرسته وکړه ترڅو تایاد (ذکر) کړم ، ستا شکراداکړم، ستاینه اوبندګي دې وکړم.

او دادعا ویل هم مسنون دي " لاډله ډلاالله وحـده لاشـریك لـه ، لـه الـملك ولـه الـحمد ،وهـو على كلّ شئٍ قـدیر [بـخاري- مسـلم]

له خدایه پرته بل معبود نشته هغه یواځې دی سیال نه لري، پاچاهي اوتمامې ستاینې هغه لره دي، په هرشي قادردی.

اللّـهمّ لامـانع لـما ډعـطیت ولا مـعطی لـما منــعت ولایـنـفع ذالــجد منـك الـجد " [بـخاري – مسـلم]

ای خدایه ! څه شی چې ته ورکوې هیڅوک یې مخه نه شي نیولی، اوڅه شی چې ورکول نه غواړې هیڅوک یې ورکولای نه شي، اودمالداره سړي مالداري ستاله عذابه دخلاصون په لار کې هغه ته هیڅ ګټه رسولای نه شي

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library